

# همدا اسلام دی

دغه اسلام دی

په نړۍ کې تر ټولو چټک خپرېدونکو دینونو ته ژوره کتنه

THIS IS ISLAM



د فضا څخه د مسلمانانو هغه اخیستل شوی انځور چې هغوی کعبې ته مخ اړولی، هغې کعبې ته چې الله پاک ابراهیم علیه السلام ته د هغې د جوړولو امر کړی، او مسلمانانو ته یې امر کړی چې هر لمونځ کې ورته مخ واړوي.

THIS IS ISLAM

ح دار الدليل المعاصر للنشر والتوزيع ، ١٤٤١هـ

*فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر*
باهمام ، فهد بن سالم
هذا هو الإسلام - بيشتو / فهد بن سالم باهمام - الرياض ،١٤٤١هـ
١٧٠ ص ، ٢٢ X ١٥ سم
ردمك: ٦-٧-٩١٣٧٢-٦٠٣-٩٧٨

١- الاسلام - مبادىء عامة أ. العنوان
ديوي ٢١١ ١٤٤١/٢٦١١

رقم الإيداع : ١٤٤١/٢٦١١
ردمك: ٦-٧-٩١٣٧٢-٦٠٣-٩٧٨

# همدا اسلام دی

دغه اسلام دی
په نړۍ کې تر ټولو چټک خپریدونکو دینونو ته ژوره کتنه

**Fahd Salem Bahammam**

ټول حقوق يي د الدليل المعاصر شركت
سره خوندي دي

- آیا تاته دا مهمه نه ښکاري چې د یو داسې دین چې انځور یې په رسنیو کې ډېر ستونزمن ښکاري په ډېره ډاګیزه بڼه وګورئ؟..
- آیا دا لائقه نده چې یو شېبه ولاړ شئ په ژوره بڼه هغه دین چه د نړیوالو شمېرنو موافق په ډېره چټکې په خپرېدو دي، او ډېر زر یې خلک منې وپېژنئ؟..
- آیا د نورو قومونو د کلتورونو او فلسفو څخه په ځان خبرولو خوند نه اخلئ چې هغوی یې د دین ژوندانه او نورو موجوداتو باره کې لري؟....
- آیا ځان ته د دي فرصت ورکوي چه د دین اسلام په باره کې کره معلومات له خپلو سرچینو نه لاس ته راوړي، او بیا پرې د خپل عقل او منطق فیصله وکړئ؟

که چیرته ته اوګوری او یا یو مهم شی له دی څخه، او یا زړه پوری شی، نو دا کتاب به تا سره کمک اوکړي.



## د کتاب موضوعات


12 —— هغه پوښتنې چې مونږ ټول يې فکرمند کړي يو..
● د اسلام دين ● د اسلام د کلمې معنی ● اسلام د ټولو پيغمبرانو دين دی

18 —— د اسلام نړيوالتوب
● د چاپيريال ته پاملرنه د ايمان برخه ده ● د پوهې دين
● اسلام د انسان لپاره هر اړخيز دين دی ● د اړيکو او ګډون دين

36 —— يو خالق.. يو معبود
● د شريعت قانون او طبيعت قانون ترمينځ ● پاړوګري په اسلام کې نشته
● آيا اسلام ته د ننوتلو کوم ځانګړي دود شته؟

46 —— پيغمبران په حقيقت کې څوک دي؟
● د پيغمبرانو بشريت ● د رسولانو د مقام په هکله اعتدال
● د رسولان په هکله د اسلام دريځ

50 —— د عيسی عليه السلام په هکله د اسلام دريځ

56 —— د اسلام دين پيغمبر څوک دی؟
● په لنډو ټکو کې د اسلام د پيغمبر پيژندګلوي

62 —— محمد رسول الله د منصفينو په نظر کې





94 قرآن له کوم ځاي نه راغلی؟

دا يوه منطقي پوښتنه ده چې مغزو ته مو راځي کله چې د محمد ج او مسلمانانو د مقدس کتاب په هکله خبري کوو؛ نو ولي بايد د مسلمانانو خبري په دې هکله ومنو؟ آيا مونږ د دې پوښتنو حق نه لرو؟



122

## کورنۍ په اسلام کې

په اوسني وخت کې په زیات شمېر کورنیو دا تعریف رښتیا کېږي چې کورنۍ د یوې ډلې افرادو څخه عبارت ده چې د یو کور څو کلي گاڼي لري!


د محمد رسول الله له کیسو او اخلاقو څخه —— 68

- تواضع (خاکساري) • رحم کول • د هغه عدل کول • د هغه صبر او حلم
- ښیگړه او سخاوت • په دنیا کې بې‌رغبتي • وفاداري

د محمد رسول الله له ویناو څخه —— 78

قرآن کریم د اسلام ژوندۍ معجزه —— 86

- په یادولو کې یې اعجاز دی • د بیانیې او اروایې اعجاز

قرآن له کوم ځای نه راغلی؟ —— 94

- په وار وار تورونه • مونږ یې ولې یو نابغه توب نه گڼو
- ښایي هغه له کتابونو بیا تسوید شوی وي
- یو بیلونکی تاریخي حقیقت
- د هر خپله پایلي خبره

په اسلام کې د عبادتونو حقیقت څه دی؟ —— 104

- د اسلام ارکان • ولې مکلفیت او ازمیښت؟
- لمونځ • زکات • روژه • حج

کورنۍ په اسلام کې —— 122

- اسلام د واده په اصل او د کورنۍ په جوړښت ټینگار کړی دی
- اسلام د کورنۍ د هر غړي که نارینه وي یا ښځینه پوره درناوی کوي
- اسلام پلارانو او میندو ته د احترام او درناوي، دهغوی د مرگه پورې د ساتنې او اطاعت کولو داصل په کرلو ټینگار کړی دی
- د هلکانو او نجونو د حقوقو د ساتنې او دهغوی په نفقه کې د عدالت امر کړی دی
- اسلام په مسلمان باندې د خپلوي پالل (صله رحمی) فرض کړی دی

128 —— په اسلام کې د ښځې مقام
- د ښځو ته د درناوي احکامو ځینې مثالونه په لاندې ډول دي
- هغه ښځې چې اسلام ورته ځانګړې پاملرنه کړې ده
- په اسلام کې د ښځې او نارینه تر منځ د جګړې هیڅ ځای نشته دی
- د نارینه او ښځې تر منځ اړیکې
- په اسلام کې د سړیو او د ښځو و د اړیکو ماهیت
- د سړي او پردی ښځې د اړیکو ضوابط او اصول
- ولې اسلام د پردو نارینه و وراندې حجاب امر کړی دی؟

138 —— په خوړو او څښلو کې د اسلام قانون
- خوګ (خنزير)
- الکحول او شراب
- قرآن له الکحول او شرابو سره څه ډول چلند وکړ؟

144 —— ګناه او توبه

150 —— د دین او عقل دویالي
- د قرآن کریم له مخې د سالم فکر خندونه

156 —— اسلام د سولې دین دی
- نن اسلام تر ټولو زر خپریدونکي دین ګڼل کیږي
- آیا خلك اړ شوي چې اسلام راوړي؟

162 —— د اسلام او د ځینو مسلمانانو د واقع تر مینځ
- یوه نوې زاویه




150

## د دین او عقل دویالي

ځینې دا ګومان کوي چې دین له عقل او له علمي تګلاري سره ټکر لري؛ ځکه د دوی په لید د دین سرچینه اوهام، افسانې او خرافات د




## زمونږ

زمونږ څخه داسې څوک هم شته چې په ټول عمرکې یې د خپل لځان څخه دا پوښتنې نه وي کړي؟ کیسه څه ده؟ زه څوک یم؟ له کومه راغلی یم؟ او چیرته به ځم؟ او زما د اخرې ورتګ ځای به څه وي؟ د دې ټول شتون موخه څه ده؟ او بیا دا دومره هلې ځلې پدې دنیا کې ولې کوم چې پایښت مو مرګ خاوري او ختمیدل وي؟!

مسلمانان او د نورو دینونو منوونکي په دې باور لري چې د انسان داسې ژوند چې پر یو با انصافه پیدا کونکی ذات، او د یوې بلې ژوند چې نیک عمله ته په کې د نېکۍ بدله او بد عمله د بدۍ سزا ومومي- ایمان ونه لري- نو د انسان دغسې ژوند بیخي بې فایدې ده، او داسې عذاب او درد ده چې عوض نه لري، او داسې خطر سره ځان مخامخ کول دي چې کومه ګټه ترې لاس ته نه رازي.

> تر څو چې مونږ په الله عزوجل باندې ایمان ونه لرو تر هغه ادا نشي کېدی چې د ژوند ټیټ والي او لوړوالی، او د سخت ژوند ، ښه او بد باندې پوه شو.

او له دې سره د ژوند د یو بل سره مخالفو احوالو — او د ژوندانه د سختېو او د ښه او بد او تکلیفونو په حقیقت تر هغې نه پوهیږو تر څو مو چې په داسې پالونکي ایمان نه وي راوړي چې پیدا کونکی، حکمتونو والا او عادل ذات دې، چې د دې ژوند لپاره داسې پای ګرځولي ده چې هر شخص ور په کې د خپل وړاندې کړي عمل بدله مومي.

> د اسلام لفظ په عربی ژبه کې، په ډېرو معناو سره تعبیر شوی، لکه تسلیمدل،عاجزي،اطاعت،اخلاص، امن، اطمینان او داسی نور.

هغه مهال به په ټولو هغه ارزښتونو او حقیقتونو چې مونږ ورته بلنه کوو لکه: انصاف، مینه، په یو بل شفقت کول، رښتیا، صبر، او رحمت باندې ژور ایمان یو حقیقت وي، او بیا به ننګونه یوه مانا لري، او دیو کار سرته رسول به خوند لري او صبر به خوږوالی.

مونږه د مسلمانانو مقدس کتاب قرآن کریم وینو چې دغې خبرې ته اشاره کوي، الله جلاله راته په قرآن کې د عقل او فکر له خاوندانو داسې نقل کوي: ﴿وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذَا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ﴾ (آل عمران: ۱۹۱) «دوی د اسمانونو او ځمکې په پیدا کونه کې ښه فکر کوي چې ای زمونږه ربه! تا دا عبث نه دي پیدا کړي، تا له پاکي ده».



## د اسلام دین

په ځمکه کې د ډېرو دینونو نومونو نسبت یا یو شخصیت ته شوي وي یا هم یو ډلې یا هم هغه هیوادنو ته چې په کوم کې دغه دین را ښکاره شوي وي، لکه مسیحیت چې نوم د مسیح عليه السلام څخه اخیستې شوی دی، او یهودیت چې نسبت یې د یهوذا قبیلې ته شوی دی، او بودایزم چې نوم یې د مؤسس د نوم بوذا څخه اخستل شوي دي، او هندوییزم چې نسبت یې هندوستان ته شویدي او داسې نور...

خو د اسلام بیا کوم ځانګرې سړي، قوم یا نژاد او ملت ته نسبت نه دی شوی؛ ځکه دا دین د بشریت کوم ملت پورې ځانګړی نه دی چې هغوی ته نسبت اوشي، او نه کوم شخص د ځان څخه جوړ کړی چې هغه ته نسبت وشي، نو ځکه ورته اسلام واي.

## د اسلام د کلمې معنی

په عربی ژبه کې د اسلام یو شمېر ماناګانې دي لکه: غاړه ایخودل، عاجزي، تابعداري کول، اخلاص، د یو څه نه په امان کېدل، یا ډاډ اطمېنان.

اسلام: خپل ښتن (پالونکي) پیدا کونکي او اختیارمند ذات ته ځان سپارل دي او د هغه پوره تابعداري کولو ته وایي چې د بل هر چا د بندګۍ او غلامۍ څخه آزاد شي.

او د دې مانا تایید د قرآن کریم په یو شمېر آیاتونو کې راغلي دی.

قرآن مونږ ته رابښیي: چې څوک الله ﷻ ته په زړه او اندامونو متوجه شو، هغه ته یې عاجزي وکړه او ځان د هغه تابع کړ، او د هغه اوامر او نواهي پر ځای کړه، نو داسې کس په یقیني توګه هغه رسۍ په کلکه ونیوله چې هیڅکله نه پرې کېږي او ټول خیر یې وګټه ﴿وَمَنْ يُسْلِمْ وَجْهَهُ إِلَى اللَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى وَإِلَى اللَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ﴾ (لقمان: ۲۲).

نو اسلام الله ﷻ أ پوره عبادت کولو ته وایي، چې انسان ور په کې د بل چا د بندګي غلامۍ او عاجزۍ نه آزاد شي.

مسلمان: په عبادت او بندګۍ کې مخلص انسان دی، چې د نفس دننه یې سوله ژوند کوي، او په خپل چاپېریال کې سوله او سلامتیا خپره وي.

آیا دغه خبرې هغه څه دي چې ټولو پیغمبرانو راوړي وي؟

## اسلام د ټولو پیغمبرانو دین دی

قرآن کریم دا خبره ثابته کړې چې ټولو ملتونو ته په بېلابېلو وختونو د الله لخوا استازي راغلي چې د الله دین ورسوي، په قرآن کریم کې محمد ﷺ ته داسې وینا شوې ده: ﴿إِنَّا أَرۡسَلۡنَاكَ بِالۡحَقِّ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَإِنۡ مِنۡ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٌ﴾ (فاطر: ٢٤) «بېشکه مونږ ته په حق (دین) سره لېږلی یې چې زېرې ورکوونکی او وېروونکی یې او نه و هېڅ یو امت مګر په هغه کې یو وېروونکی تېر شوی دی»، نو ټولو پیغمبرانو د حق دین راوړې دي، او هغوی د ایمان په پیغام د احکامو او اخلاقو په منشاء او اصولو کې یو تر بل توپیر نه لري.

هغه اسلام چې د ټولو انبیاؤو مهر محمد ﷺ څه د پاسه څوارلس سوه کاله وړاندې راوړې دي د هغه دین چې نورو پیغمبرانو راوړی و تمدید او تسلسل دی؛ قرآن کریم مسلمانانو ته په هغه څه د ایمان راوړلو حکم کوي چې پخوانو پیغمبرانو -ابراهیم، اسحاق، یعقوب موسی عیسی- پرې ایمان راوړی دي. ﴿قُولُوا آمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَا أُنۡزِلَ إِلَيۡنَا وَمَا أُنۡزِلَ إِلَى إِبۡرَاهِيمَ وَإِسۡمَاعِيلَ وَإِسۡحَاقَ وَيَعۡقُوبَ وَالۡأَسۡبَاطِ وَمَا أُوتِيَ مُوسَى وَعِيسَى وَمَا أُوتِيَ النَّبِيُّونَ مِنۡ رَبِّهِمۡ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٍ مِنۡهُمۡ وَنَحۡنُ لَهُ مُسۡلِمُونَ﴾ (البقرة: ١٣٦)

> د اسلام نسبت نه یو سړي ته کېدی شي، نه یو قبیلې ته او نه یو امت ته او نه دا د بشر د خیټې خبرې دي چې نسبت ورته وشي، بلکې ددې نوم یواځې اسلام کېښودل شو.



د توجه وړ خبره داده چې قرآن کریم مونږ ته د پیغمبرانو د پلار ابراهیم عليه السلام وصیت خپلو بچیانو ته او د هغه په شان د یعقوب عليه السلام د ځنګدن په وخت کې خپلو بچیانو وصیت داسې را نقلوی: الله جل جلاله تاسو لپاره د حق دین غوره کړی دی، نو په اسلام تر مرګه پورې ولاړ اوسېږئ ﴿إِنَّ اللّٰهَ اصۡطَفَى لَكُمُ الدِّينَ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنۡتُمۡ مُسۡلِمُونَ﴾ (البقرة: ١٣٢).

دا دین د ټولو پیغمبرانو د دین لپاره تمدید او اوږدوالي دی، ځکه د ټولو عقیده یوه ده چې په اصلي بنیاد کې تغییر او بدلون نلري، او بدلون یواځې په شریعت او د احکامو په تفصیلاتو کې د زماني د شرایطو سره مناسب رازي، تر دې چې وروستی پیغمبر محمد ﷺ راولیږلی شو چې د ټول انسانیت لپاره هغه وروستي شریعت ثابت کړی.

له همدې ځایه قرآن کریم دا خبره په ډاګه ثابتوي چې دین په حقیقت کې یو دی، او هغه اسلام دی، او هغه ګروهي اختلافات چې مونږه یې د اسماني ادیانو په پېروانو کې وینو دا اصل تحریفات دي چې خلک یې د رسولانو د دین څخه لرې کړیدی ﴿إِنَّ الدِّينَ عِنۡدَ اللّٰهِ الۡإِسۡلَامُ وَمَا اخۡتَلَفَ الَّذِينَ أُوتُوا الۡكِتَابَ إِلَّا مِنۡ بَعۡدِ مَا جَاءَهُمُ الۡعِلۡمُ بَغۡيًا بَيۡنَهُمۡ﴾ (آل عمران: ١٩).



# د اسلام نړیوالتوب

دا خبره تعجب وړ ده چې په قرآن کریم کې د (العرب) د عربو لفظ نه دی راغلی سره د دي چې د دوی په ژبه نازل شوي دي، او د الله پیغمبر محمد هم په دوي کې را لیږل شوی و، او نن ورځ د عربانو د مسلمانانو تر منځ اقلیت تشکیلوي، بلکې صرف د مسلمانانو ٪۲۰ سلنه برابروي او لوې مسلمان هیواد اندونیزیا د اسیا په لری سویل ختیځ کې پروت دي، او د هند مسلمان لږکیو (اقلیت) شمېر د لوی عربي هیواد د خلکو د نفوس دوه برابره ته نږدي کېږي.



د اسلام دين د ټولو ملتونو لپاره د هغوي د مختلفو کلتورونو نژادونو رسمونو او هيوادونو سره رحمت او هدايت دي، لکه چې قرآن کريم کې راغلی دی: ﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ﴾ (الأنبياء: ۱۰۷) «او مونږ ته نه يې لېږلې مگر د عالمونو لپاره رحمت».

اسلام د بشري تنوع لپاره داسې لرليد وړاندې کړې چې هيڅ بل قانون يې نه پيژني او نه ورسره د نړۍ نور قومونه اشنا وو.

راځئ چې په هغه قرآني لارښوونو کې سوچ و کړو چې يوازی عرب او مسلمانان مخاطب ندي، بلکې هغه ټول انسانيت په ټولو نژادونو او مذهبونو ته خطاب دی، خدای په قرآن کې وايي: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ﴾ (الحجرات:۱۳) «ای خلکو! بېشکه مونږ تاسو له يوه سړي او له يوې ښځې پيدا کړي يئ او مونږ تاسو څانگې او قبيلې گرځولي يئ، د دې لپاره چې تاسو يو بل سره وپېژنئ، بېشکه د الله په نيز په تاسو کې ډېر عزتمن، ستاسو زيات پرهېزگار دی-، بېشکه الله ښه پوه، او خبردار دی»..

او په دې خبره قرآن کريم ټينگار کړی دې چې ټول انسانان چې هر قسمه رنگ او نژاد والا وي ټول د آدم او حوا عليهما السلام اولاده ده، او توپير او تنوع چې د دوي تر مينځ دی هيڅکله د يو بل د غوراوي لپاره ندی، بلکې د يو بل د پېژندنې، شريکوالۍ او مرستې لپاره دي، غوره والې او عزت د هغه چا دی چې د الله بندگې کوي او د هغه څخه ويريږي.



محمد صلی الله عليه وسلم د اسلام پېغمبر ده.
ای خلکو، خبردار! بيشکه ستاسو رب يو دی، پلار مو يو دی، خبردار! غوره نه دي عرب له عجمو او نه دی غوره عجم په عربو، او نه سور په تور باندی افضليت لری او نه تور پر سور مگر پر تقوی سره.



د انسانانو د حقوقو په هکله نړيوال اعلان
هغه چې اقرار کوي چې خلک په آزادي، حقوق او کرامت کې برابر دي.

٦٣٠م — ١٩٤٨م

قرآن کريم زمونږ پام دې خبرې ته چې د خلکو د رنگونو، شکلونو، کلتورونو او ژبو اختلاف د الله د نعمتونو او د قدرت د نښو نښانونه او په کائناتو کې د الله د عجائبو څخه دي، او دغه بدلونونه الله جل جلاله په عظمت او اهميت کې د اسمانونو او ځمکې د پيدايښت سره برابر گرځولي دي، او دغې کار ته پام او د هغې څخه عبرت اخيستل يواځې د پوهې او فکر خاوندانو کار دی. ﴿وَمِنْ آيَاتِهِ خَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَانِكُمْ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِلْعَالَمِينَ﴾ (الروم: ۲۲).

> اسلام د انسان لپاره داسې تصوير وړاندی کړی چې داسې فکر او سوچ بل کوم نظام نه پېژندلو، او نه داسې کومه وعده انسانانو سره چا کړې وه.

په داسې حال کې چې د بشري حقوقو نړيواله اعلاميه په اولې ماده کې: ټول انسانان په ازاد حقوقو او کرامت کې مساوي او برابر گڼل، چې په رسمي توگه په ۱۹۴۸م کال کې تصويب شو او پلې کيدل يې بيا وروسته پيل شو، خو د اسلام پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم ۱۴۰۰کاله پخوا دغه اصول په ښکاره اعلان کړه، چې د انسان لپاره يو نوی عهد او پير پرانيست او خلکو ته يې په خطبه کې اعلان وکړ: «يا أيها الناس، ألا إن ربكم واحد، وإن أباكم واحد، ألا لا فضل لعربي على عجمي، ولا لعجمي على عربي، ولا أحمر على أسود، ولا أسود على أحمر، إلا بالتقوى» «ای خلکو، ستاسې رب يو دې، پلار مو يو دې، خبردار! د هيڅ عرب په عجم او د هيڅ عجم په عرب، د سور په تور او د تور په سور بهترې او فضيلت نشته مگر په تقوی سره» (احمد۲۳۴۸۹).

## د چاپېريال ته پاملرنه د ايمان برخه ده

ځينو فلسفو انسان د دې کائناتو مطلق بادار ګرځولي چې په هغې کې د خپلو ګټو او غوښتنو موافق بغير د کوم حساب کتاب نه تصرف کوي ان که د انسان دا کړنې د نورو کائناتو او مخلوقاتو لپاره د فساد يا هم له منځه وړلو سبب ګرځي، خو د دې برعکس ځينې نورې انساني فلسفې په دې آند دي چې انسان په نورو مخلوقاتو هيڅ بهتري نلري، او انسان هم د نورو ميليونونو مخلوقاتو په شان يو مخلوق دې، نو اسلام د انسان او کائناتو خپل منځي اړيکو او ارتباط څنګه کتنه لري؟

د انسان او کائناتو تر منځ د رابطې شکل ته د اسلام کتنه په ايمانې او تيوريزو تصوراتو عياره ده، چې پاې يې په داسې تفصيلي احکامو شويده چې د انسان حيوان او ځمکې او طبيعي زيرمو اړيکه کنټرولوي.

اول هغه څه چې د دغې اړيکه فلسفه کې د يو څېړونکې نظر ځان ته را ګرځوي توازن (برابرښت) دي چې قرآن کريم ثابت کړې دی، الله ﷻ انسان ته ډېر عزت ورکړې دي، او د نورو مخلوقاتو څخه يې بيل کړې دي ﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلا﴾ (الإسراء:٧٠)، او ټول کائنات او مخلوقات د انسان شاو خوا د ده لپاره تابع کړيدي تر څو ترې دا انسان ګټه پوره کړي او دايي ساتنه وکړی ﴿ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَكُمْ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِيَ فِي الْبَحْرِ بِأَمْرِهِ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْأَنْهَارَ - وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَائِبَيْنِ وَسَخَّرَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَار﴾ (إبراهيم: ٣٢-٣٣)، انسان د نورو ميليونو مخلوقاتو په څېر ندی چې په نورو بهتری نلری، بلکې يو عزتمند شريف مخلوق دی چې ټول طبيعت د ده لپاره تابع ګرځول شويدی چې دا ترې ګټه پورته کړی ﴿هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ اسْتَوَى إِلَى السَّمَاءِ فَسَوَّاهُنَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ﴾ (البقرة: ٢٩).



له بلې خوا اسلام د دې خبرې ټينګار کړی چې انسان د ټولو کائناتو مطلق بادار او سردار ندی، چې څه ورته ښه ښکاري هغه کوي، بلکې هغه مرتبه او د نورو مخلوقاتو نه بيلتون انسان ته هيڅکله د دې حق نه ورکوی چې نور کائنات خراب او فاسد کړی، او طبيعي شتمنې بې ځايه مصرف کړې، ځکه حقيقي مالک خو الله ﷻ دی، او انسان وظيفه داده چې الله په کائنات کې خپل (خليفه) کړيده، دا پدی مانا چې هغه ته سپارښتنه کړې ده چې د کائناتو استفاده او ګټه پورته کړی، او هغه ته يې حکم کړې دې چې همېشه د پرمختګ او ترقي کوښښ وکړی، پداسې حال چې نورو انسانانو او مخلوقاتو ته به ضرر نه رسوې. ﴿وَإِلَى ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَالِحًا قَالَ يَاقَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ هُوَ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا فَاسْتَغْفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ إِنَّ رَبِّي قَرِيبٌ مُجِيب﴾ (هود: ٦١)، ﴿وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَة﴾ (البقرة: ٣٠).

او اسلامي شريعت د دغې خبرې د ښه ټينګار لپاره په سلهاوو قوانين او سپارښتنې کړی چې د انسان او د هغه نه چاپير کائناتو تر منځ اړيکې کنټرول کړی، د هغې قوانينو ځينې د نمونې په توګه لاندې دي:

## ۱. حیواناتو ته پاملرنه

د محمد ﷺ ویناوې شته چې د حیواناتو د حقوقو ساتنه کوي، او آخرت کې چا چې د حیواناتو سره احسان کړې وي ډېر اجر خاوند به شي، حیواناتو ته تکلیف نه رسوي او په هغې یې د سخت الهي عذاب زورنه ورکړېده.

په داسي حال کې چې لومړی ټولنه چې د حیواناتو حقوقو ته یې پاملرنه وکړه، په بریتانیا کې د حیواناتو د حقوقو شاهي ټولنه وه چې ۱۸۲۴ کال کې جوړه شویده، او لومړي قانون چې په حیواناتو تجاوز کول یې جرم وګاڼه په ۱۹۴۹م کال کې په بریتانیا تصویب شو، خو اسلام ۱۴پیړی وړاندې په حیواناتو تجاوز منع کړې او هغه یې جرم ګرځولې دي، او د دي لپاره ډېرې نموني او مثالونه د پیغمبرﷺ په ویناوو کې شته؛ لکه د حیوان وږې ساتل حراموالي، او یا یې شکنجه کول، یا د توان څخه زیات بار آچول، یا داسې لوبې چې حیوان پرې تکلیف شي، حتی پر مخ وهل، او نور ډېر مشهور احکام چې د اسلامی فقهې به کتابونو کې لیکل شویدي.

ښایي چې لوستونکي ته هغه وخت په حیوان باندې د نرمي کولو معلومات اوشي چې کله د محمدﷺ د دې وینا څخه خبر شي چې خلکو ته یې کړې ده هغه وایي: یوې زنا کاره ښځې (زنا په اسلام کې ډېره سخته نارواه ده) یو سپې ولیده چې له تندې نور مړ کېده، زړه یې پرې وسوځېده، بوټ یې وویست او دکوهي له اوبو یې ډګ کړ او سپي ته یې ورکړې نو الله ورته بخښنه وکړه! «بینما کلب يُطِيفُ بِرَكِيَّةٍ، كاد يقتله العطش، إذ رأته بغي من بغايا بني إسرائيل، فنزعت موقها فسقته فغفر لها به» (البخاري ٣٢٨٠).



د حیواناتو په هکله د جنائي جرمونو لومړی قانون په بریطانیه کې ۱۹۴۹م کال کې جوړ شو.

د حیواناتو د حقوقو اوله غونډه په ۱۸۲۴م کال کې وشوه.

اسلام کې د ځارویو وګې ساتل او هغو وهل ټکول او زیات بار په وړل او یا داسی لعبه ورسره کول چې هغه ته ضرر رسیږي په ٦٣٢م کال کې حرام ګرزیدلي.



## ۲. نباتاتو ته پاملرنه

اسلام نباتاتو او کرنې ته د پاملرنې غوښتنه کوي، که هغه د ځان، یا د نورو انسانانو او مخلوقاتو د ګټې لپاره وي چې په دې نړۍ کې اوسېږی!

د هغې یو دلیل مونږ ته محمد ﷺ راښیي چې: داسې څوک نشته دي چې د کائناتو دګټې لپاره یو څه خپله وکري یا د نورو سره په کې ګډون وکړي، بیا ترې مرغه، انسان او حیوان خوراک کوي د ده لپاره صدقه ده «ما من مسلم يغرس غرسا، أو يزرع زرعا، فيأكل منه طير أو إنسان أو بهيمة، إلا كان له به صدقة» (البخاري ٢١٩٥).

بلکې عزتمند پیغمبر ﷺ په ډېرو سختو شېبو او حالاتو کې په مسلمانانو غږ کوي چې د چاپیریال په ساتنه او د ځمکې په کرهڼه او پرمختګ کې هیڅ راز هڅې ونه سپموي که څه هم په دې باوري وي چې خپله ترې ګټه نشم اخیستلای، هغه وایی: کله چې قیامت قایم شي (چې د کائناتو لویه پېښه ده) او تاسې یو کس سره په لاس کې نیالګي وي نو هغه دی د کرلو تلوار وکړي که وتوانید د هغه لپاره به صدقه شي «إن قامت الساعة وبيد أحدكم فسيلة، فإن استطاع أن لا يقوم حتى يغرسها فليفعل» (أحمد ١٢٩٨١).

هغه په سختو شېبو او شرایطو کې د ځمکې آبادي او پرمختګ موخه ګڼل ده او هغې ته عبادت ویلي دی.

## ۳. طبیعې سرچینو او زېرمو ته پاملرنه

اسلام د چاپیریال په ساتنه ټینګار کوي، او طبیعي زېرمې او سرچینې د ضایع کیدو خرابیدو او ککړتیا څخه ساتي، او خلکو ته یې یو بشپړ پروګرام وړاندې کړیدی چې د (پرهیز د درملنې وړاندې) په اصل ولاړ دې، د هغې د جملې څخه شخصي پاکې ته پاملرنه، د طبیعې شتمنیو ساتنه او دهغې په استعمال کې اقتصاد او مینځ روې، او د هغو خرابول او ککړتیا جرم ګڼل دي، څو نمونې دادي:

- اسلام د طبیعي شتمنیو کارونه کې اسراف حرام کړي دي، سر کې اوبه دې که څه هم د الله د عبادت لپاره اودس پرې کوي.
- د قوت او نفوذ خاوندان یې د طبیعي شتمنیو د انحصار نه چې نورو خلکو ته د زیان سبب کېږي منع کړي، د اوبو انحصار یې حرام کړی دي(د طبیعي سرچینې په توګه) د اور انحصار نارواه دی (د انرژئ د نمونې په توګه) او د څرځایونه انحصار بند دي (د خوړو د مثال په توګه)، (ابو داود: ۳۴۷۷).
- اسلام ټول هغه څه چې زمونږ شاو خوا چاپیریال ککړ وي د هغې څه ممانعت کړي دی، لکه په ولاړو اوبو کې ادرار ځکه هغه پلیتوي، او په سیوري او لارو کې د د قضا حاجت نه منع کړي، ځکه دغه داسې ځایونه دي چې خلک پرې روان، او یا ورته لاروي د سفر د ستړیاو په وخت د ارام لپاره تم کېږي.

دا تیر شوي مثالونه د هغه دین چې پیغمبر یي چاپیریال ساتنه او د چټلیو څخه پاکونه، د لارې نه د مضر شیانو لرې کولو کې ګډون ته یوازې نېک عمل نه بلکې د ایمان برخه او جزء یي ګڼي. (مسلم: ۳۵)

> د چاپیریال حفاظت او له ګندګي څخه یې پاک ساتل د ایمان یوه برخه ده. څرنګه چې محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلی.





## د پوهې دین

دا یو ناڅاپه کار نه و چې د قرآن لومړې کلمه چې په پیغمبر ﷺ نازله شوی وه، هغه د (اقرأ- ولوله) شې، ځکه په قرآنکریم او محمد ﷺ په ویناوو کې اسلام د انسانانو لپاره د هر ډول ګټور علم په ملاتړ ټینګار کړی دي، تر دی هغه لار چې مسلمان یي د پوهې او معرفت لپاره نیسي دا یي د جنت مسیر او لاره ده، لکه هغه ﷺ وواییي: «من سلك طريقا يلتمس فيه علما، سهل الله له به طريقا إلى الجنة» «چا چې داسې لار ونیوله چې علم او پوهه په کې غوښتله، نو الله ﷻ به ورته دهغې په سبب د جنت لار اسانه کړي» (مسلم ۲۶۹۹).

په یوه عجیبه پرتله یې عزتمند پیغمبر په خپله وینا کې وضاحت کړي دي هغه وواییي: په هغه چاچې ځان د عبادت لپاره ګوښه کړی وی د عالم بهترې دومره زیاته ده لکه د پیغمبر تفوق په یو ټیټ او ادنی کس باندې «فضل العالم على العابد كفضلي على أدناكم» (ترمذی ۲۶۸۵).

اسلام د نورو ادیانو په شان د دین او ساینس تر منځ جګړه او شخړه نه پیژني، او هیڅکله ساینس پوهان په علمي افکارو او لاسته راوړنو د اروپا د تیاره پیړیو په شان ندي محاکمه شوي، خو د دې بر خلاف دلته دین د پوهې او ساینس لپاره یو مشال او مرستندویه و، او د هغه زده کړې او بیا نورو ته د رسولو بلونکې و، جوماتونه د انسان د فایدې لپاره د هر ډوله علومو او پوهنو مرکزونه و.

مونږ ته دا نا اشنا نه ده چې ډېر مسلمان ساینس پوهانو خپل ژوند د قرآن د زده کړې او په یادولو او په دین کې د ژورو زده کړو څخه پیل کړی دی، بیا وروسته په خپل تخصص او میدان کې نوی اختراعات کړي دي.

خدای پاک خلکو ته د خیر ښوونکی عالم ډېر قدر کړي دی، او د هغه په سر د عزت ستر تاج ور په سر کړي دي، تر دې چې پیغمبر ﷺ ویلي دي: ټول مخلوقات د خلکو ښوونکې ته د خیر دوعا کوي. «إن الله وملائكته وأهل السموات والأرضين حتى النملة في جحرها وحتى الحوت ليصلون على معلم الناس الخير» (ترمذی ۲۶۸۵)

> زیاتره ساینس پوهانو او طبیبانو د ژوند ابتدا د قرآن د زده کړو نه پیل کړی چې بیا وروسته یې ډیرو علومو ته لاری خلاصی شوی.

# ځيني مسلمان ساینس‌پوهان



۱.خوارزمي (۸۵۰-۷۹۰ بغداد) د رياضياتو، هندسي او فلکياتو عالم و د الجبر بنسټګر دی، کتابونه يي ډېر پخوا نورو کلتورونو ته ژباړل شوي دي، بلکې د ده له امله د عربي ځيني کلمات لکه الجبر Algebra صفر Zero نورو لاتينې ژبو ته ننوتی دي





۲.ابن هيثم (۱۰۴۰-۹٦٥ قاهره) د فزيک او هندسي عالم و، د جامع ازهر سره تړاو درلوده، بصری علومو(Optics) پر مختګ کې ډېره ونډه درلوده، دکمرې د اختراع اصول ده ته منسوب دی، او ډېرو څېړونکو ثابته کړي چې د (کمرې) کلمه چې ډېرو ژبو کې شته، په اصل کې عربې (قمرة) کلمه ده، او دا دهغې رڼا خونې نوم و کومه چې ابن هيثم اختراع کړې وه.



۳.بيروني (۱۰۴۸-۹۷۳ خوارزم) د فلکياتو لوی عالم و، او لومړی هغه څوک و چې وويل: ځمکه پر خپل محور څرخېږي، او د ځمکې جاذبې قوې ته اشاره وکړه.







٤.زهراوي (۱۰۱۳-۹۳٦ اندلس، هسپانيا) هغه مسلمان ډاکټر او جراح و، چې په لاسونو يي د جراحت علم پرمختګ کړي دي، او په خپلو کتابونو کې د سلګونو جراحي سامان آلاتو بيان کړي دي، وروسته بيا د هغه کتابونه په طب او جراحي کې د ډېرو پېړيو لپاره په مختلفو ژبو کې اساسي سرچينې وې.



۵.ابن سينا (۱۰۳۷-۹۸۰ بخارا) په علمي چاپيريال کې د سينا (Avicenna) په نوم پېژندل کېږي، ډاکټر او مشهور فيلسوف دي، چې د خپل وخت نه مخکې ګڼ شمېر طبي پديدې (ظاهرې) څرګندی کړی دی او علاج ورته وړاندې کړي دي، همدا رنګه په خپلو طبی څېړنو کې علمي تجرېې ته ډېر اهميت ور کړي دې چې دقيقي پايلې درلودې، او تر ننه پاتې دي، چې د هغه د (قانون) نومې کتاب کې ښکاره کوی، کوم چې د طب په زدکړو کې د اوه پېړو لپاره اساسی مرجع وه، او د اروپا په پوهنتونو نو کې د اوولسمه پيړې تر نيمايي تدريس ده.

کله چې په طب کې مشهور شو، بيا د بشری همدردی او په خپل علم او پوهې دالله نه د مننې په توګه د ناروغانو وړيا درملنه کوله.



٦.ابن نفيس (۱۲۱۳-۱۲۸۸ دمشق) د فقهي او شريعت عالم و، خو په ورته وخت کې د طب غټ ډاکټر و، او په تاريخ کې د فيزيولوژی ستر پوهه و، هغه لومړي کس دي چې په بدن کې د ويني جريان کشف او بيا دقيق تشريح کړ، او څو د طب نظريات لرې چې تر اوسه يي په ډېرو عمل کېږي.



## اسلام د انسان لپاره هر اړخیز دین دی

ډېر خلک تعجب کوي کله چې دوی پوهه شي چې اسلام د نورو دینونو په شان چې دوی ورسره بلد دي، یوازې دودونه، اعمال او اخلاقي لارښوونې نه دي.

اسلام په حقیقت کې ځانته یوه روحاني اړتیا نده چې په جوماتونو کې د مسلمانانو له خوا یوازې په دوعا او لمانځه باندې سرته رسېږي.

نه هم یوازې څه خالي افکار، عقیدې او فلسفه ده چې خپلو پیروانو منلې وي او بس..

او نه یوازې یو اقتصادي سیستم یا د چاپیریال ساتنې یو پوره نظام دی...

نه ده د سیستم او ټولنې د جوړلو لپاره څه مقررات او نظریې دي

همدارنګه نه یوازې د اخلاقو او نورو سره د اړیکو او تعامل کولو یوه شړه کڅوړه ده.

بلکې اسلام د ژوند د ټولو اړخونو یوه جامع تګلاره ده، چې د خلکو آزادي نه محدودوي بلکې د هغوی ژوند اسانوي، تر څو خپلې هڅې په تخلیق، نوښت آبادۍ او تمدن باندې متمرکزې کړي، او دا دسترو نعمتونو څخه یو دی چې الله یې په بندګانو احسان کوي، لکه چې قرآن کریم یې تأیید کوي ﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا﴾ (المائدة: ٣).

کله چې د غیر مسلمانانو یو کس د مسخرې په توګه د پیغمبر یو ملګري سلمان فارسي ته وویل: ستاسو ملګری (یعنی دالله پیغمبر) تاسو ته هر څه در ښایي تر دې چې د ادرار او غایطه متیازو آداب هم ؟ لوی صحابي ځواب ورکړ: هو، مونږ ته را زده کړې دي، او بیا ورته په دې موضوع کې د اسلام احکام او آداب ذکر کړل «أجل. لقد نهانا أن نستقبل القبلة لغائط، أو بول، أو أن نستنجي باليمين، أو أن نستنجي بأقل من ثلاثة أحجار، أو أن نستنجي برجيع أو بعظم» (مسلم:٢٦٢).

> اسلام یو بشپړ منهج ده چې د ژوند ټولو اړخونو.



## دنیا او آخرت

پخواني مصریانو به مړی په په داسې دارو به ککړولو چې بوي ونکړي، بیا به یې ورسره ټوله شتمني په ګور کې کېښودله، او د دوی دا ګومان وو چې له مرګ نه وروسته ورته په بل ژوند کې اړتیا لري.

او د دې په خلاف د تبت څه قومونو خپلو مړو تنې ټوټې ټوټې کولې، چې بیا به یې په لوړو ځایو کې د دې لپاره کیخودلې چې مرغان یې وخوري، او هندوان نن هم مړي سوځوي، څکه - دغه د هغوی په باور- د هغوی د روحونو یواځینی لاره ده.

دا خو یواځې د مړي د تیارولو او رخصتولو یو څو بیلابیلې نمونې وي چې د وخت او ځای او د خلکو د دیني او عقیدې په وجه په کې ډېر بدلونونه وجود لري، او هم دغه کړنې د هغه ژورو پوښتنو چې ځوابونو ته یې اړتیا لري څه شکلونه و، چې آیا بیا څه نور ژوند نشته؟ هغه به څرنګه وي؟ او هلته به مونږ څه ته اړتیا لرو؟

او دا څکه چې مرګ هغه حقیقت دي چې ټول یې مني چې هغه پرته له کومې استثناء زمونږ انتظار باسي، برابره خبره ده که زمونږ په بل ژوند باور لرو او یا هم زمونږ وسائل صرف هغه څه پورې خاص دي چې مونږ یې په سترګو وینو یا یې په نورو حواس احساس کو.. او برابره خبره ده چې دغه پریکنده ګړۍ لپاره تیار یو، او که مو کوښښ دا وي چې دغه کړي له ځانه هیره کړي یا تري په ډېرو مشغولتیاو ځان مصروف وساتو.

خو هغه پوښتنه چې د هر قسم بې خبرۍ او غفلت مقابله کوي په ذهن کې همیشه پاتې کیږي او کله چې انسان د ځان سره یو وقفه لري نو دغه پوښتنه په مکرر ډول ځان ثابتوي.. چې آیا دا مرګ د هر څه پای ده او نور څه نشته؟ آیا زمونږ موجودتیا یو ډول بیهوده کار دي؟



هغه پوښتنه چې زموږ په عقلونو ډېر ټينګار کوي او قرآن يې هم موږ ته په مختلفو لارو په ډاګه کوي، او عين حال کې مو د قيامت په ورځ د ډېرو خلکو افسوس او پښيمانۍ هم خبروي، ځکه دوی د دغې پوښتنې ځواب ځان ته په پيدا کړې او دې سفر ته يې تياري نه ونيولي نو ځيني به يې په دغه ورځ وايي: (چې کاش چې د دې ژوند لپاره مې وړاندې څه راليږلي وي) او بل به وايي: (افسوس! زه خاوري واي). ﴿يَا لَيْتَنِي قَدَّمْتُ لِحَيَاتِي﴾ (الفجر: ٢٤)، ﴿يَا لَيْتَنِي كُنتُ تُرَابًا﴾ (النبأ:٤٠).

دا معلومه خبره ده چې د اسماني اديانو پيروان په وروستي ژوند (آخرت) او د نيکۍ او بدۍ په جزا ايمان لري، ځکه دغه د پيغمبرانو د راليږلو يو مهم مقصد دی، او عقل هم د دې خبرې ګواهي ورکوي چې ژوند او دين او اخلاقو هيڅ ګټه نشته چې بل ژوند شتون ونلري، چې په هغه ژوند کې هر انسان ته د خپلې نيکۍ او بدۍ جزا ترلاسه کوي.

او سره له دې ډېر خلک دا ګومان کوي چې دين او عبادت هيڅ امکان نه لري چې له مال پيدا کولو او خوند اخستلو او پرمختګ سره يوځای شي، ځکه کار به يا دنيا لپاره وي او يا به له آخرت لپاره وي،

ټول آسماني اديانو خلک په ورځ د قيامت او د ثواب او عقاب (د الله ګرفت) باور لري.

او په يو وخت کې د يووالي هيڅ امکان نه لري، لکه څرنګه چې شپه او ورځ سره نه يو ځای کيږي، نو شيبه به يا دلته وي يا هلته..

او د دوی حيرانتيا دلته نه ختميږي، بلکې په ځينو يې لا د دې خبرې منل هم ګرانه وي چې په اسلامي عقيده کې د عبادت او خوند اخيستلو ترمينځ کومه پرده نشته، او نبـاغلي پيغمبر محمد ﷺ موږ ته د دې خبر راکوي چې کله انسان يو روغ کار وکړي او د ښېګړې نيت يې وکړ نو په آخرت ورته ښه جزا ورکول کيږي، تر دې چې که ازغي يې د خلکو له لارې نه لرې کړ، او که يا د خپلې ښځې په خوله کې يوه مړی ورکړه! (البخاري: ٥٦).

هر کله چې ښاغلی پيغمبر محمد -عليه السلام- د دې خبر ورکړ چې د نيکۍ دروازي ډېرې زياتې دي نو په داسې خبره يې مثال وکړ چې خپل صحابه يې حيران کړ، کله چې يې وويل: په تاسو کې يو تن چې له خپلې ښځې نه خپل خوند پوره کوي؛ هغه ته وربانديې اجر ورکول کيږي. نو صحابو وويل: د خوند اخيستلو له اجر سره څه اړيکه ده؟ هغه وويل: که چيري دي انسان خپل شهوت له حرامو پوره کولو آيا دا پرې نه ګناهګار کيده؟ هغوی وويل: ولې نه، هغه وويل: ځکه ورته اجر وکول کيږي چې دي سمه لاره ونيوله. «أرأيتم لو وضعها في حرام أكان عليه فيها وزر؟ فكذلك إذا وضعها في الحلال كان له أجر» (مسلم: ١٠٠٦).

نو له دې امله څوک چې د اسلام پژندل غواړي له لوموی شيبې نه پدې خبره پوهيږي چې اسلام دين د دنيوي او اخروي ژوند ترمينځ څومره حقيقي انډول ساتلی لکه څرنګه يې چې قرآن تصور وړاندې کړي، نو په هغه وخت کې چې خلک عبادت ته هڅوي تر څو په آخرت کې اجر ترلاسه کړي؛ په دې هم ټينګار کوي چې د دنيا په لاسته راوړلو کې دې هم زيار وباسي تر څو د الله فضل حاصل کړي، ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ • فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ (الجمعة ٩-١٠) او ديته به اجر ورکول کيږي کله چې يې موخه د الله خوښي وه، او مسلمان ته لارښوونه شوي چې خپله دنده او کار کې ډېره خواري وکړي تر څو خپله روزي پيدا کړي، خپل کوچنيان وروزي، او خپل صحت او چاپيريال پاملرنه وکړي او د خپلې ټولنې په پرمختګ کار وکړي او همدارنګه ورته لارښوونه شوي چې د خپل رب عبادت وکړي په لمونځ او خيرات ورکولو او روژه نيولو سره.

او دا کار له د هغه نفسي ډاډ او داخلي سلامتيا چې مسلمان يې احساسوي يو راز دی، کله چې هغه د ژوند او آخرت د خوند او عبادت ترمينځ د يوې ښې جوړتيا احساس وکړي، او دهغې تر مينځ د مخالفت او مناسبې جوړې حس نه کوي، بلکې يوه پوره ابادي ده چې يوه برخه يې د بلې کومک کوي.

نو له دې ځای نه قرآن موږ ته د مسلمان شعار چې د اسلام فلسفه يې راټوله کړې ده او هغه ته امر کوي چې دا په ډاګه کړي: زما ژوند په ټولو پيښو کې د الله د عبادت لپاره دي نه يوازې په لمونځ او عبادت کې، او هغه به زما د اعمالو پريکړه کوي او له مرګ وروسته به يې جزا راکوي، او پدې سره به زه د الله د دين منونکی يم ﴿قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ • لَا شَرِيكَ لَهُ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ﴾ (الأنعام: ١٦٢-١٦٣).

قرآن په عدل ټينګار کوي، په داسې وخت چې خلک عبادت کوي ترڅو ثواب وګټي په ورځ د قيامت کې همدارز ټينګار کوي چې کوښښ وکړي په دنيا کې چې د الله رضا حاصله کړي.

## د اړیکو او ګډون دین

د مسلمان سیلاني احمد بن فضلان هغه تشریح چې د روسې، ډنمارک او سکند ناوي هېوادونو د ډېرو برخو توصیف کړي، د دغې خلکو د ژوند او ټولنې په باره لومړي کره تحلیل او ارزونه وه چې هغه کې دغه هیوادونه نړی ته ور پېژندل.

احمد د فضلان زوی په کال ۹۲۱م کې په عجیبه سفر لاړ، چې د منځنیو پېړیو تمدني اړیکو تر ټول مهم سفر و، د هغه وخت د ساینس او تمدن د مرکز بغداد نه ووت او په ډېرو هیوادونو او ملتونو تېر شو، خپلې کتنې او پیښې په لوي کتاب کې ثبت کړي، کوم چې د لومړی ځل په ۱۹۲۳ م کال د هغې قلمي نسخې په اساس چې په روسیه کې موندل شوي وه خپور شو.

د ابن فضلان د لیکنې اهمیت سبب لکه څرنګه چې امریکایي پوهه میخایل کریچټن وایي دا دی چې د بغداد مسلمانان که څه په خپل دین کلک ولاړ و خو د نورو ملتونو سره پرانیستې و که څه هم له دوي سره یي په بنه تګلاره او عقیده کې توپیر درلود، دوي په هغه وخت د سیمې لر خلک و چې د بهرني کلتورونو تر ټولو بنه شاهدان دي.-

(Michael Crichton Eaters of the Dead)

اسلام په آبادی تمدن او اصلاحاتو کې په خلکو د ګډون غږ کوي، د مختلفو کلتورنو او مذهبونو خلکو سره په بنه اخلاقو چلند اړیکو ته دعوت کوي، او خبرداری ورکوی چې انزوا او دخلکو څخه واټن د اسلام حقیقی لاره نه ده، ځکه خو د الله پیغمبر محمدﷺ هغه څوک چې د خلکو سره ګډ وي، د هغوي په تکلیفونو او تېروتنو صبر کوي، د هغه چا نه بنه دي چې د خلکو نه انزوا او واټن اخلي «المؤمن الذي يخالط الناس، ويصبر على أذاهم، أعظم أجرا من المؤمن الذي لا يخالط الناس، ولا يصبر على أذاهم» (ابن ماجه۴۰۳۲)



اسلام په دی هم ټینگار کوي چې مسلمانیدلو لپاره یواځې نظري عقیده کفایت نه کوي. که چېرى پالونکی یو ده نو پکار ده چې معبود (چې د چا عبادت وشي) هم یو وي.



د (الله) توری په عربي ژبه کې په یو وخت درې معناګانې لري:

- هغه معبود چې خلک ورته په ډیر درناوي سره لمونځ کوي او روژه ورته نیسي او په ټولو عبادتونو کې ورته پاملرنه کوي.
- او هغه لوی چې پخپل ذات او صفاتو او جلال کې داسې لوی وي چې عقلونه ورته ګوته په غاښ وي او له راګیرولو یې ناتوانه کیږي.
- او هغه څوک چې زړونه ورپورې نښلي او نفسونه ورته لیواله وي او د هغه په یادولو سره ډاډه کیږي او له نږدیوالي او عبادت څخه خوند پورته کوي.

او قرآن د (الله) په هکله د تصور پر سمولو ټینګار کوي، او د هغه له هر ډول تحریفاتو او تورونو چې لوی شان یې اغیزمن کوي پاکوي..

قرآن د (الله) داسې توضیح کوي چې هغه د دې نړۍ په ناآشنا ډول جوړونکی او چلوونکی دی، او هر څه چې کیږی د هغه په علم او خوښه او تقدیر تر سره کیږي، نو هیڅ یو ښځینه مخلوق نه حامله کیږي او نه بچی زیږوي مګر د هغه په علم، او د باران هیڅ یو څاڅکي نه لیګل کیږي او نه شپه او ورځ بدلیږي او نه کوم ښکاره یا پټ بدلون پدې نړۍ کې راځي مګر د الله په پوهه او قدرت او د هغه په رحمت سره کیږي ﴿إِلَيۡهِ يُرَدُّ عِلۡمُ السَّاعَةِ وَمَا تَخۡرُجُ مِنۡ ثَمَرَاتٍ مِنۡ أَكۡمَامِهَا وَمَا تَحۡمِلُ مِنۡ أُنۡثَى وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلۡمِه﴾ (فصلت ٤٧)، ﴿وَعِنۡدَهُ مَفَاتِحُ الۡغَيۡبِ لَا يَعۡلَمُهَا إِلَّا هُوَ وَيَعۡلَمُ مَا فِي الۡبَرِّ وَالۡبَحۡرِ وَمَا تَسۡقُطُ مِنۡ وَرَقَةٍ إِلَّا يَعۡلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الۡأَرۡضِ وَلَا رَطۡبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ﴾ (الأنعام ٥٩).



قرآن کریم ټینګار کوي چې هر څه د الله په علم او قدرت سره ترسره کیږي، د باران څاڅګي نه نیولی تر د ونو پاڼو راغوځیدو.



> د اسلام له ضروری مسائلو چې ډیر ټینګار پرې شوی هغه دا چې خاص یو د الله عبادت کول او دغې لور ته خلک را بلل د ټولو رسولانو دنده وه.

او هغه په صفاتو کې غوره او ښکلې صفات لري، هغه زورور دي چې کمزور کیداي نشي، او هغه رحمت کوونکی دي چې رحمت یې په هرڅه خپور دي، او هغه لوي دي چې هیڅ ډول نقصان نه لري

کله چې ځینو خلکو دا ګمان وکړ چې الله ځمکه او اسمانونه په شپږو ورځو کې پیدا کړل او بیا یې دمه وکړه؛ نو قرآن یې ګومانونه داسې پریکړل ﴿وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا السَّمَاوَاتِ وَالۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ وَمَا مَسَّنَا مِنۡ لُغُوبٍ﴾ (أي تعب) (ق: ٣٨) «او په یقین سره مونږ اسمانونه او ځمکه او هغه څه چې ترمینځ یې دي پیدا کړي او مونږ ته کومه ستړیا نه دي رسیدلي» دغه ګومان او په څیر یې ځکه په عقل کې راځي؛ ځکه عقل د هغه مثال له هغه څه سره وکړي چې په مخلوق کې پیژني، او حال دا چې الله پیداکوونکي او پرته یې پیداکړاي شوي دي، نو څنګه مخلوق د خالق په څیر کیداي شي ﴿لَيۡسَ كَمِثۡلِهِ شَيۡءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الۡبَصِيرُ﴾ (الشورى: ١١) «د هغه په څیر هیڅ څیز نشته او هغه اوریدونکی او لیدونکی دی».

او هغه الله د انصاف فیصله کوونکی دی چې د یوي ذري په اندازه تیری نه کوي، او چې په ژوند کې څه وینو هغه راته د الله حکمت او مهرباني راپه ګوته کوي، لکه څرنګه چې یو ماشوم له د خپل مور او پلار په ځینو کړنو نه پوهیږي او نه یې ورته توجیه کیږي ځکه د دواړو د عقل ترمینځ ډیر واټن دي؛ نو همدا ډول بشري عقل کله د الله ځیني حکمتونه نشي راګیرولاي کوم چې د پیدایښت او د هغه خوښي سره تړاو لري.

او اسلام په دي بسنه نه کوي چې یواځي نظري عقیده د ایمان د ننوتلو لپاره بس دی، نو لکه څرنګه چې پیدا کوونکی رب یو دي نو همدا ډول اړینه ده چې هغه اله او هم یو وي، او له عبادت او دعا هیڅ برخه پرته له الله نه بل چا لپاره سمه نده، او یواځي عبادت یې اړین دي پرته له کومي او واسطی او او سپارښتني نه، ځکه پیداکوونکی ذات له هر څه نه لوی او ستر دی.

او که په دنیا کې یو پاچا یا ولسمشر دا توان نه لري چې په ولس کې ناچاره او بې وزله خلک په ګوته کړي پرته له خپل درباریانو او نورو خلکو له مرستې نه چې هغوی سره مرستې وکړي؛ نو الله خو په پټه او ښکاره پوهیږي، هغه خو د هر څه څښتن او پرې ځواکمن دی، او ټول کاینات یې په لاس او واک کې دي، او کله چې څه وغواړي ورته وايي: وشه، هغه کار تر سره شي.. نو بیا ولې بل چا ته مخ واړول شي؟

قرآن د دې خبرې پخلی کوي چې د مسلمان د زړه ډاډ او د سینې خلاصیدل تر هغه نه پوره کیږي تر څو یې خپل رب ته مخه کړې نه وي، او خپل اړتیاوې یې هغه ته وړاندې کړې نه وي، الله خو په هر څه قدرت لرونکی دی او له خپلو بندګانو سره مینه لري، نرمي ورسره کوي، نږدې دی ورسره، په دعا یې خوښیږي، او د هغوی په عاجزۍ او هغه ته په مخه کولو په اندازه ورته بدله ورکوي ﴿كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَكُنتُمْ أَمْوَاتًا فَأَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ﴾ (البقرة ٢٨)، ﴿أَمَّن يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَاءَ الْأَرْضِ أَإِلَٰهٌ مَعَ اللَّهِ قَلِيلًا مَا تَذَكَّرُونَ • أَمَّن يَهْدِيكُمْ فِي ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَن يُرْسِلُ الرِّيَاحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ أَإِلَٰهٌ مَعَ اللَّهِ تَعَالَى اللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ﴾ (النمل ٦٢-٦٣).

نو له دې امله په اسلام کې تر ټولو ښکاره خبره د الله په عبادت کې یووالی دی، ﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ﴾ (النحل: ٣٦) او هم دغه د ټولو پیغمبرانو د دعوت اصلي او کلیدي موخه وه لکه قرآن یې چې په ډاګه کوی، نو هیڅ یو پیغمبر یا فرښته (ملایکه) یا ولي چې هر څومره نیک وي؛ د دوی عبادت کول په دې بهانه چې دوی د الله او د بندګانو په مینځ کې واسطه کونکي دي ندي جائز، ځکه په پای کې دا ټول د الله مخلوق او بندګان دي، او الله بندګانو ته نږدې دی خبرې یې اوري، او که یواځې عبادت یې ورله وکړ نو دعا یې قبلوي.

او هغه څوک به ولې د نیکبختۍ او ډاډ احساس نه کوي چا چې خپله ټوله پاملرنه الله ته ځانګړې کړې وي، نه به پرې کومه تیت او پرکتیا وي نه ګډوډي، ځکه ښتن یو دی، پیداکوونکی یو دی، معبود یو دی؛ نو مخ اړول هم هغه ذات ته دي.

او دا د هغه لنډ سورت معنی ده چې د قرآن له سترو او نامتو ستورتونو څخه دي او سورت اخلاص بلل کیږي.



## د اخلاص سورت

په دغه سورت کې الله خپل پیغمبر محمدﷺ ته لارښوونه کوي چې په ښکاره ډول د دې پوښتنې چې: الله څوک دی؟ ځواب ووایې.

- الله یو دی، په عبادت کې هیڅ کوم برخه لرونکی نه لري.
- الله هغه دی چې ټول مخلوقات وربانديې د خپلو اړتیاو پورکو باور لري، او پناه ورته وروړي.
- له ابتدا څخه پاک دې چې بچی ولري، او یا دا له چانه پیدا وي؛ ځکه هغه خو داسې لومړی دی چې مخکې ترې هیڅ شیز نشته.
- او هغه په ذات او صفاتو کې هم مثل او مشابه نه لري؛ ځکه هغه خالق دې او نور مخلوق دي.





## د شریعت قانون او طبیعت قانون ترمینځ

دا کائنات چې الله پیدا کړې او مونږ پکې اوسیږو له اتوم نه واخله تر لوې کهکشانونو ډیر په دقت، متامل او باریکبینۍ سره یې جوړ کړي تر څو طبیعي ژوند وربانديې مخ پر وړاندې ولاړ شي، او ټول طبیعت پوهان په دې باور دي که په دې نظام کې لږه ګډوډي راغله نو ټول به ویجاړ او درهم برهم شي..

مسلمان په دې باور لري چې هغه پیداکونکی ذات چې دا حیرانونکی نظام یې په ښه ډول پیدا کړي او جوړ کړي د خپل مخلوقاتو په ګټه ډیر ښه پوهیږي، او هغوي لپاره یې ښه شریعت او حکمونه او د ژوند نظام برابر کړي، او کوم دین چې یې رالیږلې د بشري ژوند سره جوګه او د بریا یواځینۍ لاره ده.. او الله په قرآن کې دا په ډاګه کړي چا چې دا نړۍ او انسان پیدا کړي هغه یې په ګټو ډیر ښه پوهیږي ﴿أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ﴾ (الملك: ١٤) «آیا نه پوهیږي هغه څوک چې پیدایښت یې کړی او ښه پوهیږي په باریکو ځیزونو او خبردار دي».



## پاړوګري په اسلام کې نشته

مونږ ډیر دینونه ګورو چې ځینو خلکو ته یې په نورو عادي خلکو داسې ځانګړتیاوې ورکړې چې د هغوی ایمانونه او عبادتونه د دوی په خوښې پورې تړلې وي، دغه خلک -د دوی په ګومان- د عادي خلکو او الله ترمینځ کړې دي، او دوی خلکو ته ببښنې کوي، او د دوی په ګومان هغوی په غیباتو پوهیږي او د دوی سرغړونه د بایللو سبب ګرځي.

په اسلام کې هیڅ د دین په نوم د روحانیت دنده نشته، اسلام د انسان قدر لوړ کړې او نبیان یې لوی کړي، او له هر ډول روحي واک څخه یې ازاد کړي چې د ده او الله ترمینځ واسطه ګرځي، او اسلام دا هم باطله ګرځولې چې د انسان خوښې، توبه او عبادت په خاص خلکو پورې تړلې وي، اګر که د تقوی او نیکګړې هر څومره لوړې مرتبې ته رسیدلې وي.

او همدا ډول اسلام انسان له هر ډول علمي واک څخه خلاص کړې چې دا ګومان کوي چې د دین زده کړه یواځې په ځانګړو خلکو پورې تړلې ده، مونږ قرآن ګورو چې نه یواځې د دین زده کړه او د قرآن پوهه یې د ټولو حق ګرځولې؛ بلکې په هغو یې فرض ګرځولې، او ټولو ته یې لارښوونه کړې چې قرآن ولولي، ځان وربانديپوهه کړي، په معنا کې غور وکړي او بیا یې پلې کړي ﴿كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ﴾ (سورة ص: ٢٩).

ایمان او عبادتونه د انسان او رب ترمینځ وي، او د بل هیچا پکې کوم غوراوي او واسطه نشته، الله خپل بندګانو ته نږدې ده دعاوې اوري او قبلوي یې، عبادت او لمونځ یې ګوري او ثواب پرې ورکوي، او هیڅ یو انسان د بل انسان د ببښنې او د توبې قبلولو واک نه لري، او هر کله چې بنده الله ته توبه وباسي او عبادت یې وکړي؛ الله یې توبه مني او ببښنه ورته کوي، او الله ټولو ته نږدې دي چې هغه ته مخه کړي او هغه راوبلي، الله په قرآن کې



وايي: ﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ﴾ (البقرة: ١٨٦) «او کله چې درنه زما بندګان زما پوښتنه کوي؛ نو زه (ټولو ته) نږدې یم او د دعاکونکی دعا قبلوم کله چې ما راوبلي، او پر ما دې باور ولري تر څو د سمې لار پیروان شي».



قرآن دا ثابته کړې چې الله تعالی له ټولو نه زيات نږدې ده کله چې غواړې هغه ته مخ که او دعا تر وغواړه.

### آیا اسلام ته د ننوتلو کوم ځانګړې دود شته؟

څوک چې په اسلام راوړلو پوره ډاډمن شي نو هغه لپاره کوم پیچلي دودونه او مراسم نشته چې کوم ځای ته ولاړ شي او یا د کوم ځانګړي شخص په شتون کې، خو دا ورله بسنه کوي چې په دوه ګوني ګواهي په خوله ووایي، په معنی یې ځان پوهه کړي، کلک یقین وربانديولري، او په هغه څه چې دلالت کوي هغې ته غاړه کیږدي، هغه دوه ګواهیانې دا دي:

- ګواهي ورکوم چې نشته هیڅ معبود مګر الله (یعني: زه دا باور لرم او دا ګواهي ورکوم چې د الله پرته بل هیڅ په حقه د عبادت وړ نشته، او زه یې یواځې عبادت کوم پرته له کوم شریک نه)
- او ګواهي ورکوم چې محمد د الله رسول دی (یعنی: زه دا ګواهي کوم چې محمد الله ټولو خلکو ته رسول (استازي) رالیږلی دې، زه یې ټول حکمونه قبلوم، او له څه نه یې چې منعه کړې ځان ترینه منع کوم، او د هغه د شریعت سره سم به د الله عبادت کوم)



# پیغمبران په حقیقت کې څوک دي؟

الله تعالی انسانان د خپل عبادت لپاره پیدا کړي، او هغوي ته پیغمبران رالیږلی تر څو هغوي دین زده کړي، او د هغوي د اصلاح د دنیا او آخرت د اصلاح کوښښ وکړي، له هر ډول انحراف په وړاندي مقاومت وکړي، او د خپلو قومونو لپاره غوره نموني وګرځي، تر د خلکو په الله د ایمان نه راوړلو کومه پلمه پاتي نشي.. نو د دي پیغمبرانو حقیقت څه؟

## د پیغمبرانو بشریت

قرآن په ډېر آیتونو کې ټینګار کړې چې ټول پیغمبران انسانان وو خو الله په وحي رالیږلو ځانګړي کړي وو، او د خپل دین او پیغام رسولو لپاره یې ستر استقامت او پاکي وربه برخه کړې وه، په قرآن کې راغلي ﴿قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ﴾ (الكهف: ١١٠) «ورته ووایه: زه ستاسو په څیر انسان یم خو وحي کیږي».

نو ټول پیغبران انسانان وو، د انسانانو په څیر زیږیدل شوي، او د هغوی په ډول مړ شوي، او د هغوی په شان ناروغ شوي، او د بدني جوړښت او اړتیاو له پلوه ورسره کوم بدلون نه لري.

په هغوی کې د الوهیت (خدایتوب) هیڅ نه وو، ځکه الوهیت یواځې الله له لره دي، مګر هغوی ته د ملایکو په وسیله او یا په نورو لارو وحي کیدله.

ځینو مخکینیو امتونو وحي نااشنا ګڼلې نو الله د دوی تعجب غندلي او بې توجیه یې بللي، ځکه وحي خلکو ته د الله د ښوونو درسولو سمه لار ده ﴿أَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا أَنْ أَوْحَيْنَا إِلَى رَجُلٍ مِّنْهُمْ أَنْ أَنذِرِ النَّاسَ وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا أَنَّ لَهُمْ قَدَمَ صِدْقٍ عِندَ رَبِّهِمْ قَالَ الْكَافِرُونَ إِنَّ هَذَا لَسَاحِرٌ مُّبِينٌ﴾ (یونس: ٢).

## د رسولانو د مقام په هکله اعتدال

الله تعالی د خپل رسالت لپاره رسولان په مخلوق کې غورچاڼ کړي، او هغوی ته یې لوی استقامت او صلاحیت ورکړي، او قرآن د ټولو رسولانو په هکله وېلي چې هغوی په هدایت وو، نیکې کړنې یې کولې، په ټول مخلوق غوره شوي وو ﴿وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ كُلًّا هَدَيْنَا وَنُوحًا هَدَيْنَا مِن قَبْلُ وَمِن ذُرِّيَّتِهِ دَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ وَمُوسَى وَهَارُونَ وَكَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ • وَزَكَرِيَّا وَيَحْيَى وَعِيسَى وَإِلْيَاسَ كُلٌّ مِّنَ الصَّالِحِينَ • وَإِسْمَاعِيلَ وَالْيَسَعَ وَيُونُسَ وَلُوطًا وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى الْعَالَمِينَ • وَمِنْ آبَائِهِمْ وَذُرِّيَّاتِهِمْ وَإِخْوَانِهِمْ وَاجْتَبَيْنَاهُمْ وَهَدَيْنَاهُمْ إِلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ﴾ (الأنعام: ٨٤- ٨٧).

او که له کوم رسول څخه خطا وشي نو الله یې د خطا تایید نه کوي، بلکې د سمون او توبې لارښوونه ورته کوي، او دغه خطا به له اجتهاد لامله رامینځ ته شوې وي نه په قصدي توګه.

قرآن د پیغمبرانو ډېر په بارکتیا سره صفت کړي، چې په دې کې نه زیاتوالي شته او نه کموالي، هغوی له لویو ګناهونو پاک ګڼلي، سره دې چې هغوی نه خدایان ول او نه د خدایانو بچي وو بلکې انسانان ول، او د ربوبیت او الوهیت (خدایتوب) هیڅ کومه ځانګړنه یې نه درلوده.

او دغه خبرې مونږ ته د قرآن له هغې مرکې څخه راښکاره کیږي کومه چې د قیامت په ورځ د عیسی عليه السلام د خلکو له بندګۍ نه د برائت (پاکي) په ډاګه کولو



په موخه د الله او د عیسی ترمینځ ترسره کیږي ﴿وَإِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ أَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَهَيْنِ مِن دُونِ اللَّهِ قَالَ سُبْحَانَكَ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أَقُولَ مَا لَيْسَ لِي بِحَقٍّ إِنْ كُنتُ قُلْتُهُ فَقَدْ عَلِمْتَهُ تَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِي وَلَا أَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِكَ إِنَّكَ أَنتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ - مَا قُلْتُ لَهُمْ إِلَّا مَا أَمَرْتَنِي بِهِ أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ وَكُنتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَا دُمْتُ فِيهِمْ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنتَ أَنتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ وَأَنتَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ﴾ (المائدة: ١١٦- ١١٧) «او کله چې وواېي الله: ای دعیسی ځوی د مریم! آیا تا خلکو ته وېلي چې ما او زما مور الهان (خدایان) وګرځوی پرته له الله نه؟ هغه (عیسی) ووېل: پاکي ده تاله، زما لپاره ندي روا چې هغه څه ووایم چې زما لپاره حق نه وي، که چیرې ما وېلي وي نو تا به خامخا پوهه وي، ځکه ته زما په ځان پوهیږې او زه ستا په نفس نه پوهیږم، یقینا ته ښه پوهه په پټو رازونو* ما ورته ندي وېلي مګر هغه څه چې تا راته پرې حکم دي چې د الله عبادت وکړئ چې زما رب هم دي او ستاسو رب هم دي، او زه وربادني تر هغې ګواه تر څو چې زه ژوندي وم، پس هر کله چې تا زه مړ کړم نو ته وربادني نګاهبان وې، او یقینا ته په هر څه باندي ګواه یې».

## د رسولان په هکله د اسلام دریځ

ځینې خلک داسې انګیرې چې قرآن یواځې د محمد ﷺ کیسې او خبرې دي، او حیرانیږي چې کله خبر شي چې قرآن د عیسی عليه السلام یادونه کړې او پر لوی مقام یې یاد کړي، او پر هغې یې د تورونه ٢٥ ځل برائت ذکر کړي، او د موسی عليه السلام نوم یې ١٣٦ ځل ذکر کړي، مګر د محمد ﷺ نوم یې یواځې ٥ ځل یاد کړي.

سره له چې د نورو ادیانو اتباع پرته له خپلو پیغمبرانو په نورو اعتراف نه کوي، او ځینې ورسره دښمني کوي، مګر څوک قرآن ولولي ادا خبره ورته جوته کیږي چې انسان د تر هغې پورې مسلمان ګیدلای نشي تر څو چې یې په ټولو رسولانو ایمان نه وي راوړی، او که په یو رسول یې کفر وکړ؛ یا یې د هغه په رسولتوب کې شک وکړ؛ او یا یې په ناروا تورن کړ؛ نو دغه انسان له اسلام څخه ووت، قرآن ټینګار کړی چې رسول الله او پر هغه مومنان په هغه څه ایمان لري چې د الله له لوري راغلي وي، ځکه خو دوی په الله، په ملائکو او په رسولانو ایمان لري، او په ایمان کې د دوی ترمینځ کوم جلاتوب نه کوي ﴿آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ﴾ (البقرة: ٢٨٥).



# د عیسی علیه السلام په هکله د اسلام دریځ

د تاريخ په اوږدو کې عیسی علیه السلام له سترو هستيو بلل شوي؛ چا چې په انسانیت کې ډیر خیر خپور کړي، نو د ده په هکله د خلکو دریځونه جلا دي: ځینو خو رب (خداي) یا د رب ځوي یې بللي، او ځینو په عیبونو او د درواغو په تورونو تورن کړي، نو د عیسی علیه السلام په هکله د اسلام څه دریځ دي؟

## ۱ عیسی له سترو رسولانو څخه دی

قرآن ټینګار کوي چې عیسی عليه السلام له سترو او لوړ مقامو رسولانو له ډلې څخه وو، او مور یې (مریم) یوه ریښتونې؛ الله ته غاړه کېښودونکې او عبادت کونکې، عفیفه، او پاکدامنه ښځه وه، د الله په قدرت یې عیسی عليه السلام پرته له پلاره په ګېډه شوی وو، او داسې د معجزې په ډول یې پیدا کړ لکه څرنګه چې آدم پرته له مور او پلار څخه پیدا کړل، قرآن دا خبره داسې وړاندې کوي فیکون ﴿إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ خَلَقَهُ مِن تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُن فَيَكُونُ﴾ (آل عمران: ٥٩) «یقینا د الله په نزد د عیسی مثال د آدم عليه السلام په څیر دې چې له خاورو یې پیدا کړې وو او بیا یې ورته ویلې وې: جوړ شه، نو هغه جوړ شو».

## ۲ مسلمان د هغه په معجزاتو ایمان لري

هر مسلمان د هغه معجزاتو ایمان لري کومې چې الله ورته ورکړې وې، لکه د برګې ناروغه او ړوند درملنه، د مړو ژوندي کول، د خلکو په خوراک او په کورو ساتل شوي څیزونو خبر ورکول، او دا ټول کارونه یې د الله په مرسته کول، او الله دا ټولې معجزې د هغه په ریښتونې پیغمبرتوب او رسالت ښکاره دلیلونه ګرځولې دي.

## ۳ الله ورباندې مقدس انجیل رالیږلی وو

قرآن ټینګار کوي چې الله په عیسی عليه السلام یو ستر کتاب –چې هغه انجیل دی- رالیږلی وو، د خلکو دلارښوونې، رڼا او رحمت لپاره، او د تاریخ په اوږدو کې بیا دغه انجیل له بدلون، تحریف او تاویل سره مخ شو.

## ٤ هغه انسان وو؛ اله (خداي) نه وو

قرآن ټینګار کوي چې عیسی عليه السلام د بنی آدم له ډلې څخه یو انسان و، الله ورباندې خپله پیرزوینه کړې وه او بنی اسرائیلو ته رالیږلی وو؛ او له ځینو معجزاتو څخه برخمن کړې وو، او د ربوبیت او الوهیت (خدایتوب) هیڅ ډول ځانګړتیاوې نه درلودلې، لکه څرنګه چې قرآن وایي: ﴿إِنْ هُوَ إِلَّا عَبْدٌ أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ وَجَعَلْنَاهُ مَثَلًا لِّبَنِي إِسْرَائِيلَ﴾ (الزخرف: ٥٩) «نه وو (عیسی) مګر یو بنده چې مونږ ورباندې پیرزوینه کړې وه او د بنې اسرئیلو لپاره مو ښه نمونه ګرځولې وه».



## ٥ هغه په دار نه دي ځړول شوي بلکې آسمان ته پورته شوي

عیسی عليه السلام د اسلام له نظره نه وژل شوي او نه په دار شوي، کله چې د هغه دښمنانو د هغه د مرګ هوډ وکړ؛ الله د هغه په څیر بل کس وګرځولو؛ او دښمنانو ورباندې د عیسی ګومان وکړ او هغه یې وواژه، او عیسی عليه السلام الله ژوندی اسمان ته پورته کړ، لکه په قرآن کې راغلي ﴿وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيحَ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ اللَّهِ وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَٰكِن شُبِّهَ لَهُمْ وَإِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِيهِ لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ مَا لَهُم بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا • بَل رَّفَعَهُ اللَّهُ إِلَيْهِ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا﴾ (النساء: ١٥٧–١٥٨).



## د پیغمبرانو شجرې

د ځینو نامتو پیغمبرانو لنډ شالید:

**آدم:**
د ټولو انسانانو پلار، الله له خاورې پیدا کړی، او ملائکو ورته سجده کړې، او له جنت څخه یې ځمکې ته راښکته کړی

**نوح:**
خپل قوم ته یې دعوت ورکړ، هغوی ورباندې کفر وکړ؛ نو الله ورباندې طوفان راولیږه، او نوح سره له مومنانو په کښتۍ نجات وموند.

**ابراهیم:**
د پغمبرانو پلار، او له سترو پیغمبرانو چې د الله توحید ته یې دعوت کړی، او لومړی هغه کس وو چې کعبه یې جوړه کړې وه.

**اسماعیل:**
د ابراهیم ځوی وو چې پلار سره یې د کعبې په جوړولو کې برخه اخیستلې وه.

**اسحاق:**
دا هم د ابراهیم ځوی وو، او له هغې وروسته وزیږیده چې ملائکو یې پلار ته زیرې ورکړ

**یعقوب:**
د اسحاق ځوی وو، چې د «اسرائیل» په نوم یادیده، او د بني اسرئیل نسبت ورته کیږي.

**یوسف:**
د یعقوب ځوي، له بیلابیلو ازموینو وروسته د مصر حاکم وگرځید.



**موسی:**
یو له سترو پیغمبرانو وو چې الله بنی اسرئیلو ته رالیږلي وو، او تورات یې ورباندې نازل کړی وو، ځینې معجزې یې ورکړې وې، د مصر پاچا «فرعون» درواغجن وګڼه؛ چې الله په بحر کې غرق کړ، او موسی او ملګرو ته یې نجات ورکړ.

**داود:**
داسې پیغمبر وو چې الله ورته په خپل قوم پاچاهي ورکړې وه.

**سلیمان:**
د داود ځوی، الله ورته ستره پاچاهي ورکړې وه، او ډیر مخلوقات یې تابع وو.

**زکریا:**
یو له هغې پیغمبرانو وو چې بنی اسرئیلو ته رالیږل شوی وو، د عیسی عليه السلام د مور مریم پالنه او روزنه یې کړې وه، سره له دې چې عمر یې ډیر وو او ښځه یې شنډه وه؛ الله ورته په بخشش کې «یحیی» په نوم ځوی ورکړ.

**عیسی:**
یو له سترو پیغمبرانو وو، الله له مور پرته له پلار پیدا کړ، او بنی اسرئیلو ته یې رالیږلی وو، انجیل یې وربانديې رالیږلي وو، او ډول ډول معجزې یې ورکړې وې

**محمد:**
اخیري پیغمبر چې رسولانو څنځیر وربانديې پای ته رسیدلی، الله ټولو انسانانو ته رالیږلي وو، قرآن وربانديې نازل شوی وو..

# د اسلام دین پیغمبر ځوک دی؟



د اسلام یو پیغمبر چې نوم یې محمد ده،
او یوائینی هغه نوم دی چې ټوله نړۍ کې
غزیدلی.
خلکو به د اخلاقو او افعالو په وجه دی باندی
حمد او ثنا ویلل.
محمد ځوک ده؟

## د اسلام د پیغمبر نوم:

محمد د عبد الله ځوي د عبد المطلب لمسی د هاشم کړوسي، چې د قریشو له ټبره وو.

چې په (۵۷۰م) کې زیږیدلي او په (۶۳۲م) کال وفات شوي.

- **ټولو انسانانو لپاره پیغمبر وو**

الله تعالی محمد ﷺ ټول انسانیت ټول جنس او رنګ ته رالیږلي دي، او پر هغوي د هغه خبره منل واجب کړي. قرآن په هکله وايي: ﴿قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا﴾ (الأعراف: ۱۵۸) «ورته ووایه: ای خلکو! زه د الله رسول یم تاسو ټولو لپاره».

- **الله وربانديې قرآن رالیږلی**

الله پر محمد ﷺ خپل آخرني ستر کتاب قرآن رالیږلی چې له هر ډول باطل څخه پاک دي.

- **محمد ﷺ باندي د ټولو پیغمبرانو او رسولانو ځنځیر پای ته رسیدلي**

الله تعالی محمد ﷺ خپل اخري پیغمبر ګرځولي، له هغه وروسته به بل پیغمبر نه راځي، لکه چې قرآن وايي: ﴿وَلَكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ﴾ (الأحزاب: ٤٠) «مګر (محمد) دالله اخیری رسول دي او د پیغبرانو کړی وربانديې پای ته رسیدلې».





## په لنډو ټکو کې د اسلام د پیغمبر پیژندګلوي

### ۱- زیږیدنه

د جزیرة العرب په لویدیځ مکې کې په (۵۷۰م) کال کې یتیم زیږدلي، په ډیر کوچنیتوب کې د مور له غیږې هم بې برخه شو، لومړی پالنه او روزنه یې د خپل نیکه عبد المطلب له لوري شوي، بیا تر ځوانۍ د خپل تره ابو طالب له لاس لاندي راټوکیدلي.

### ۲- راټوکیدل او ژوند يي:

له پیغمبرۍ نه مخکي (۵۷۰-۶۰۹م) ځلویښت کاله یې په خپله قبیله قریشو کې تیر کړي؛ د غوره اخلاقو، ښه استقامت او د ښه امتیاز نمونه بلل کیده، او د ریښتوني او امانتدار «الصادق الأمین» لقب يي ګټلی وو، لومړي شپونکی وو بیا یي تجارت پیل کړ.

له اسلام د راتګ نه مخکي له شرک څخه پاک وو، او د ابرهیم د ملت په قملرو کې به د الله عبادت کولو، د بتانو له عبادت او له شرکي کړنو سره سخت مخالف وو، سره له دي چې امي (بی‌سواده) وو؛ لیک لوست یې نشو کولای.

### ۳- پیغمبرتوب

محمد ﷺ به د «جبل النور» په «حراء» غار کې د الله عبادت کولو او د هغه په مخلوقاتو کې به یې سوچ کولو، کله چې ځلویښت کلن شو د الله له لوري ورته وحي پیل شوه، او د قرآن لومړي نازل شوي آیتونه دا وو ﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ﴾ (العلق: ۱) ژباړه: «ولوله په نوم د خپل رب چې پیدایښت يي کړي» او دي آیتونو د نوي عصر پیل اعلان کړل چې په پوهه، لوست، رڼا او د خلکو په لارښوونه ولاړ دي، بیا وروسته د قرآن پرلپسي نزول درویشت کاله دوام موند.



## ٤- د عوت پیل

په پیل کې رسول الله دري کاله پټ دعوت وکړ، بیا یې په مکه کې ښکاره دعوت پیل کړ؛ چې ډېر پیروان یې ناچاره او بې وسه خلک وو، د قریشو له لورې مسلمانانو ډېرې ربړونې او زحمتونه وګالل، بیا رسول الله هغو قبائلو ته دعوت پیل کړ کومې چې مکې ته د حج لپاره راتللې، د مدینې خلکو یې دعوت قبول کړ چې بیا د مدینې په لور د مسلمانانو ډلې ډلې هجرتونه پیل شول.

## ٥- هجرت یې

په مکه کې رسول الله ﷺ له ډول ډول کړاونو سره مخ شو، کله چې د قریشو مخورو د رسول الله د مرګ توطیه پلان کړه؛ چې د الله په امر یې په (٦٢٢م) کال کې مدینې منورې ته -چې د «یثرب» په نوم یادیده- هجرت وکړ چې په دغه وخت یې عمر ٥٣ کاله وو، او هلته یې خلکو ته په لمونځ، زکات، ښه اخلاقو او د دین په نورو مسئلو امر وکړ.





## ٦- د اسلام خپرونه

کله چې رسول الله مدینې منورې په (٦٢٢م) کال کې هجرت وکړ نو هلته یې د اسلامي تمدن تخم وکاره، او د اسلامي ټولنې بنسټونه یې کېښودل؛ او هر ډول تعصبونه یې مینځ یوړل، پوهه او علم یې خپور کړل، د عدل، مرستې او وروړګلوۍ کلتور یې خلکو ته وړاندې کړ، خو ځینو قبائلو غوښتل چې د اسلام د خپریدو مخه ونیسي؛ چې په نتیجه کې یو څو جنګونه وشول او الله سوبه د خپل دین او رسول په برخه کړه، چې بیا ډلې ډلې خلکو اسلام ته غاړه کېښوده او د مکې په شمول ډېرو ښارونو او بانډو پخپله خوښه او قناعت سره اسلام خپل کړ.

## ٧- مړینه یې



وروسته له هغې چې الله خپل پشپړ دین نازل کړ او رسول الله ﷺ پوره رسالت خپل امت ته وړاندې کړه؛ د صفرې میاشت رسول الله په تبه ناروغه شو او بیا وروباندې ناروغي سخته شو، چې بیا د دوشنبې په ورځ چې د ١١ هجری کال د ربیع الأول په ١٢ نیټه سمون خورې وفات شو، او نږدې درې شپیته کاله عمر یې وو، او د خپلې ګرانې بې بې عائشه په کوټه کې د مسجد نبوي ترڅنګ ځمکې ته وسپارل شو.



# محمد رسول الله د منصفینو په نظر کې

که یو منصف – اګر که له هر کلتور سره تړاو ولري- د محمد رسول الله ﷺ د ژوند کړه وړه ولولي؛ خامخا به ترینه اغیزمن کیږي، او مونږ له ختیځ او لودیځ ډیر پوهان، فیلسوفان او ادیبان ګورو چې د دې خبرې ګواهان دي، او په خپلو آثارو او لیکنو کې یې کښلي دي، لکه د بیلګې په ډول:



مهاتما ګاندي وايي: غوښتل مي چې د هغه سړي خويونه معلوم کړم د مليونونو انسانو زړونه يې په ريښتيا ګټلي.. زه پدي خبره پشپړ قانع شوم چې اسلام يواځي خپل مقام د توري له لوري ندي خپل کړي، بلکې د رسول الله له ساده ژوند، د هغه له ريښتيا، اخلاص او له ملګرو سره د خلوص، د هغه له زړورتيا او پر خپل رب باندي پوره بروسه، او پخپل رسالت پشپړ يقين لرو څخه. دا هغه صفات دي چې هغه ته لاره هواره کړه، او کړاونه يې ورنه لري کړل؛ نه توره. کله چې مي د رسول الله د ژوند دوهم ټوک ولوست ځان مي ډير ملامت کړ چې د هغه د ستر ژوند په هکله مي نور ډير څه پيدا نه کړل چې د هغه په ژوند ځان خبر کړم.

Mahatma Gandhi, statement published i
‹Young India,› 11/ 9 /1924

> غواړم چې يو داسی سړي له صفاتو ځان خبر کړم چې بغير د کومی جګړی د لکونو انسانانو زړونه يې وګټل، او په دی قانع شومه چې اسلام د توری په زور خپل ځان پر خلکو نه دی پېژندلی.



مايکل هـ. هارت د خپل نامتو کتاب «د تاريخ ۱۰۰ ستر خلک» پيل له محمد ﷺ څخه کړي، او د دي غوروالي لامل داسي په ډاګه کوي: (زما د محمد د تاريخ سل (۱۰۰) مهمو او سترو سړو په نوملړ کې لومړي غوره کول به ډير لوستونکي حيران کړي؛ مګر هغه په تاريخ کې يواځيني سړی دي چې هم په ديني سطحه او هم په دينوي سطحه په ستره بريا سره برياليی شوي و).

کتاب: د تاريخ ستر اغيزمن سل خلک، مخ: ۳.





د فرنسا نامتو شاعر «الپونس ډو لامارتين» په خپل کتاب «د ترکيا تاريخ» کې وايي: (د سړو د نابغه توب دري نښې دي: لوړ همت، کمزوري وسائل، او ډيري لاسته راوړني. څوک به دا سپينسترګي وکړي چې محمد د تاريخ له نورو لويانو سره په پرتله کړي؟!).

کتاب: د ترکيا تاريخ، ټوک: ۱، مخ: ۱۱۱.



هندي فيلسوف «کونيرو راماکريشنا» ويلي: (وختونو بدلون وکړ؛ مګر محمد بدلون ونګړ، نه په سوبه او نه په ماته کې، نه په واکدارۍ کې او نه په کړاونو کې، نه په شتمنۍ کې او نه په بې چارې کې. هغه هم هغه سړي وو او له هم هغه ځانګړتياو سره، لکه څرنګه چې الله د ټولو پيغمبرانو سره تګلاره ده چې بيخي نه بدليدونکي ده).

کتاب: «محمد: د اسلام پيغمبر» مخ: ۲۴.



د آلمانيا ستر شاعر «ګوت» خپلي محبوبي ته خپله مينه له اسلام او له محمد سره داسي په ډاګه کوي: (اګر که زه اويا کلن شوي يم؛ خو زما مينه له اسلام سره نه ده کمه شوي، بلکې نوره هم لويږي او پخيږي).

کتاب: «کاتارينا مومزن» د «ګوت» په هکله خپل کتاب کې، مخ: ۱۷۷.

پروفيسور جيمز ويليام ستوبارټ ويلي: په ټول تاريخ کې داسي يوه بيلګه نشو پيدا کولي چې د محمد شخصيت ته نږدې شي.. سره له لږو وسائلو يې ستري کارنامې کړي، او که مونږ له دي ارخه تاريخ ولولو نو داسي نوم به پيدا نه کړو چې د عربي محمد په څير ځليږي، او د هغه په ډول ښکاره وي.

کتاب: اسلام او د هغه جوړونکی، مخ: ۲۲۷-۲۲۸.



سایمون اوکلي «پخپل کتاب» د اسلامي امپراتورۍ «تاریخ» کې وايي: (د اسلامي دعوت خپریدل د حیرانتیا خبره نده، بلکې د تاریخ په اوږدوکي د هغې ژوندي او ټینګ پاتې کېدل دي، او هغه ځلانده انطباع چې محمد په مکه او مدینې کې خپره کړې؛ نن هم هغه د ترکانو، افریقایانو او د هندوستان په مسلمانانو کې ده، اګر که دوی تازه له قرآن سره اشنا شوي).
کتاب: د اسلامي امپراتورۍ تاریخ، پاڼه: ۴۵.

> د محمد صلی الله علیه وسلم غوره اخلاق چې مکه او مدینه کې یې کرلي وول د هغو په واسطه په اوس وخت کې ډېرو هندوانو، افریقایانو او ترکانو ورته د زړه له کومې هر کلی وکړ.
> سایمون أوکلي



ویل ډیورانټ په خپل نامتو پوهنغونډ «د تمدن کیسه» کې وايي:

که چیرې مونږ د لویوالي قضاوت په خلکو کې اغیزمنتیا کوو؛ نو وایو: چې محمد د تاریخ د سترو ستر دي، ځکه هغه وکولای شو چې یو داسې ملت روحي او اخلاقي مستوی پورته کړي چې د بربریت په تیارو کې، د تودې هوا او د وچې صحرا ترمینځ یې ژوند کړی وي، او هغه په خپله موخه کې داسې بریالی شوی چې په تاریخ کې یې سیال نشته، او داسې بله بیلګه نشته چې خپله هیله یې داسې پوره کړي وي لکه هغه... د هغه د دعوت په پیل کې د عربو قبائل په سپیره صحرا کې ووسیدل، او د بوتان عبادت به یې کولو، شمیر یې لږ وو، په خپل مینځ کې سره بې اتفاقه وو، مګر د هغه (محمد) د مړینې په وخت سره یو موټي امت وو او د یو بل کلک ملاتړ وو. هغه وکولای شو چې د هر ډول تعصب او تریګنې مخې ونیسي، هر ډول خرافات او چټي رسومات یې له مینځ یوړل، او د یهودیت، مسیحیت او د خپل قوم پخواني دین سربیره یې داسې آسان او ښکاره دین راوړ چې په ښو اخلاقو، زړورتیا او په عزت ولاړ وو، او هغه وکولای شو چې په یو کُول (نسل) کې په سلو جګړو کې سوبه ترلاسه کړي، او په یوه پیړۍ کې یې ستر دولت جوړ کړ؛ چې له زور او ستر خطر سره د نړۍ په نیمه برخه کې کې واک لري.



د محمدﷺ یو ستر دښمن -له اسلام راوړلو نه وروسته- خپله نا اشنا کیسې داسې کوي،
کله چې رسول اللهﷺ پیغام د روم پاچا «هرقل» ته په (۶۲۸م) کال کې ورسید او هغه ته پکښې د اسلام بلنه ورکړل شوې وه، هغه حیران شو، له خپل درباریانو څخه یې وغوښتل چې له عربو ورته یو داسې څوک راولي چې هم رسول اللهﷺ پیژني او هم یې خپل وي، په دغه وخت کې ابوسفیان د تجارت لپاره شام ته تللی وو (په دغه وخت هغه د قریشو یو سردار او درسول الله مخکښ دښمن وو)، نو ابوسفیان سره له ملګرو د پاچا ماڼې ته راوبلل شو، هرقل ترینه د خپل ژباړونکي په مرسته ځینې ژورې او له حکمته ډکې پوښتنې وکړې؛ چې د رسول الله ریښتینولي ځرګنده کړي، کله چې هرقل د ابوسفیان ځوابونه واوریدل، نو ابوسفیان ته یې وویل:

ما درنه د هغه د نسب په هکله وپوښتل؛ نو تا راته وویل چې هغه په مونږ کې د لوړ نسب لرونکی دي، او همدا ډول رسولان د لوړ نسب لرونکې وي. او ما درنه وپوښتل چې آیا په تاسو کې بل چا د پیغمبرتوب دعوی کړې، تا وویل: نه، نو ما وویل که چیرې بل چا دا دعوی کړې وه؛ نو تا به ویل چې د مخکنو خلکو پیروي کوي.

او ما درنه وپوښتل چې آیا تاسو پر هغه له پیغمبرتوب نه مخکې د دروغو تور پورې کړې وو؟ نو تا وویل چې نه، نو زه پوهه شوم څنګه به هغه په خلکو دروغ ویل پرېږدي او په الله به دروغ وواېي!.

او ما درنه وپوښتل چې مخور خلک یې پیروي کوي که کمزوري؟ تا وویل چې کمزوي، او همدوي د رسولانو ملګري وي. او ما درنه وپوښتل چې ډیریږي او که کمیږي؟ نو تا وویل چې ډیریږي، او همدا ډول ایمان هم وي؛ تر هغې چې پوره شي.

او ما درنه وپوښتل چې آیا کوم یو تن د ناخوښۍ له امله بیرته خپل دین پرینبودلی، تا وویل چې نه، او همدارنګه ایمان وي؛ چې کله خوږوالي زړونو سره ګډوډ شي.

او ما درنه وپوښتل: آیا چل (دوکه) کوي؟ ته وویل چې نه، او همدرنګه رسولان دوکه نه کوي.

او ما درنه وپوښتل چې په څه درته امر کوي؟ ته وویل چې هغه د الله په عبادت امر کوي پرته له کوم شریک څخه، او هغه د بتانو له عبادت ژغورل کوي، او امر کوي په لمونځ په ریښتینولي په پاک دامني..

که چیرې تا ریښتیا ویلي وي؛ نو هغه به خامخا زما د پښو لاندې ځایی په خپل واک کې واخلي، او زه پوهه وم چې هغه (پیغمبر) به راځي خو ما دا باور نه وو چې په تاسو کې به وي، او که زه پوهیدلای چې تر هغه لاسرسی کولای شم نو ما به د هغه د لیدو ډیر کوښښ کړی وو. (البخاري: ۷)



# د محمد رسول الله له کیسو او اخلاقو څخه

رسول

رسول الله ﷺ د انساني لوړو اخلاقو يوه داسې نمونه وه چې د ختيځ او لويديځ منصفينو يې ګواهي کړې بلکې دښمنانو يې هم، ځکه خو د دې جوګه شو چې قرآن يې اخلاقو ته د لوی اخلاقو صفت ورکړ..

له عائشي ﵂ څخه د محمد رسول الله د اخلاقو په هكله وپوښتل شول، نو هغې د هغه اخلاق په دې وينا كې راټول كړل: (د هغه اخلاق قرآن و) پدې معنى: چې هغه د قرآن دلارښوونو او اخلاقو يوه ژوندۍ نمونه وه، دا يو څو د هغه اخلاقو او كيسو بيلګې دي:

## تواضع (خاكساري)

رسول الله به دا بد ګڼل چې څوک دې د هغه شخصي درناوي په موخه هغه ته ورپاڅيږي، بلكې هغه به خپل ملګرې (صحابه) ﵃ له دې كار نه منع كول؛ نو كله چې به هغوي وليد نه به ولاړيدل؛ څكه هغوي په دې پوهه وو چې هغه دا (ولاړيدل) بد ګڼي. (احمد: ١٢٣٤٥)

عدي بن حاتم د عربو له مخورو او سردارانو څخه وو، له اسلام راوړلو نه مخكې رسول الله ته په دې موخه راغلی د هغه ريښتينولي جوته كړي، داسي وايي: «فأتيته فإذا عنده امرأة وصبيان أو صبي -فذكر قربهم من النبي ﷺ فعرفت أنه ليس ملك كسرى ولا قيصر» «كله چې ورته راغلم نو يوه ښځه او كوچنيان ورسره وو، كوچنيان ورسره نږدې وو، نو زه پوهه شوم چې نه د كسرى او نه قيصر په څير پاچا دي» (احمد: ١٩٣٨١) نو تواضع د ټولو پيغمبرانو اخلاق دي.

هغه به له ملګرو (صحابو) سره داسي كيناسته لكه هغه چې د هغوي څخه عام يو كس وي، او خپله ناسته به يې په كوم امتيازي ډول نه ښكاره كوله، تر دې چې كله به يو نا اشنا څوک راغلي په مجلس كې به يې د هغه پوښتنه كوله: په تاسو كې محمد كوم يو دی؟ (البخاري: ٦٣).

> محمد صلى الله عليه وسلم به د خپل ضرورت شيان به زانته ترتيبول، او د كور په كارونو كې به خپلې ښځې سر كمک كولو.





يو صحابي يې كيسه كوي: سره له دې چې رسول الله به ډير كارونه درلودل خو د خلكو د اړتياو او ګټو پوره كولو څخه به يې مخ نه اړه وو، او كله خو به د مدينې يوه خادمه راغله او په كومه لوري چې به يې خوښه وه رسول الله ﷺ به يې په خپلې اړتيا پوره كولو په موخه بيولو (البخاري: ٥٧٢٤).

يوه ورځ مخور صحابي عمر بن خطاب مسجد ته ولاړ چې د محمد رسول الله ﷺ پر بغل يې د بزكې (هغه جانماز چې د كجورو له پاڼو څخه جوړ شوي وي) تغمې (نښې) وليدلې نو په ژړا شوي، نو رسول الله ورته وويل: «ما يبكيك؟» «ولې ژاړې؟» نو عمر وويل: اى د الله رسوله كسرى او قيصر په څومره نعمتونو كې دي، او ته د الله رسول يې! نو هغه وويل: «أما ترضى أن تكون لهم الدنيا ولنا الآخرة؟» «آيا ته په دې خوښ نه يې چې دا نعمتونه هغوي لپاره په دنيا كې وي او زمونږ لپاره په آخرت كې؟» (البخاري: ٣٥٠٣).

هغه (رسول الله ﷺ) به خپل سامان پخپله جوړولو، د خپلې ښځو خدمت به يې كولو، او هغوي سره به يې د كور په كارو كې ونډه اخيسته، يو ځل له عائشې ل د هغه د كورني ژوند په هكله وپوښتل شول؛ هغې وويل: «كان يكون في مهنة أهله» «هغه به د خپلو ښځو خدمت كولو» (البخاري: ٦٤٤) او هغې دا هم ويلې: «كما يصنع أحدكم: يخصف نعله، ويرقع ثوبه» «ستاسو په څير به هغه خپلې پڼې جوړولې او خپلو جامو ته به يې پينه اچوله» (احمد: ٢٤٧٤٩).

رسول الله ويلي: «لا يدخل الجنة من كان في قلبه مثقال ذرة من كبر» «جنت ته به هغه څوک ولاړ نشي چې په زړه كې يې د ذرې په كچ لوبې (تكبر) وي» (مسلم: ٩١).



## رحم کول

رسول الله ﷺ ویلي دي: «الراحمون يرحمهم الرحمن، ارحموا من في الأرض يرحمكم من في السماء» «په رحم کونکو رحمن رحم کوي، تاسو په هغه چا رحم وکړئ چې ځمکه کې د ي؛ پر تاسو به هغه څوک رحم وکړي چې په آسمان کې دی» (ابو داود: ۴۹۴۱).

د نبيﷺ رحم په مختلف ډولونه مونږ ته رابرېښي:

## د هغه په کوچنيانو رحم کول

- سره له دي چې لمونځ د اسلام د ملا تير بلل کيږي، خبري او ډير خوځيدل پکي نه دي روا، خو يوه ورځ رسول الله لمونځ په داسي حال وکړ چې خپله لمسۍ امامه بنت زينب يي په غيږ کي وه، چې کله به يي سجده کوله نو هغه به يي په ځمکه کينوله، او کله چې به ولاړ شو نو هغه به يي په غيږ کي واخيسته. (البخاري: ۴۹۴).
- چي به يي د لمانځه امامتي کوله او د ماشوم ژړا به يي واوريدله؛ نو لمونځ به يي لنډ کړ، او ويلي يي دي: «إني لأقوم في الصلاة أريد أن أطول فيها، فأسمع بكاء الصبي، فأتجوز في صلاتي، كراهية أن أشقّ على أمّه» «زه کله غواړم چې لمونځ اوږد کړم، خو کله چې د ماشوم ژړا واورم؛ نو لمونځ رالنډ کړم، داسي نه چې د هغه مور په تکليف کي نشي» (البخاري: ٦٧٥).

## د هغه په ښځو رحم کول

- هغه د لورگانو په روزني او پالني تونديِ ورکړي، او دا يي ويلي: «من رزق ببنت أو أكثر، فتولى تربيتها، وأحسن إليها، كن له سترا من النار» (د چا چې يوه لور وي او يا ډيري، او د هغي يي ښه روزنه وکړه، او هغي سره يي ښيگړه وکړه؛ نو دغه (لور) به د دې لپاره سپر وي له اور نه) (البخاري: ۵٦۴۹).
- بلکي هغه د ښځي ته په پاملرني او د هغي د ظروفو ته په کتلو مسلمانانو ته وصيت کړي، او هغوی ته يي دا امر کړي چي: «استوصوا بالنساء خيرا» «يو بل ته د ښځو (سره په ښيگړې) وصيت وکړئ» (البخاري: ۴۸۹۰).
- هغه د خپلي کوروداني سره په نرمۍ او مرسته کې بی ساري نمونه وړاندي کړي، تر دي چي هغه به د خپل اوښ په خوا کي کيناست، او د هغه ښځي صفيه ل به خپله پښه د هغه په زنگون کينبوده او بيا به پر اوښ سپره شوه. (البخاري: ۲۱۲۰)
- کله چي به ورته لور فاطمه رضي الله عنها راغله هغه به لاس نه ونيوله او لاس به يي ښکل کړ، او په هغه ځاي کي به کينوله چي هغه به پکي ناست و. (ابو داود: ۵۲۱۷).



## د هغه په کمزورو خلکو رحم کول

- هغه خلک به د يتيم په پالني توند کول، او ويل به يې: «أنا وكافل اليتيم في الجنة هكذا» «زه او د يتيم پالونکی به په جنت کې داسي يو» او پر مسواکي او مينځني گوتو به يي اشاره وکړه او ترمينځ به يي لږ جداوالي راوست. (البخاري: ۴۹۹۸).
- هغه د کونډي او مسکين پالونکی، او ورسره ښيگړه کونکي د الله په لار کي د مجاهد او د هغه انسان په څير بللی چې د ورځي لخوا روژه وي او د شپې لخوا لمونځ کوي. (البخارى: ۵٦٦۱).
- هغه په کمزورو خلکو رحم کول او هغوي ته خپل حقوق ورکول د روزي او پر دښمنانو د بري سبب گڼلي، او ويلي يي دي: «أبغوني الضعفاء؛ فإنما تنصرون وتُرزقون بضعفائكم» «ماته کمزوري خلک راوښايي؛ ځکه تاسو ته پر دښمنان سوبه د هغوي له امله درکول کيږي، او تاسو ته د روزي د هغوي له امله درکول کيږي» (ابو داود: ۲۵۹۴).



محمد صلى الله عليه وسلم به غريب او کمزوري خلک زان ته نږدی کول او د احسان معامله به يې ورسره کوله د نصرت او رزق د پرانښتيا لپاره.

## د هغه عدل کول

• رسول اللهﷺ ډېر عادل وو، هغه به د الله شریعت په پوره توګه نافذولو اګر که پر نږدې خپلوانو هم، او دې آیت پیروي به یې کوله: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَاءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَى أَنْفُسِكُمْ أَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ﴾ (النساء: ۱۳۵) «ای مومنانو! کلک ولاړ شئ په انصاف، او ګواه کوونکی د الله لپاره؛ اګر که (دا ګواهي) پر خپل ځانونو او مور او پلار او خپلوانو وي».

• کله چې ځینو صحابو د یوې مخورې ښځې چې غلا یې کړې وه په هکله سپارښت کولو چې له سزا وژغورل شي؛ رسول الله وویل: «والذي نفس محمد بيده، لو أن فاطمة بنت محمد سرقت لأقمت عليها العقوبة» «زما دې پر هغه ذات سوګند وي چې زما ځان یې په لاس کې دی؛ که زما لور فاطمه غلا وکړي نو (لاس پرېکولو) سزا به ورکړم» (البخاري: ۴۰۵۳).

• کله چې سود حرام کړای شو، هغه د خپلو نږدې خلکو پیل وکړ او له سود یې منع کړل چې لومړی یې خپل تره عباس منع کړ، او وویل یې: «وأول ربا أضع ربانا، ربا عباس بن عبد المطلب، فإنه موضوع كله» «لومړی به زه د عباس سود ختم کړم، یقیني هغه ټول لرې کړای شوی بلل کیږي» (مسلم: ۱۲۱۸).

• هغه د امتونو د تمدن او پرمختګ معیار دا ګڼلې چې کمزوری خپل پشپړ حق پرته له کومې ویرې له زورور څخه واخلي، او ویلي یې دي: «لا قدست أمة لا يأخذ الضعيف فيها حقه غير متعتع» «هغه امت دې ویاړمند نشي چې کمزوري پکښې خپل حق پرته له کومې ویرې نشي ترلاسه کولای» (ابن ماجه: ۲۴۲۶).

## ښیګړه او سخاوت

• و سړي له رسول اللهﷺ څخه د مال غوښتنه وکړه، هغه ورته وویل: «چې څه ته دې اړتیا وي هغه واخله، او پیسې به یې زه ورکړم» نو عمر ورته وویل: ای د الله رسوله! ته خو الله په داسې څه نه یې ګرم چې وس یې نه لرې، نو رسول الله یې پر خبره بده وګڼله، بیا هغه سړي وویل: مال خرچ کوه، او د الله له لوري د بې وسۍ ویره مه لره، نو رسول الله موسکی، او خوښي یې پر مخ ښکاره شوه. (الأحاديث المختارة: ۸۸).

• یوه ځل ورته اتیا زره د سپینو زرو درهم راوړل شول نو هغه په بزګي (د کجورو په پاڼو) کېښودل، بیا یې ټول د خلکو تر مینځ وویشل، تر دې چې ترینه وزګار شو. (الحاکم: ۵۴۲۳).

> مصادرو یادونه وکړه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل ژوند کې کله مال نه ده ذخیره کړې.



## د هغه صبر او حلم:

• کله چې هغه طائف (یو غرنی ښار دی چې له مکې ۹۰ کیلومتر لرې دی) ته دعوت لپاره ولاړ، او د هغې خلکو ورسره ډېر ناوړه او بد چلند وکړ او ډېر یې وګړولو، په بیرته راتګ کې ډېر غمجن وو، نو الله ورته یوه فرښته (ملایکه) راولیږه او د طائف د خلکو د تباه کولو وړاندیز یې ورته وکړ، هغه وویل: «بل أرجو أن يخرج الله من أصلابهم من يعبد الله وحده لا يشرك به شيئًا» «زما دا هیله ده چې الله به د دوی په نسل کې داسې څوک پیدا کړي چې هغوی به د الله یواځې عبادت کوي پرته له کوم شریک څخه» (البخاري: ۳۰۵۹).

• یوه بلکه ستره بیلګه د هغه ښه رویه د مکې خلکو سره، سره له دې چې د مکې خلکو ورته ډول ډول کړاونه اړولي وو، له خپل ښار څخه یې شړلی وو، خو کله چې الله خپل پیغمبر سره مرسته وکړه او مکه یې د هغه په لاسو فتحه کړه، د مکې ټول اوسیدونکي یې راټول کړل او ترینه وپوښتل یې: «ما تقولون أني فاعل بكم؟» «ستاسو څه خیال دی چې زه به درسره څه کوم؟» هغوی وویل: زمونږ درنه د خیر هیله ده، ته خو زمونږ ښه ورور یې او د ښه ورور ځوی مو یې، نو هغه وویل: زمونږ درنه د خیر هیله ده، ته خو زمونږ ښه ورور یې او د ښه ورور ځوی مو یې، نو هغه وویل: «أقول كما قال أخي يوسف -يعني نبي الله يوسف بن يعقوب الذي عفا عن إخوته الذين آذوه ورموه في البئر- فقال لهم: لا عقوبة اليوم عليكم يَغْفِرُ اللَّهُ لَكُمْ وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ اذهبوا فأنتم الطلقاء» «زه هغه څه وایم چې یوسف خپلو ورونو ته ویلي وو: نن ورځ تکلیف نشته، الله دې درته ښښنه وکړي؛ هغه ډېر رحم کوونکی دی، (بیا رسول الله وویل: ولاړ شئ تاسو آزاد یئ!» (البیهقي: ۱۸۲۷۵).

> رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل ژوند تشبیه له دنیا سره داسې ورکوي لکه د یو مسافر، لږ وخت د یوې ونې لاندې کیني او بیا تر لاړ شي.



## په دنیا کې بې‌رغبتي

- رسول الله ﷺ به تل دې آیت ته غاړه کېښودونکي وو: ﴿وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِّنْهُمْ زَهْرَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا لِنَفْتِنَهُمْ فِيهِ وَرِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰ﴾ (طه: ۱۳۱) «هیڅکله خپلې سترګې مه پورته کوه هغه د خوندونو شیانو ته چې مونږ ډول ډول خلکو ته د دنیا د ښکلا لپاره وکړي؛ چې مونږ هغوي وازمایو په هغې کې، او ستا د رب روزي غوره او تلپاتې دي».
- یو ورځ ورته عمر ﵁ راغلي، نو ګوري چې رسول الله پر سپیره بزکي (چې د کجورو له پاڼو جوړ وو) پروت دي، او پر بغل یې تغمې او پټې شوې، نو عمر وایي: ما یې په کور کې ښه پام وکړ؛ په الله سوګند چې داسې څه مې پیدا نه کړ چې سترګې ورته ځیر شي، بیا مې رسول الله ته وویل: الله ته دعا وکړه چې پر امت دې پراخي راولي، ځکه پارسیانو او رومیانو ته ډیر نعمتونه ورکړل شوي دي او پراخه ژوند کوي او بیا هم د الله عبادت نه کوي، نو هغه وویل: «أوفي شك أنت يا ابن الخطاب، أولئك قوم عُجِّلت لهم طيباتهم في الحياة الدنيا» «آیا ته شک کوې (په اسلام کې)؟، هغوي ته خو خپل نعمتونه په دې دنیا کې ورکړل شوي» (البخاري: ۲۳۳۶).
- هغه به ویل: «ما لي وللدنيا، ما أنا في الدنيا إلا كراكب استظل تحت شجرة، ثم راح وتركها» «زما له دنیا سره څه دي، زه خو د لارويِ په څېر یم چې د ونې لاندې سوري ته کېني؛ او بیا ترینه روان شي او هغه پرېږدي» (الترمذي: ۲۳۷۷).
- پر هغه به یوه یا دوه یا درې میاشتې داسې تیرې شوې چې د هغه په کوټو کې به د پخلي اور نه بلیده، بلکې یواځې کجورې او اوبه به یې خوراک وو (البخاري: ۲۴۲۸)، او کله به یې داسې په ولږه ورځ تیره کړه او دومره بې کاره کجورې به یې هم ونه موندلې چې ګېډه وربادنې ډکه کړي (مسلم: ۲۹۷۷) او هیڅکله تر مړینې یې درې ورځې پرلپسې د غنمو ډوډوې په مړه نه ده خوړلې، او ډیر خوراک یې وربشې وې (مسلم: ۲۹۷۶).

## وفاداري

- د لوظونو سرته رسول له سترو اخلاقو څخه دي؛ سربېره هغه وخت کې چې کله لوظونه د دوو لورو ترمینځ الزامي نه وي، او د رسول الله برخورد همداسې وه، او د ښیګړې بدله به یې په ډېرې ښیګړې پوره کوله، اګر که کوم لوظ او تړون به نه وو؛ نو که واي بیا به یې لا په ښه ډول پوره کول.
- کله چې د نصاراو پاچا (هرقل) د قریشو له کفارو څخه د رسول الله ﷺ د صفاتو په هکله وپوښتل: آیا هغه چل ول (دوکه) کوي؟ هغوي وویل: نه، نو هغه وویل: همدا ډول رسولان چل ول نه کوې. (البخاري: ۷).
- خپل لومړۍ ښځې خدیجه ته ډیر وفادار وو، هغې ته یې په لوړه سترګه کتل، تل به یې د هغې ښیګړې یادولې، او د هغې خپلوان او ملګرې به یې پاللې.
- عائشه بي بي د رسول الله ﷺ د لومړۍ ښځې خدیجې (کومه چې د پیغمبرتوب په لومړي کال کې مړه شوې وه، او عائشې نه وه لیدلې) سره د هغه د وفا داسې په ډاګه کوي: «رسول الله به ډېره یادوله، او کله چې به یې مېږه حلاله کړه، نو هغه به د خدیجې ملګرو ته برخه لیږله»، نو ما به ورته وویل: «لکه چې په نړۍ بله ښځه نشته پرته له خدیجې؟» هغه به ویل: «إنها كانت وكانت.. ويذكر من مزاياها» «هغه داسې او داسې وه..، او د هغې خویونه او صفتونه بې یادول» (البخاري: ۳۶۰۷).
- یوه ورځ رسول الله ﷺ ته د نجاشي (چې د حبشې پاچا وو، او د اسلام په لومړیو کې یې د مسلمانانو ملاتړ کړې وو) پلاوې راغلې، نو دهغه خدمت ته یې خپله ودریده، نو صحابه کرامو ورته وویل: مونږ یې خدمت کولای شو، نو هغه وفرمایل: «إنهم كانوا لأصحابي مكرمين، وإني أحب أن أكافئهم» «دوي زما د ملګرو (صحابو) پالنه کړې وه، نو زه خوښوم چې پالنه یې وکړم» (شعب الإیمان: ۸۷۰۴).



نبوی مسجد هغه مسجد ده چې محمد صلی الله علیه وسلم په مدینه منوره کې جوړ کړی وو، څرنګه چې مسلمانان د مکی نه پس دویم مقدس ښار ګڼي. رسول الله صلی الله علیه وسلم دی ته هجرت اوکړ او مسجد یې په کې جوړ او هم دلته خښ شو، او هر کال لکونو خلک ددې مسجد زیارت کوي.




# د محمد رسول الله له ویناو څخه



مسلمانانو

مسلمانانو د پیغمبر ﷺ خبرو ته ډیره پاملرنه کړې، او هغه يې په يادو يادې کړي او ليکلي دي، او علماو د هغي په يادولو کې له يو بل سره سيالي کړي، او د خبرو د پلټني يو حيرانونکی نظام يې نړۍ ته وړاندي کړ؛ د کوم نظام په مرسته چې د رسول الله د وينا هر ډول باريک اړخ معلوميږي، تر دي چې د جملو او تورو اړوند واړه معلومات هم په ډاگه کوي..

## د رسول الله د وينا او خبرو يو څو بيلګې:

- «إنما الأعمال بالنيات، وإنما لكل امرئ ما نوى» «يقينا اعمال په نيتونو دي، او د هر سړي لپاره هغه څه دي چې نيت يې کړي وي» (البخاري: ١).
- «البر حسن الخلق، والإثم ما حاك في نفسك وكرهت أن يطلع عليه الناس» «نيکي غوره اخلاق دي، او ګناه هغه ده چې په کولو يې زړه ناژړه وي او د خلکو خبرېدل ورباندي بد وګڼې» (مسلم: ٢٥٥٣)
- «ازهد في الدنيا يحبك الله، وازهد فيما في أيدي الناس يحبك الناس» «په دنيا کې بې رغبتي وکړه؛ نو الله به درسره مينه وکړي، او د خلکو په شتمنۍ کې بې رغبتي وکړه؛ نو خلک به درسره مينه وکړي» (ابن ماجه: ٤١٠٢).
- «مَثَلي ومَثَل الأنبياء من قبلي، كمثل رجلٍ بنى بيتاً، فأحسنه وأجمله إلا موضع لبنة من زاوية، فجعل النَّاس يطوفون به ويعجبون له ويقولون: هلاَّ وضعت هذه اللبنة؟! قال: فأنا اللبنةُ وأنا خاتمُ النَّبيّين» «زما مثال او د مخکنو پيغمبرانو مثال د هغه سړي په څير دی چې يو ښه او ډولي کور يې جوړ کړي وي مګر په په يو ګوټ کې د يوې ښښتې ځانه خالي پريښودلي وي، نو خلک يې سيل کوي او خوښوي يې او وايي: کاش چې دا ښښته کېښودل شوې واي! بيا يې وويل: نو زه دغه (تکميلي) ښښته يم، او زه اخرى پيغمبر يم» (البخاري: ٣٣٤٢).



«ليس منا من لم يرحم صغيرنا، ويعرف حق كبيرنا» «له موږ هغه څوک ندي چې زموږ په کوچني رحم نکوي، او د مشر مو درناوی نه کوي» (الترمذي: ١٩٢٠).





«لا تدخلون الجنة حتى تؤمنوا، ولا تؤمنوا حتى تحابوا، أولا أدلكم على شيء إذا فعلتموه تحاببتم؟ أفشوا السلام بينكم» «تر هغې به جنت ته ولاړ نشئ تر څو چې مو ايمان نه وي راوړی، او ايمان نشئ راوړلی تر څو چې مو يوبل سره مينه نه وي کړې، آيا زه درته داسي څه ونه ښايم چې له يو بل سره مو مينه زياته شي؟ په خپل مينځ کې سلام خپور کړئ» (مسلم: ٥٤).

- «المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده، والمهاجر من هجر ما نهى الله عنه» «رينښتوني مسلمان هغه دي چې نور مسلمانان يې ژبې او لاسونو خوندي وي، او رينښتوني مهاجر (پرېښودونکی) هغه دي چې هغه څه پرېږدي چې الله ورنه منع کړې دي» (البخاري: ١٠)
- «اتق الله حيثما كنت، وأتبع السيئة الحسنة تمحها، وخالق الناس بخلق حسن» «له الله نه په هر ځاي کې ويره وکړه، او ګناه پسي نيکي وکړه چې لرې يې کړي، او له خلکو سره ښه خوي (اخلاق) کوه» (الترمذي: ١٩٨٧).
- «ألا من ظلم غير مسلم، أو كلفه فوق طاقته، أو أخذ منه شيئا بغير طيب نفس، فأنا حجيجه يوم القيامة» «خبر شئ! چا چې له غير مسلم سره ظلم وکړ، او يا يې له وس نه ډير کار ورباندي وکړ، او يا يې ورڅينې څه څيز پرته له خوښې واخيست؛ نو زه به ورسره جګړه کونکي يم» (ابو داود: ٣٠٥٢).
- «الراحمون يرحمهم الرحمن، ارحموا من في الأرض يرحمكم من في السماء» «په رحم کونکو الله رحم کوي، تاسو پر هغه چا رحم وکړئ په دنيا کې دي؛ هغه څوک به درباندي رحم وکړي چې په اسمان کې دي» (ابوداود: ٤٩٤١).

- «من نفَّس عن مؤمن كربة من كرب الدنيا، نفَّس الله عنه كربة من كرب يوم القيامة، ومن يسَّر على معسر، يسَّر الله عليه في الدنيا والآخرة، ومن ستر مسلمًا ستره الله في الدنيا والآخرة، والله في عون العبد ما كان العبد في عون أخيه، ومن سلك طريقًا يلتمس فيه علمًا، سهّل الله له به طريقًا إلى الجنة،... ومن بطَّأ به عمله، لم يسرع به نسبه» «چا چې يو مومن له دنيوي کړاو څخه وژغور؛ الله به يې د قيامت له ګړونو وژغورې، چا چې له بې چاره سره آساني وکړه؛ الله به ورسره په دنيا او آخرت کې آساني وکړي، او چا چې په يو مسلمان پرده وکړه؛ الله به يې د دنيا او آخرت پرده وکړي، او الله د بنده تر هغه مرسته کوي تر څو چې بنده د خپل ورور مرسته کوي، او چا چې د پوهې او علم لاره ونيوله؛ الله به ورته د جنت لاره هواره کړي.. او څوک چې خپل عمل ورو کړ، خپل نسب به يې چټک نکړي» (مسلم: ۲٦۹۹).
- «من غشَّ فليس منا» «چا چې ټګې (غولونه) وکړه له مونږ ندي» (الترمذي: ۱۳۱۵).
- «مثل المؤمنين في توادهم، وتراحمهم، وتعاطفهم مثل الجسد؛ إذا اشتكى منه عضو، تداعى له سائر الجسد بالسهر والحمى» «د مومنانو له يو بل سره په مينه، په رحم، او په نرمۍ کې بيلګه د يو بدن ده، که يو غړي ترينه دردمند وي؛ نو ټول غړې ورنه په بې خوبۍ او تبې اخته وي» (مسلم: ۲۵۸٦).
- «كلكم راع وكلكم مسؤول، فالإمام راع وهو مسؤول، والرجل راع على أهله وهو مسؤول، والمرأة راعية على بيت زوجها وهي مسؤولة، ألا فكلكم راع وكلكم مسؤول» «تاسو ساتونکې او مسؤولين يې، (پاچا) امام ساتونکي دي او پوښتنه به ترينه کيږي، او سړي د خپلې کورنې ساتونکي دي او پوښتنه يې به ورنه کيږي، ښځه د خاوند د کور ساتونکې ده او پوښتنه به ورنه کيږی، خبر شئ! ټول ساتونکی او مسؤول ياستئ» (البخاري: ۴۸۹۲).
- «خيركم خيركم لأهله، وأنا خيركم لأهلي» «په تاسو کې هغه څوک غوره دي چې د خپل اهل سره ښيګړه کوي، او زه په تاسو کې له اهل سره ښيګړه کونکې يم» (الترمذي: ۳۸۹۵).
- «بينا رجل بطريقٍ، اشتدَّ عليه العطشُ، فوجد بئرا فنزل فيها، فشرِب ثم خرج، فإذا كلبٌ يلهثُ، يأكلُ الثرى من العطشِ، فقال الرجلُ: لقد بلغ هذا الكلبُ من العطشِ مثلَ الذي كان بلغ مني، فنزل البئرَ فملأ خفَه ماءً، فسقى الكلبَ، فشكر اللهُ له فغفر له. قالوا: يا رسولَ اللهِ، وإن لنا في البهائمِ لأجرًا؟ فقال: في كلِّ ذاتِ كبدٍ رطبةٍ أجرٌ» «يو سړي په لاره روان و نو ډېر تږي شو، نو يو کوهې يې پيدا کړ، ورښکته شو او اوبه يې وڅښلې او راووت، ګوري چې يو سپې له تندې نه لمدې خاوري څټې، هغه له ځان سره وويل: دا سپې خو زما په څير تږي شوي دي، بيا کوهې ته ورښکته شو، او خپله پڼه يې له اوبو ډکه کړه، او سپې ته يې ورکړه، نو دا کړنه يې د الله خوښه شوه او ښښنه يې ورته وکړه. هغوی (صحابو) وپوښتل: آيا زمونږ لپاره په حيواناتو کې ثواب شته؟ هغه وويل: په هر لوند ځيګر لرونکی کې ثواب شته» (البخاري: ۲۴٦٦).
- «آية المنافق ثلاث: إذا حدث كذب، وإذا وعد أخلف، وإذا اؤتمن خان» «د منافق دري نښې دي: چې خبري کوي دروغ وايي، چې ژمنه وکړي هغه ماتوي، او په امانت کې خيانت کوي» (البخاري: ۳۳).
- «من حسن إسلام المرء تركه ما لا يعنيه» «د سړي د ښه اسلام دا چې هغه څه پريږدي چې اړوند يې نه وي» (الترمذي: ۲۳۱۷).
- «إن الله يحب الرفق في الأمر كله» «الله په هر کار کې نرمي خوښوي» (البخاري: ۵٦۷۸).
- او ويلي يې دي: «من يحرم الرفق يحرم الخير» «څوک چې له نرمۍ بې برخې وو؛ هغه له له خير بې برخي دي» (البخاري: ۵٦۷۸).

## قرآن څنګه د رسول الله ﷺ صفت کړي؟

قرآن مونږ ته د رسول الله ﷺ د ژوند ناآشنا اړخ رابرسیره کوي، او له خلکو سره یې کړه وړه رانښايي، او د هغه اخلاق او خویونه راپه ګوته کوي؛ سربېره پدې چې هغه یو بشر وو:

- هغه د ټولې نړۍ لپاره رحمت وو ﴿وَمَا أَرسَلنَٰكَ إِلَّا رَحمَة لِّلعَٰلَمِينَ﴾ (الأنبياء: ١٠٧) نه یواځې د مسلمانانو لپاره.
- هغه د لويو اخلاقو خاوند وو ﴿وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيم﴾ (القلم: ٤).
- هغه به د خلکو د لارښووني او هدایت ته ډیر لیوال وو، او دهغوي په بې لارې به ډیر غمجن وو، تر دې په وار وار ټینګار وشو چې ستا دنده یواځې دعوت او رسونه ده، او هدایت د الله په لاس کې دي. ﴿فَلَعَلَّكَ تَارِكُ بَعضَ مَا يُوحَىٰ إِلَيكَ وَضَائِقُ بِهِ صَدرُكَ أَن يَقُولُواْ لَولَا أُنزِلَ عَلَيهِ كَنزٌ أَو جَاءَ مَعَهُ مَلَكٌ إِنَّمَا أَنتَ نَذِير وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيء وَكِيلٌ١٢﴾ (هود: ١٢)، ﴿وَلَو شَاءَ ٱللَّهُ مَا أَشرَكُواْ وَمَا جَعَلنَٰكَ عَلَيهِم حَفِيظا وَمَا أَنتَ عَلَيهِم بِوَكِيل١٠٧﴾ (الأنعام: ١٠٧)، ﴿قُل إِنَّمَا أَنَا بَشَر مِّثلُكُم يُوحَىٰ إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَٰهُكُم إِلَٰه وَٰحِد فَمَن كَانَ يَرجُواْ لِقَاءَ رَبِّهِ فَليَعمَل عَمَلا صَٰلِحا وَلَا يُشرِك بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدَا١١٠﴾ (الكهف: ١١٠).
- هغه به د خلکو لپاره پلمې کتلې او له تیروتنو بې سترګې پټولې ﴿عَفَا ٱللَّهُ عَنكَ لِمَ أَذِنتَ لَهُم حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ وَتَعلَمَ ٱلكَٰذِبِينَ٤٣﴾ (التوبة: ٤٣).
- له الله نه به یې د ښمنانو د ښښنې غوښتنې کولې تر دې چې ترینه منع کړای شو ﴿ٱستَغفِر لَهُم أَو لَا تَستَغفِر لَهُم إِن تَستَغفِر لَهُم سَبعِينَ مَرَّة فَلَن يَغفِرَ ٱللَّهُ لَهُم ذَٰلِكَ بِأَنَّهُم كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِ وَٱللَّهُ لَا يَهدِي ٱلقَومَ ٱلفَٰسِقِينَ٨٠﴾ (التوبة: ٨٠).
- د مومنان په درد به دردیده، او پر هغوي زړه سواندی او مهربان وو ﴿لَقَد جَاءَكُم رَسُول مِّن أَنفُسِكُم عَزِيزٌ عَلَيهِ مَا عَنِتُّم حَرِيصٌ عَلَيكُم بِٱلمُؤمِنِينَ رَءُوف رَّحِيم١٢٨﴾ (التوبة: ١٢٨).
- په خپل کور کې د خلکو له اوږدې ناستې به په زیان کیده، خو د حیا له امله به یې څه ورته نه ویل ﴿يَٰأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدخُلُواْ بُيُوتَ ٱلنَّبِيِّ إِلَّا أَن يُؤذَنَ لَكُم إِلَىٰ طَعَامٍ غَيرَ نَٰظِرِينَ إِنَىٰهُ وَلَٰكِن إِذَا دُعِيتُم فَٱدخُلُواْ فَإِذَا طَعِمتُم فَٱنتَشِرُواْ وَلَا مُستَـٔنِسِينَ لِحَدِيثٍ إِنَّ ذَٰلِكُم كَانَ يُؤذِي ٱلنَّبِيَّ فَيَستَحيِۦ مِنكُم وَٱللَّهُ لَا يَستَحيِۦ مِنَ ٱلحَقِّ وَإِذَا سَأَلتُمُوهُنَّ مَتَٰعا فَسـَٔلُوهُنَّ مِن وَرَاءِ حِجَاب ذَٰلِكُم أَطهَرُ لِقُلُوبِكُم وَقُلُوبِهِنَّ وَمَا كَانَ لَكُم أَن تُؤذُواْ رَسُولَ ٱللَّهِ وَلَا أَن تَنكِحُواْ أَزوَٰجَهُۥ مِن بَعدِهِۦ أَبَدًا إِنَّ ذَٰلِكُم كَانَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمًا٥٣﴾ (الأحزاب: ٥٣).
- آسان، نرم او زړه سواندي وو، له صحابو سره به یې نرم چلند کولو، او په سختو شیبو کې به یې وسره سلا او مشورې کولې ﴿فَبِمَا رَحمَة مِّنَ ٱللَّهِ لِنتَ لَهُم وَلَو كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ ٱلقَلبِ لَٱنفَضُّواْ مِن حَولِكَ فَٱعفُ عَنهُم وَٱستَغفِر لَهُم وَشَاوِرهُم فِي ٱلأَمرِ فَإِذَا عَزَمتَ فَتَوَكَّل عَلَى ٱللَّهِ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلمُتَوَكِّلِينَ١٥٩﴾ (آل عمران: ١٥٩).



# قرآن کریم د اسلام ژوندۍ معجزه

قرآن څه ده چې د نړۍ له ډېر پېرل شوي او خپاره شوي یو کتابونو نوملړ کې لومړي نوم لري؟ او د یو نیم ملیارد څخه ډېر وګړي ورباندې ایمان لري؟

**قرآن د مسلمانانو مقدس کتاب دي او ایمانورباندي لري چې:**

- د الله خبرې دي او پر محمدﷺ یې رالیږلی دې د ټولو خلکو د لارښوونې او هدایت لپاره.
- د آسماني رالیږل شوي کتابونو آخري کتاب دې.
- له ډول هر بدلون او تحریف ه خوندي دي.
- لوستل او یادول یې عبادت دی، همدا ډول حکمونه او شریعت یې پلې کول عبادت دی.

کله چې رسول اللهﷺ څلویښت کلن شو، الله ورته د جبریل نومي فرښتې په واسطه د قرآن د رالیږل پیل کړ، لومړی رالیږل شوي آیت دا وو: (اقرأ باسم ربك الذي خلق)، ژباړه: د خپل رب په نامه ولوله چې پیدایښت یې کړی. بیا له پیښو سره سم پرلپسې په ۲۳ کالو کې پوره نازل شو.

> د قرآن لومړی دا آیت نازل شو (اقرا باسم ربک الذي خلق)، او په ۲۳ کالو کې د پېښو سره سم برابر لږلږ نازل شو.

قرآن ۱۱۴ سورتونو ته ویشل شوي، رنګارنګ موضوعات یې په جلا جلا اسلوبونو څیړلي؛ مګر د لوړ بلاغت او فصاحت په چوکاټ کې، او ټول سورتونه خلکو ته هدایت کوي او د الله یواځې عبادت ته یې رابولې.







**هغه مهم ډګرونه چې قرآن ترینه څیړنه کوي:**

١. د الله یووالی ثابتول، او د شرک کونکو پر هغه شکونه ماتول.

٢. د پیغمبرانو او مخکنو امتونو کیسې کول.

٣. په دې ستره نړۍ کې ژور سوچ کول، او ګیرد چاپیره مخلوق ته کتل او سنجول، او د الله نعمتونه شمیرل.

٤. د دین مسائل، حکمونه او نواهي بیانول.

٥. د مومنانو خویونه او اخلاق بانول، او له بدو صفاتو ځان ساتل.

٦. د قیامت ورځ په هکله خبري کول، او د نیکو او بدو خلکو جزا په ډګه کول.

٧. د پیغمبر ﷺ او ملګرو سره یې د پیښو په هکله د مومنانو روزنه کول.

د قرآن ځیني ځانګړنې او بیلونکې نښې:

## په یادولو کې یې اعجاز دی

الله خپل اخري کتاب د «قرآن» په نوم نومولی؛ ځکه لوستلای کیږي او په سینو کې ساتل کیږي، او د «کتاب» په نوم یې هم نومولی؛ ځکه لیکل کیږي او په کرښو کې خوندي کیږي، او قرآن په دواړو لارو خوندي ساتل شوي، کله چې به قرآن نازل شو؛ نو سمدستي به ولیکل شو او د رسول الله له خولې په یادو یاد کړای شو، او د قاریانو ګواهۍ له به کوم اعتبار نه وو تر څو به له لیکل شویو سره سمون ونلري، او لیکل شوي برخه به نه منل کیدله تر څو چې له یادي شوي برخې سره سمون ونه خوري.

سره له دې چې د مسحیت عقیدوي پوهان په دې اقرار کوي چې د انجیلونو په خپلو کې سره ټکر یو طبیعي کار دي، ځکه د انجیلونو لیکونکو سرچینې سره جلا دي، او تاریخونه یې بدل دي، اګر که دوی پر دې خبره بسنه کوي چې په دغه انجیلونو د انسان د لارښوونې لپاره پوره جوګه دې.

مگر هغه حقیقت چې هر منصف ورباندې اقرار کوي؛ هغه دا دي چې قرآن له هر ډول ټکر او تعارض څخه پاک ده، ځکه چې د هغې توري او معنی د الله له لوري دي، او د رسول الله له خولې یاد شوي او لیکل شوي، نه پکې کوم ډیروالي شوي نه کمي، اگر که مسلمانان د مختلفو مذهبونو او تگلورو پیروي کوي؛ د قرآن په یو توري کې هم اختلاف نه دی کړی.

د قرآن ساتنه ډیره په باریکبینۍ سره شوي، یو نسل له بل نسل نه پرته له کوم ډیروالي یا کموالي څخه په دقت سره یاد کړې او لیکلې ترلاسه کړې، چې د قرآن د ویلو او لیکلو انډول، په یادو یادول، په مصحفونه کې دلیک لاربښود پکې شامل دي، او هر انسان دا شونتیا لري د قرآن یوه نسخه له چین یا له منځنۍ افریقا څخه واخلي او له هغو قلمي نسخو سره په پرتله کړي چې زر کاله وړاندې لیکل شوي او د نړۍ په موزیمونه کې پرتې دي؛ نو پدې حیرانونکي حقیقت به پوهه شي چې د قرآن د حرفونه او کلماتو د آدا کولو میتود بدل شوي نه دي او نه تغیر شوي، سربیره



له وخت او ژبو کلیدي توپیر سره، اگر که نن یې د اندونیسیا یو کوچنی یې لولي؛ او یا رز کاله وړاندې یو عالِم یې په مکه کې لوسته.. قرآن کې راځي: ﴿وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُوا۟ فِيهِ ٱخْتِلَٰفًا كَثِيرًا٨٢﴾ (النساء: ٨٢) ژباړه: «او که قرآن د الله نه پرته له بلې لور واي نو دوی به خامخا پکې ډیر اختلاف موندلای وای» او دا کومه حیرانونکي خبره نده ځکه الله یې پخپله ساتنه کړي، ویلي یې دي: ﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا ٱلذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ٩﴾ (الحجر: ٩) ژباړه: «مونږ ذکر (قرآن) رالیږلي او مونږ یې خامخا ساتنه کوو».

## د بیانيي او اروايي اعجاز

ځوک چې د قرآن لوستنه په تمرکز سره کوي نو دا خبره مومي چې قرآن ورته په شخصي توگه مخامخ کیږي، او بحثونه ورسره کوي.. او ډیر حیرانونکي دا ده چې یې لومړي مفکوري وړاندې کوي او بیا یې ځیړي، او هغه انسان داسي احساسوي چې لومړی ځل لپاره یې لولي!.

کیدای شي چې یو انځورگر سترگې داسي رسم چې هغه لیدونکی ته له هرې لوري گوري، مگر څرنگه یو کتاب د خپل لوستونکي مفکوره تعقیب کړي، او پوښتنو ته یې له پیدا کیدو مخکې ځوابونه وایې، سربیره له جلا جلا لوستونکو، او د هغوي له رنگارنگ کلتورونو، او د ژوند شرایطو!



قرآن یو داسي حیرانوونکي اسلوب لري چې د انسان غوښتني په گوته کوي، او رازونه یې رابرسیره کوي، کمزوري یې په ډاگه کوي، کوم چې لوستونکي ته په لومړۍ کتنه کې تیری او ځیگوالی ښکاري، مگر له لږې شیبې وروسته یې نفس راویخه وي چې له عقل او زړه داسي پوښتني وکړې چې هغه وروسته کړې وي، او له ځوابونو یې تښتید.

کله چې زمونږ یو تن قرآن لولي، او د مخکنو ډلو له کیسو، خویونو او د هغوی د فکر له رازونو او ارواو خبر شي، او په هغوی کې د ځینو له بې لاري کیدل او د ځینو نجات موندلو خبر شي.. نو سمدستي به له لومړي شیبي خپلې تگلاري وارزوي.. او چې نور آیتونه ولولي نو له شعور پرته به یو داسي گنگوسی محسوس کړي چې زړه ته یې رانږدې کیږي.. تر دې چې قرآن ورته خپله هینداره ښکاره شي، پر خپل حقیقت پوهه شي، خپلې نیمگړتیاوې او کمښتونه ورته په ډاگه شي، خپل امکانات او فرصتونه وپیژني.. نو د لوستونکي زړه ته لاره پیدا کړي، او د دې خبرې ته یې کړي چې اقرار وکړي چې له یواځې الله نه پرته بل معبود نشته.

نو کله چې لوستونکی د مایوسۍ او نهیلۍ ښکار شي قرآن ورته وایي: ﴿قُلْ يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ أَسْرَفُوا۟ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا۟ مِن رَّحْمَةِ ٱللَّهِ إِنَّ ٱللَّهَ يَغْفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ٥٣﴾ (الزمر:٥٣) «ورته ووایه ای زما بندگانو چې په ځان په مو زیاتي کړي د الله رحمت نه مه نهیلی کیږئ، یقینا الله ټول گناهونه ښښي، یقینا هغه ډیر ښښونکی او رحم کونکی دی».

او کله چې حیران شي او داخلي تاوتریخوالی سره مخ شي، او غواړي چې داسي ځوک پیدا کړي چې پناه ورته یوړي او مرسته ترینه وغواړي نو د الله په دې وینا کې نرمي مومي ﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا۟ لِي وَلْيُؤْمِنُوا۟ بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ١٨٦﴾ (البقرة:١٨٦) «او کله چې درنه زما بندگان زما پوښتنه کوي؛ نو زه (ټولو ته) نږدې یم او د دعا کونکی دعا قبلوم کله چې ما راوبلي، او پر ما دې باور ولري تر څو د سمې لار پیروان شي».

او کله چې دا انګیزه لري چې ژوند مې له قابو وتلي، او په مهار کولو یې جوګه ندي، نو د دې ناروغۍ مرهم مومي، او تل ملاتړ کونکي په دې آیت کې پیدا کوي: ﴿لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتۡ وَعَلَيۡهَا مَا ٱكۡتَسَبَتۡ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذۡنَآ إِن نَّسِينَآ أَوۡ أَخۡطَأۡنَا رَبَّنَا وَلَا تَحۡمِلۡ عَلَيۡنَآ إِصۡرࣰا كَمَا حَمَلۡتَهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِنَا رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلۡنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِۦ وَٱعۡفُ عَنَّا وَٱغۡفِرۡ لَنَا وَٱرۡحَمۡنَآ أَنتَ مَوۡلَىٰنَا فَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ٢٨٦﴾ (البقرة: ٢٨٦) «الله نه دی مکلف یو انسان مګر د هغه تر وسه، که ښه یې وکړه میوه یې خپله ده او که بد یې وګړه نو ګناه یې خپله ده، ای زمونږ ربه! که له مونږ نه څه هیر شي یا رانه خطا وشي مونږ وربانديې مه نیسه، ای زمونږ ربه! پر مونږ هغه پیټی مه باروه کوم چې دې په مخکنو امتونو بار کړې وو، ای زمونږ ربه! پر مونږ هغه څه مه باروه چې مونږ یې وس نه لرو، مونږ ته معافي وکړه، بښنه راته وکړه، رحم راباندې وکړه، ته زمونږ مرستندویه یې په کافرانو سوبه راکړه».

او د تمدن تر ټولو مهم تاریخپوه «ویل ډیورانټ» په ټولو منصفینو د قرآن اغیزې او لوړ مقام منلی، او په خپل کتاب (د تمدن کیسه: ۱۳/۶۸) کې یې ویلي دي:

په زمونږ وخت کې او په تیرو وختو کې ډیر د فکر او پوهې خاوندانو په قرآن ایمان راوړی، او همدارنګ ډیرو خلکو چې له مختلف عقل او فکر لرونکي دي په قرآن ایمان راوړی، او دا له دې لامله چې قرآن یوه داسې ریښتونې او ښکاره عقیده راوړې چې ټول یې مني.. تر ټولو آسانه، ښکاره، او له رواجونو او رسمونه خخه جدا، او له بت خوښۍ او پاړوګرۍ څخه خپلواکه.. او اسلام خلکو ته ښوونه کړې چې د ژوند تنګسې سره مبارزه وکړي، او کړاونه یې بار کړي پرته له پریادونو او ستړیا.. او اسلام د دین پیژندنه کړې او ښه یې په ډاګه کړې، او ریښتوني مسیحیان او یهودیان کوم خنډ نه مومي چې خپل یې کړي ﴿لَّيۡسَ ٱلۡبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمۡ قِبَلَ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ وَلَٰكِنَّ ٱلۡبِرَّ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلۡكِتَٰبِ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ وَءَاتَى ٱلۡمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ ذَوِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِ وَٱلسَّآئِلِينَ وَفِي ٱلرِّقَابِ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلۡمُوفُونَ بِعَهۡدِهِمۡ إِذَا عَٰهَدُواْ وَٱلصَّٰبِرِينَ فِي ٱلۡبَأۡسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَحِينَ ٱلۡبَأۡسِ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُتَّقُونَ١٧٧﴾ (البقرة: ۱۷۷)



«نیکي یواځې دا نه ده چې (په لمانځه کې) د ختیځ او لویدیځ لور ته مخونه واړوئ، بلکې نیکي دا ده چې انسان پر الله، د قیامت په ورځ، په فرښتو، په کتابونو او په پیغمبرانو د زړه له کومې ایمان راوړي، او د الله په مینه شتمني خپلوانو، یتیمانانو، مسکینانو، لارویو، درویزګرانو ته ته ورکړي، او د مریانو په ازادولو کې ورکړي، لمونځ کوي، او زکات ورکوي، او خپلو ژمنو پوروالی کوي، او تنګسې او کړاونو په وخت کې او د جنګ په خت کې صبر کوي، همدوي ریښتوني دي او همدوي تقوی کونکي دي».

ویل ډیورانت وایې:

دی قرآن باندی ډیرو داسیو خلکو ایمان راوړی چې علم او فکر خاوندان وول، سره ددی چې د عقل او فکر اختلاف یې درلودل، قرآن یو ریښتوني باور او ښکاره دلائلو سره نازل شو ځکه ټولو ومنلو.

آسانه عقیدی، او لړه برخه یې مغلق ده.

# قرآن له کوم ځاي نه راغلی؟



دا یوه منطقي پوښتنه ده چې مغزو ته مو راځي کله چې د محمد ﷺ او مسلمانانو د مقدس کتاب په هکله خبري کوو؛ نو ولي باید د مسلمانانو خبري په دي هکله ومنو؟ آیا مونږ د دي پوښتنو حق نه لرو؟

د ډېرو تاریخپوهانو په خوله قرآن د یو داسي عربي سړي په ژبه راغلي چې لوستل او لیکل نشي کولای، په شپږمه پېړۍ کې په مکه کې پیدا شوي، نوم یې محمد د عبد الله ځوي دی.. او پرلپسي متواتر تاریخ او د قرآن لوستل دا خبره په کلک باور سره په ډاګه کوي چې دا قرآن هغه له ځان نه ندي جوړ کړي، بلکې له الله لوري ورته راغلی، او د هغه دنده یواځې خلکو ته رسول او ښودل وو پرته له ډېروالي او کموالي نه.

نو آیا دا امکان لري چې محمد رسول الله قرآن له ځان نه جوړ کړي وي، او یا یې له پوهې او زده کړې وروسته یو نچوړ خلکو ته وړاندې کړي وي؟

دا یو څو روا پوښتني دي چې د انسان ذهن ته راځي کله چې له قرآن نه نا خبره وي، او نه یې زده کړې وي، او نه د محمدﷺ له ژوند او پېښو نه خبر وي.

”

که چېرې رسول الله صلی الله علیه وسلم قصد خلکو ته دهوکا ورکول وای نو د ټولو اقوالو نسبت به یې الله ته کړی وو.

نو ولې یې داسې ګمان ونه کړ، چې ددی ټولې خبرې د الله له لخوا دي؟

هغه چې مونږ یې پېژنو او تاریخي زده کړو جوته کړي چې ډېرو ادیبانو او مفکرینو د نورو آثار او کتابونه غلا کړي، او ځپل ځان ته یې ګوته نیسي، نو ولې انسان خپل عقلي آثار او خبري پردیو ته منسوبوي؟

او همدا رنګ چې پوښتني راولاړوي، که چیري یو انسان خپلي خبري الله ته دي لپاره منسوبوي چې خپل نفوذ پر خلکو وغوړوي، نو ولې دا ادعا نه کوي چې زما ټولې خبرې د الله له لوري دي؟

آیا دا خبره معقوله ده چې هغه دغه کتاب له ځان نه تیار او جوړ کړ، او الله ته یې دي لپاره منسوبوي چې خپل نفوذ پر خلکو وغوړوي او لوړ مقام ترلاسه کړي، سره له دي چې مونږ په همدغه کتاب کې ډېر داسي ځایونه مومو چې خبري کونکی په ښکاره محمدﷺ ملامته کوي، او لارښونه ورته کوي، او تیروتنې ورته سموي؟

چا چې قرآن لوستلای وي په دې پوهیږي چې قرآن له ملامته کولو کوم عام یا خاص ډګر ندي ځانګړې کړي، بلکې محمدﷺ یې په کورني ژوند کې ملامته کړي او لارښوونه یې ورته کړې، او د رهبرۍ ځیني پریکړې یې ناسمي بللي، بلکې په ځیني وخت کې د هغه د دعوت لاره هم!

د بیلګې په توګه، یوه ورځ محمد رسول الله د قریشو سردارانو ته دعوت ورکولو کې بوخت وو او هغه یې د اسلام راوړلو هیله لرله چې یو ړوند صحابي ورته راغلي -او پوهه نه وو چې رسول الله بل چا سره بوخت دی-، او اواز یې کړ: ما په هغه څه پوهه کړه چې الله درباندې پوهه کړې، او په خپله خبرې یې تینګار وکړ، نو د رسول الله مخ له غوسي نه سور شو، او دا یې خوښه وګڼله چې باید ړوند انتظار کړای وای تر څو فارغ شي، نو بیا رسول الله ولاړ او ړوند ته یې ځواب ورنکړ، نو قرآن دغه لحظه په تاریخ کې ولیکله، او دغه پیښه یې په دقت وړاندې کړه، او رسول الله د مخ سوروالي یې په ډاګه کړ، او څرنګه یې بوډا پریښود پرته له ځوابه، او قرآن په دي بسنه ونکړه، بلکې رسول الله یې ملامته کړ، او په ښکاره ډول ورته د داسي دریځ د بیا نه تکرارولو لارښوونه وکړه، او د دي پیښې په نوم یو سورت ونومول شو تر څو دا پیښه ژوندۍ وساتل شي
﴿عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ ٢
أَن جَآءَهُ ٱلۡأَعۡمَىٰ وَمَا يُدۡرِيكَ لَعَلَّهُۥ يَزَّكَّىٰٓ ٣
أَوۡ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ ٱلذِّكۡرَىٰٓ ٤ أَمَّا مَنِ ٱسۡتَغۡنَىٰ ٥

”

قرآن کریم ځینی داسی قیصی ذکر کړي چې هغه کې پیغمبر ته ځیني ارشادات وی او ځینی ملامتیا وي په دی شیانو باندی موږ ځینی وخت لوي کوو، او د خلکو په مخکی هم داسی وویل شي.



فَأَنتَ لَهُۥ تَصَدَّىٰ٦ وَمَا عَلَيۡكَ أَلَّا يَزَّكَّىٰ٧
وَأَمَّا مَن جَآءَكَ يَسۡعَىٰ٨ وَهُوَ يَخۡشَىٰ٩
فَأَنتَ عَنۡهُ تَلَهَّىٰ١٠﴾ (عبس: ١-١٠)،
بیا چې به کله دغه ړوند رسول الله ته راغلی هغه به ورته ویل: «مرحبا بمن عاتبني فیه ربي» «هغه چا ته ښه راغلاست چې زما رب ورباندې زه ملامته کړې یم» او خپل ځادر به یې ورته وغوړولو.

قرآن ډېرې داسې پېښې ذکر کړي چې رسول الله ته پکې لارښوونې شوې او ملامت ګڼل چې زمونږ یو تن له داسې پېښو ځان لوې ګڼي او دا خبره بده شمېري چې د خلکو په مخکې ورته وویل شي.. آیا داسې څوک به وي چې خپلې تېروتنې خپروي او د تاریخ په پاڼو کې یې په دې ډول ژوندۍ ساتي، که چېرې هغه لوی مقام او مخوري د خپل ځان لپاره غواړي!

او بیا همدا تاریخ مونږ ته په ډېر ځایو کې دا جوته کوي محمد ﷺ څومره سختې شیبې ګاللې هغه پکې د وحې د نازلیدو هیله کړې تر څو د رسالت رېښتینولي یې په ډاګه شي، او خپله پاکي او د خپلې ښځې پاکي په ډاګه شي، خو نه به ورته راتلله..

د بیلګې په ډول، خپل قوم ورسره ښخته دښمني کوله، نو قوم یې یو ځل له یهودو او نصارو څخه مرسته وغوښتله، تر څو د محمد په ضد ترې ګټه واخلي.

نو هغو یې قوم ته وویل چې درې پوښتنې ترې وکړئ، که ځواب یې درکړ نو پیغمبر دی، او که ځواب یې درنکړ نو پیغمبر نه دی، نو هغوې ترینه وپوښتل، نو محمد ورته د نندرې په توګه وویل: سبا به درته ځواب درکړم..

نو څو ورځې له محمد نه وحې پرېکړاې شوه، او دښمنان به ورباندې تیریدل او له نه ځواب له امله به یې ورباندې ملنډې کولې، او محمد ډېر غمجن شو، او پنځلس ورځې وروسته قرآن نازل او د هغه پوښتنو ځوابونه یې وویل، او محمد ته یې دا لارښوونه وکړله چې داسې پرېکونکې خبره مه کوه چې زه به سبا دا کار وکړم بلکې د الله له خوښې پورې یې تړه، او «إن شاء الله» وایه، او د ځواب دا وروستوالي ستا لپاره یوه ښوونه وه ﴿إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ وَٱذۡكُر رَّبَّكَ إِذَا نَسِيتَ وَقُلۡ عَسَىٰٓ أَن يَهۡدِيَنِ رَبِّي لِأَقۡرَبَ مِنۡ هَٰذَا رَشَدٗا٢٤﴾ (الکهف: ٢٤).



## په وار وار تورونه

له تعجب خبره دا ده چې د محمد ﷺ کیسه او ژوند د هغه په رېښتینولی مضبوط او ښکاره دلیل بلل کیداشي..

نو څنګه یو بې سواده چې لوستل او لیکل نشي کولای، او د بې سواده خلکو ترمینځ ژوند کوي، هغوي سره یو ځای اوسیږي، د خپل ځان او کور په روزي پیدا کولو کې بوخت وي، په ورځماره د خلکو میږې څروې، د اجرت په بدل کې تجارت کوي، له علماو سره کومه اړیکه نه لري، او پدې حالت کې یې ځلوېښت کاله تیر کړي وي، او خپل قوم ته یې ناڅاپه داسې څه راوړل چې هغوي نه پیژني، او نه یې له پلارانو څخه اوریدلي وي، او هغوي ته د مخکنو خلکو کیسې کوي، او د نړۍ د پیدایښت پړاونه یې ورته ښوودلي، د مخکنو پیغمبرانو د ژوند پېښې یې ورته بیان کړي، او په هر ډګر کې یې د دین باریکه او څېړنیزې مسئلې په ډاکه کړې!..

دغه حقیقت د محمد دښمنان له ستر ټکان سره مخ کړل، او هغوي پدې کې ګډوډ شول چې قرآن په څه تورن کړي تر څو خلک ترینه ځان وژغوري؟

نو د محمد ﷺ تورنول چې قرآن یې له ځان نه جوړ کړی بیخې ګران دي، او دا خبره د هغه چا عقل بیخې نه مني چې قرآن یې لوستلای وي، او دا هم ناشونې ده چې هغه له بل چا زده کړې وي، ځکه هغه خپل ژوند د قوم ترمینځ تیر کړي، او مونږ یې ټول شالید ښه پیژنو.. نو کله به خپل قوم په یو شي تورن کړ او کله به یې د هغه په ضد، کله به یې ویل چې قرآن یې له بل چا څخه اخیستلي، کله به یې ویل چې له ځان نه جوړ کړې، کله به یې ویل چې دا خوب د خوبونو کیسې دي... کله چې به یې له اثباتولو عاجز شول بیا به یې وویل: هغه ساحر، یا شاعر او یا لیونی دي!

دا هم هغه کیسه ده مګر نوم یې جلا دي.. آیا موسی عليه السلام په جادو نه وو تورن شوي؟ آیا عیسی عليه السلام په لیونتوب نه وو تورن شوي؟

او دا د تیرو ټولو پیغمبرانو حال وو، کله چې به یې دښمنانو تورنولو لپاره کوم بل څه پیدا نه کړل نو دا ادعا به یې وکړه چې دوي جادګر یا لیوني دي، او دا د درواغ ویونکي حال وي چې کله له خجالتي دریځ سره مخامخ شي، او دلیل یې

ورک شي، نو هرې لورې ته منډې وهي، او هر تور پوري کوي، تر څو د ولاړېدو ځمکه پیدا کړي، خو هیڅکله به یې پیدا نه کړي!

### مونږ یې ولې یو نابغه توب نه ګڼو

دا منل شوې ده چې الله د انسان په عقل کې داسې ظرفیتونه کېښودلي چې تصور یې ګران دی، خو آیا دا طبیعي نه ده چې عقل پایلې او لاسته راوړنې دې پولې ولري؟.. سره له دې چې عقل د یو زورور رب ګواهي کوي، او د رب عدل دا غوښتنه کوي چې یو بل داسې ژوند دې وي چې هر څوک د خپلو ښو او بدو جزا ومومي، خو آیا عقل د دې جوګه دی چې نور تفصیلي او باریکې خبرې اثبات کړي، کومې چې اسناد او شواهد ونه لري؟

قرآن سره بلد انسان دا خبره مومي چې قرآن مونږ ته د ایمان تفصیلي پولې په ډاګه کوي، او مونږ ته دا ښايي چې څنګه پیدایښت پیل شو، او څنګه به له مینځه ځي، جنت او نعمتونه یې راته بیانوي، اور او ربړونې یې راته بیانوي، د دروازو شمیره او ورباندې ګمارل شوي فرښتې شمیره په ګوته کوي، د انسان او نړۍ اړوند تفصیلي مسائل راته وړاندې کوي.. نو په کومه عقلي نظریه دغه ټول تفصیلات جوړ کړای شوي؟

دا له کومې ځیرکتیا او نابغه توب له مخې ندي رامینځ ته شوي، یا به دروغ، باطل او اټکل شوي وي، او یا به ریښتیا

> ټولو پیغمبرانو سره همداسې چلند وشو، کله چې دوی دښمنانو داسې څه پیدا نه کړ چې تهمت پر ولګوي، نو دوی وویل چې دوی (یعنې پیغمبران) لېونیان او یا جادوګران دي.

حق وي له زده کړې له لورې ترلاسه شوي.

او دا خبره په ډاګه ده چې عصري ساینس یې ځینې حقایق جوت کړي په داسې وخت کې چې له نورو کومو معلوماتو سره ټکر ندي کړي، او همدارنګ یې له هغو غیبي شیانو سره چې په تیرو آسماني کتابونو کې راغلي موافقه کړې.

### ښايي هغه له کتابونو بیا تسوید شوي وي

راځئ چې لږ سوچ وکړو؛ آیا دا خبره لږ امکان لري چې هغه دا ټول معلومات له مخکنو کتابونو څخه اخستلي وي؟

که مونږ له دې حقیقت نه تیر شو چې محمدﷺ یو بیسواده وو، لیکل او لوستل یې نشو کولای، او ډیر قومیان یې هم بسواده وو، او هغوی په دغو علومو نه پوهیدل، او هغه له اهل کتابو (یهودانو او مسیحیانو) سره کومه ملګرتیا نه ده کړې –پرته له هغې ناخاپي لیدنې چې د کوچنیتوب په دوران کې یې د خپلوانو په شتون کړې وه-، او تاریخي حقیقت



دا په ډاګه کوي چې د هغه زماني علماو به علم یواځې له ځان سره ساتي، تر څو خپل لوړ مقام خوندي کړي، او د هر چا په مخ کې دروازې بیرته نه وي..

که مونږ له دې هر څه تیر شوي، نو هغه حقیقت چې د هر ځیرونکي مخې ته پروت دی؛ دا په ډاګه کوي چې قرآن له اسماني کتابونو سره په هر څه کې موافق نه وو، بلکې ځینې ناسمو معلوماتو ته یې سمون ورکړی (کوم چې ځینو علماو تغیر کړي وو) او ځینې نیمګړې کیسې یې پوره کړې، او هغه علم یې ښکاره کړې کوم چې به هغوي پټوو، او هغه عقیدوي او اخلاقي ګمراهۍ یې په ډاګه کړې کومې علماو د پیغبرانو دین پورې تړلې وي او په دین کې به نه وې، او قرآن له داسې بیلګو ډک دی.. سره له دې آیا امکان لري چې هغه د هغوي شاګرد وي، او له هغوي معلومات ترلاسه کړي وي؟

### یو بیلونکی تاریخي حقیقت

یو منصفانه ځیرونکی دا چانس له لاس نه ورکوي چې ډیر ودریږي او ژور سوچ وکړي.. آیا د اسلام پیغمبر محمد ج یو عربي سړی نه وو؟

آیا تاریخ مونږ ته دا ندي راښودلي چې د هغه قوم په هغه زمانه کې داسې یو فن درلود چې له یو بل سره به یې پکې سیالي کوله او پر یو بل به یې تفاخر کولو چې هغه فن د فصاحت او بلاغت وو؟ او د هغوي کار یواځې شعر او ادب وو، هغوي به د شعرونو فورمونه، بنداړونه



او مجلسونه کول کول، او یوه قبیله به د شعر په یوه کړۍ (بیت) پورته کیدله او بله به پرې ښکته کیدله!

او د تاریخ او ادب کتابونه وایي چې هغوي کې به چا شعر یا نثر وویله نو هغوي به یې نیمګړتیاوې پوره کړې، او څه چې به ترینه پاتې وو هغه به یې پشپړ کړل، او هغه ته به پخپل تګ رو کې ځواب ورکولو، او دا یې د سیالۍ ډګر وو، او دا یې د قوت او ځانګړنې ښکارندوي وه.

نو بیا څنګه محمد ﷺ هغه ښختو دښمنان ته چې هر ډول زیان ورسولي، قرآن یې ورته راوړ او هغوي ته د ځواب ننګونې ورکړې خو هغوي یې د لږ برخې سیالي هم ونکړه، او ټول غلي پاتې شول او له ډګر وتښتیدل!

آیا محمدﷺ له خپلې ننګونې نه دا ویره نه لرله چې د هغوي پخپل ځانګړې مهارت کې ځانته راوپاروي، او هغوي به یې په فردي او ډلیز ډول سیالي وکړي، او دا به غلي کړي، او ولس ته بې دروغجن په ډاګه کړي!

او که مونږ دا انګیرنه وکړو چې هغه د خپل قوم ظرفیتونه پیژندل، نو بیا یې څنګه دا په کلک ډول ویلې چې تر

قیامت ورځ پورې یې څوک سیالي نشي کولای، او نه یې له کومې برخې سیالي کولای شي، اگر که ټول وربانديې یوځای شي؟!
دا یوه داسې سرښندنه ده چې یواځې هغه سړي یې کولای شي چې په خپلو خبرو یې پوخ اعتماد او باور وي.. نو دا کار همداسې وو، نه قریشو، او نه نورو بلیغانو د قرآن په څیر څه ولیکل او نه یې د کومې برخې په څیر، او دا یو ژوندې حقیقت دې تر نن ورځ، او چا چې کوښښ کړی له شکست سره مخ شوي او پاتې راغلې، او د خپل قوم د خندا وړ جوړ شوې، او ټوقو ټقالو او ادبي سپکوالي سره مخ شوي..

## د هر خپله پایلي خبره

له دې وروسته مونږ کې هر یو تن د اخري خبري حق لري چې د قرآن په هکله پریکړه وکړي، او خپله ځانگړې تجربه د هغه په لوستلو، بل ته په ښودلو، په هغه کې سوچ کولو ښکاره کړي. او پخپله ژبه کې د هغه یوه مناسبه ترجمه ترلاسه کړي کې په عربي ژبه نه پوهیږي.

قرآن د دې خبرې پخلی کوي چې د محمد ﷺ د پیغبرتوب لوې دلیل او ستره رېښتینولي هغه څه دي چې مونږ ورته د قرآن له لوستلو او پوهیدلو وروسته رسیږو، قرآن ویلي: ﴿أَوَ لَمۡ يَكۡفِهِمۡ أَنَّآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ يُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَرَحۡمَةٗ وَذِكۡرَىٰ لِقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ٥١﴾ (العنکبوت: ٥١) «آیا دوی لپاره دا پوره نه ده چې مونږ پر تا کتاب رالیږلې او پر دوی لوستلای کیږي، یقینا په دې (کتاب) کې مومنانو لپاره رحمت او پند دې» (العنکبوت: ٥١).

الله ټولو خلکو ته د قرآن لوستلو او په هغې د ژور فکر او سوچ کولو بلنه ورکوي، او یواځې هغه څوک ترینه بې برخې پاتې کیږي چې زړه او عقل ته یې قلفونه اچولي وي ﴿أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلۡقُرۡءَانَ أَمۡ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقۡفَالُهَآ٢٤﴾ (محمد: ٢٤).





## د فاتحې سورت

قرآن کې تر ټولو عظیم سورت ده او مسلمانان یې هر وخت په لمانځه کې تکراروي، معنا یې په لنډ ډول دا ده.

### د سورت فاتحه معنا

| | |
|---|---|
| ﴿بسم الله الرحمن الرحیم﴾ | احترام او عظمت لپاره د الله په نامه شروع کوم، چې رحمت یې صفت ده او هر شی یې پراښتیا لري. |
| ﴿الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِين﴾ | د الله ثنا بیانوم د هغه په ټولو صفاتو او افعالو او د ښکاره او پټ نعمتونو سره د مینې او عظمت، هغه خالق د او مالک ټولو مخلوقاتو ته د نعمتونو ورکونکی ده. |
| ﴿الرَّحْمَنِ الرَّحِيم﴾ | د رحمت صفت په ټولو معناو سره او په ټولو حالاتو او اړخونو، هغه رحمت په نړی‌کې عام او پراښه ده، او خاص رحمت یې پر مومنانو ته رسیږي. |
| ﴿مَالِكِ يَوْمِ الدِّين﴾ | د قیامت د ورځې د خپلی ښوښی مالک دی. |
| ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِين﴾ | ای زمونږ ربه مونږ یواځې ستا عبادت کوو، په هیڅ ډول عبادت کې درسره څوک نه شریکوو، په ټولو کارونو کې له تا څخه مرسته غواړو، هر څه ستا به لاس کې دي  بل څوک هیڅ واک نه لري. |
| ﴿اهدنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ﴾ | ای زمونږ ربه مونږ ته نیغی لاری باندی تللو توفیق راکړه، او استقامت راکړه په همدی لاره تر مرگه پوری. |
| ﴿صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ﴾ | د هغه خلکو لاره چې تا پر انعام کړی چې هدایت او استقامت دی ورکړی، چې پیغمبران او صالحین هغه چا چې حق یې وپېژندلو او د هغه تابع داري یې وکړه. |
| ﴿غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلاَ الضَّالِّينَ﴾ | لری مو کړه او ومو ساته له هغه لار څخه چې ستا پر غضب او غصه وي، ځکه چې حق یې پېژندلی وو مگر د هغه اتباع یې وو نه کړه، او له هغه لاری څخه چې بې لاری شوي د خپلی ناپوهی او صحیح لاری په غوښتو کې سستی کولو. |
| ﴿آمین﴾ | ای الله قبول یې کړه. |



# په اسلام کې د عبادتونو حقیقت څه دی؟



آیا

**آیا الله ته زمونږ د عبادت اړتیا ده؟**

زمونږ عباداتو او اعمالو ته الله هیڅ محتاج نه دي، او په اسلام کې نجات او خلاصون ځانته په رسوماتو او شکلیاتو او مالي ټکسونو ندي بلکې د خلاصون او نجات لار الله ته ربښتینې توجه او په هغه باندی ایمان راوړل دي خو باید په عملي ژوند کې د نفس سپیڅلتیا ښه اخلاق او دبشري ټولنې د خدمت او پرمختګ کوشش یې تمثیل او ترجمانې وکړي.

الله په قرآن کې فرمايلي دي: ﴿وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ٥٦ مَآ أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ وَمَآ أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ٥٧ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلرَّزَّاقُ ذُو ٱلْقُوَّةِ ٱلْمَتِينُ٥٨﴾ (الذاريات: ٥٦-٥٨) «او ما پېريان او انسانان نه دي پيدا کړي مګر د دې لپاره چې دوی زما عبادت وکړي- زه له دوی نه هېڅ رزق نه غواړم او نه دا غواړم چې دوی ما ته خوراك راکړي-بېشکه هم دغه الله ښه روزي ورکوونکی، قوت والا، (او) ډېر مضبوط دی».

کله چې ځينو خلکو ته پوښتنه پيدا کېږي او ده يو بل څخه د لمونځ لپاره دقبلې د سم لوري پوښتنه کوي- ځکه په اسلام کې لمونځ د مکې لوري ته کيږی – خو جواب کې د دين حقيقت په رښتنی ايمان د الله لوري ته ځان برابرول نيک کارونه کول او بشري ټولنې ته ګټه رسولو باندې تاکيد او ټينګار اوشو د ختيځ او لوديځ په لوري مخ اړولو ته ځانته اسلام نه دی، الله



کله چې مشکل وو نو خلکو يو بل څخه پوښتنه وکړه چې د لمانځه لپاره د قبلې صحيح طرف کوم ده ددی شي تاکيد پر وشو چې ددين معنا يواځې يو خوا او بل خوا مخ ګرځول نه دي بلکې اصل معنا يې ښه قوي ايمان او ښه عمل کول او انسانانو ته ګټه رسول دي.



دوي ته ووېل: ﴿لَّيْسَ ٱلْبِرَّ أَن تُوَلُّوا۟ وُجُوهَكُمْ قِبَلَ ٱلْمَشْرِقِ وَٱلْمَغْرِبِ وَلَٰكِنَّ ٱلْبِرَّ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلْكِتَٰبِ وَٱلنَّبِيِّۦنَ وَءَاتَى ٱلْمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ ذَوِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينَ وَٱبْنَ ٱلسَّبِيلِ وَٱلسَّآئِلِينَ وَفِى ٱلرِّقَابِ وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَٰهَدُوا۟ وَٱلصَّٰبِرِينَ فِى ٱلْبَأْسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَحِينَ ٱلْبَأْسِ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ صَدَقُوا۟ وَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُتَّقُونَ١٧٧﴾ (البقرة: ١٧٧) «نېکي دا نه ده چې خپل مخونه د مشرق او مغرب په طرف وګرځوئ، او لېکن نېکي (د هغه چا) ده چې په الله او په ورځ د اخرت او په ملايکو او په کتابونو او په نبيانو يې ايمان راوړی دی او د هغه په مينه (کې) خپلوانو او يتيمانو او مسکينانو او مسافرو او سوالګرو ته مال ورکوي او په (ازادولو د) څټونو کې (يې لګوي) او لمونځ قايموي او زکات ورکوي او د خپلو وعدو پوره کوونکي وي کله چې وعده وکړي، (خصوصًا) چې په سختۍ او تکليف کې او د جنګ په وخت کې صبر کوونکي دي، دا هغه خلق دي چې رښتيني دي او همدغه خلق متقيان دي».

قرآن مونږ ته يو ځل بيا ټينګار کوي چې څوک چې په عبادت او دين دارۍ کې کوشش کوي، ګټه يې دخپل ځان ده او په دې کې خلاصون دی، او يواځينی بايلونکي هغه څوک دي چې انکار او کفر کوي، ځکه الله زمونږ نه بې پرواه دي، لکه چې ويلي دي: ﴿وَمَن جَٰهَدَ فَإِنَّمَا يُجَٰهِدُ لِنَفْسِهِۦٓ إِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِىٌّ عَنِ ٱلْعَٰلَمِينَ٦﴾ (العنکبوت: ٦) «او هغه څوك چې جهاد کوي، نو يقينًا هم د خپل ځان لپاره جهاد کوي-، بېشکه الله خامخا غني (ډېر بې پروا) دی، له عالمونو نه».

# د اسلام ارکان

په اسلام کي تر ټولو مهم عبادات چي امر یی پري شوي ده ارکان بلل کیږي، او په لاندې توګه دي:



د الله په خدایتوب باندی ایمان او صادقانه اعتراف او د هغه داستازی محمد تابعداري چي هغه باید ګواهي ورکړي چي حقدار ده عبادت نشته دي مګر یو الله دی او محمد د الله استازی او پیغمبر دی (مخ وګورئ ۳٦)



دفرض لمونځونو ادا کول. (مخ وګورئ ۱۱۲)



زکات حقدارو ته ورکول. (مخ وګورئ ۱۱٦)



د رمضان میاشتي روژې نیول. (مخ وګورئ ۱۱۸)



د الله د عزتمند کور حج کول هغه چاته چي مالی او فزیکی توان لری (مخ وګورئ ۱۲۰)



## ولي مکلفیت او ازمېښت؟

په مختلفو ډولونو یوه پوښتنه تکرار ریږی، یو یي وائی: څنګه الله مونږ لره خوله غاښونه معده د خوراک لپاره پیدا کړي، او بیا وایي: روژه اونیسئ، او څنګه کیداشي چي الله زمونږ لپاره ښکلا شهوت پیدا کوي، خو بیا ووایی: چي سترګي مو ښکته وساتئ او پاک لامن شئ، ښایي بل جرات وکړي او ووایي: الله ولي مونږ ته قوت راکوي چي بیا مو په نورو د ظلم او تیاري څخه منع کوي؟

خو په حقیقت کي په اسلامي تصور کي دغه کار ډیر واضح دي، څکه الله مونږ ته دغه قدرتونه او قوتونه ددي لپاره راکړي چي مونږ یي کنټرول کړو او خپله فایده تري واخلو، نده چي په مونږ حکومت وکړي، څکه الله تاته آس د دی لپاره در کړي چي سواري پري وکړي او اداره یي کړي، نه ده چي تاته په شا شی او تا اداره کوي، زمونږ اجسام او بدني څواکونه زمونږ لپاره پیدا شوي آسونه دي تر څو سواري پری وکړو او اداره او کنټرول یي کړو او په مناسب وخت روغ ځای او صحیح لاره کي استعمال کړو، نه ددي بر عکس.

نو له دي وجهي بشري تفوق او منزله په دي کي ده چي انسان باید خپل شهوت کنټرول کړي، خپل خواهشات او نفس ته لارښوونه وکړي، او خپل څواکونه په خیر کي استعمال کړی، همدا هغه څه دي چي الله انسان ته پرې تمیز هم ور کړې دی، او د آزموینې ډګر یي برابر کړې دي...او همدې لپاره الله مونږه پیدا کړي یو.

> انسان خپل موقف او پرهغه غلبه حاصلولو لامل یي په خپلو خواهشاتو باندی پوره قدرت لرل او د هغه رهبري کول دي، او لارښونه وشي دغی قوی چي د څه په ګته کي استعماليږي.

لکه په قرآن کې دي: ﴿إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ نُطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَاهُ سَمِيعًا بَصِيرًا • إِنَّا هَدَيْنَاهُ السَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا﴾ (الإنسان: ۲-۳) «یقینًا په انسان باندې داسې وخت هم راغلی دی چې دی څه داسې د یادولو (وړ) شی نه و- بېشکه مونږ انسان له ګډې وډې شوې نطفې نه پیدا کړی دی، چې مونږ به دی ازمایو، نو دی مونږ اورېدونکی (او) لیدونکی وګرځاوه».

هر قسمه مصیبتونه او مشکلات چې انسان ته رسېږي دا زمونږ لپاره یوه اضافي ازموینه ده تر څو خپل روحي أخلاقی او ایماني وضعیت ته پرمختګ ورکړو، او د خپل ژوند هدف او ځای را یاد کړو په قرآن راځی: ﴿وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنْفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ • الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾ (البقرة: ۱۵۵، ۱۵٦) «او خامخا مونږ به تاسو ضرور په یو شي سره له وېرې او له لوږې او د مالونو او د ځانونو او دمېوو په نقصان (کمي) سره ازمایو، اوصبر کوونکو ته زېری ورکړه- هغه کسان چې کله دوی ته څه مصیبت ورسي (نو) وایي: یقینًا مونږ د الله (مملوك) یو او بېشکه مونږه خاص هغه ته ورګرځېدونکي یو».

په دنیا کې ژوند د ایماني او اخلاقی پرمختګ او شاتګ لپاره یوه پرانیستې ساحه ده، او الله ﷻ که څه هم مونږ د هدایت او اصلاح ډېر فرصتونه راکړه خو په مونږه یي زور نده کړی بلکی د انتخاب لپاره دراوزې خلاصي دي، او مونږ ته د ځمکې د آبادې، بشریت ته د فایدې او د خپلو غلطیانو او اخطاؤ نه د استفادی لاربښوونه کړې ده تر څو کله چې خطا او پی لارې کیږو باید را وګرځو او توبه وکاږو، عزتمند پیغمبر محمد ﷺ فرمایلی دی: «لو لم تذنبوا لذهب الله بكم، ولجاء بقوم یذنبون، فیستغفرون الله فیغفر لهم» «که چیرې تاسو ګناه وو نه کړی الله به تاسو واخلې اوداسی خلک به راولی چې ګناه کوی خو سمدستی دالله نه بخښنه غواړی او هغه ورته بخښنه کوی» (مسلم ۲۷۴۹).





# لمونځ

کله چې تاسو هغه عجیبه صحنه په مستقیم ډول یا په رسنو کې وینې چې یو یا ډېر مسلمانان یوې مشخصې لورې ته مخ کوي، او په قیام رکوع سجده پیل کوي لکه دوی چې د دنیا نه بېزاره وي، ښایي ددې کار دحقیقت په باره کې مو پوښتل وي.

## د مسلمانانو لمونځ څه شی دی؟

په اسلام کې لمونځ ډېر اهمیت درلودونکې دی؛ ځکه دا خدای ته د نزدیوالی، د هغه نه دوعا غوښتلو او هغه ته د پوره تسلمیدو تر ټولو مهمه لنډه لار ده، لکه خدای چې خپل پیغمبر ته ویلی دي: ﴿وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ﴾ (العلق: ١٩) «(الله ته) سجده کوه او (الله ته) ښه نژدې شه» له همدې امله د شهادت دکلمې څخه وروسته لمونځ د اسلام دوهم رکن ګڼل کیږي.

پیغمبر ﷺ ویلي دي: «بني الإسلام على خمس: شهادة أن لا إله إلا الله، وأن محمدا رسول الله، وإقام الصلاة..» «اسلام پنځه بناوې لري: په دې ګواهي ده چې د الله نه سوا بل څوک حق دار د عبادت نشته او محمد د الله پیغمبر دی، او دلمونځ اودرول دي» (بخاری٨).

مسلمان ته د لمانځه ثواب ورکول کیږي -لکه اسلام چې مونږ ته ښودنه کړې ده- په هغه اندازه چې لمونځ کوونکې خپل زړه پاک کړي، همت را غونډ کړي په احساساتو تمرکز ولري، او په رښتینې توګه الله ته په تضرع شي او د هغه نزدیوالې احساس ورسره وي؛ دا هغه څه دي چې نفس ته اطمینان او آرام ورکوي، او له همدې امله لمونځ د پیغمبر ﷺ تر ټولو لوی تفریح وه.

ځکه خو قرآن کریم مونږ ته د لمونځ د قایمیدو لارښوونه کوي او ځانته لمونځ کول نه غواړي؛ ځکه رښتینی قیام کې ټول غړي د عقل زړه او روح سره ګډون لري.. کله چې مونږ داسې وکړو لمونځ مو په خیر کارونو کولو کې مرسته کوي او د جرمونو او ګناهونو څخه مو لرې ساتې، ځکه خو دالله ذکر او هغه ته زارې د انسان په کارونو کې تر ټولو لوی کار دي.

الله فرمایلی دي: ﴿اتْلُ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِنَ الْكِتَابِ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَلَذِكْرُ اللَّهِ أَكْبَرُ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُونَ﴾ (العنكبوت: ٤٥) «ته هغه لوله چې تا ته وحې شوې ده، چې کتاب (او قرآن) دی او لمونځ قایموه-، بېشکه لمونځ (لمونځ کوونکي لره) له بې حیایی او بدکاری نه منع کوي- او خامخا د الله یادول ډېر لوی ده او الله پوهېږي په هغو کارونو چې تاسو یې کوئ».

څوک دا فکر کوي چې لمونځ یوازې یو بدني ورزش ده چې د مخه یې غسل او پاکي کېږي، دهغه څخه دا پاتې ده چې د لمونځ کوم حرکات او خوځښتونه چې ده ولیدل هغه ټول په نفس کې د الله تعالی دتعظیم او درناوې لپاره وېناوې او عملونه دي، لمونځ کوونکې چې کله لاسونه پورته کوي لومړی کلمه د (الله اکبر- الله ډېر لوی دی) غږ وي، بیا په ویره باندې رکوع کوي د الله تعظیم منی ا و د خپله ناتواني اعلانوي کوي او وایي(سبحان ربی العظیم – پاکي ده زما دعظیم او لوی ربه لره) بیا الله ته سجده کوي دهغه نزدیوالی غواړي او د خپلې دعا د قبلېدو هېله کوي، خپل تندې او پوزه په ځمکه ږدي او وایي(سبحان ربی الاعلی – پاکي ده زما د ډېر اوچت پالونکي لره) د خپل پالونکي غوښتې کوي او دهغه نه یې غواړي، په دې ډول د لمونځ ټول عملونه وېناوې هسې بې ځایه خوځښتونه ندي بلکې ډېرې ارزښتناکې شیبې دي مومن په کې دهغه د پالونکي پیدا کونکي سره چې دده د شتون او خوښې په کې ده ورسیږي.

په مسلمانانو باندې په هره ورځ او شپه کې الله تعالی پنځه لمونځونه فرض کړې دي، هر ځاي کې کېږي خو غوره داده چې په جوماتونو کې وي تر څو د مسلمانانو ترمنځ اړیکې پیاوړې شي او د یو بل سره د دین او دنیا په چارو کې کومک او همکاري وکړي.



”
محمد صلی الله علیه وسلم ته به لمونځ ډېر زیات خوند ورکاو.



د مسلمانانو په نزد تر ټولو لوي جمات د حرم جمات ده، په دی کي کعبه شریفه ده چې حضرت ابراهیم علیه السلام جوړه کړی ده. د مربع شکل لري (یعني څلور ربک کونجونه یې برابر دي)، په قرآن شریف کې د ټولی نړی مسلمانانو ته ددی امر شوي چې د لمانځه په وخت کې خپل مخونه د کعبی په لور او په دی باور چې دا نه چا ته ګټه رسوي او نه ضرر.



همدارنګه اسلام په نفل لمونځ (هغه لمونځونه دي چې فرض نه وي) کله چې مسلمان کې توان وي، ډېر ټینګار کړې ده

مسلمانان خپل لمونځونه د کعبې په لور ادا کوي، کعبه د مکعب شکل یوه ودانۍ ده اول ځل ابراهیم ﵇ چې د ټولو پیغمبرانو پلار دي دعربو د ټاپوزمې په لودیځ په مکه کې جوړه کړیده، او پیغمبرانو یې حج کړی دي، او مسلمانان په دي پوهه دي چې کعبه د ډبرو نه جوړه ده نه چا ته ګټه رسوي او نه زیان خو الله ځکه په لمانځه د هغې په لور د اودریدو حکم کړی دي تر څو ټول مسلمانان په یوې خوا باندې یو موټې شي.

## اذان

هغه غږ چې خلک د لمانځه په وخت خبروی او جومات ته یې را بلي (اذان) نومیږي.

دا د الله د ذکر او درناوي یو ډول دي چې مسلمانان لمونځ ته حاضروي، او لاندې الفاظ دي:

١- الله اکبر- الله ډېر لوی دی (څلور ځل)

٢- زه ګواهي کوم چې الله نه سوا بل د عبادت حقدار نشته (دوه ځله).

٣- زه ګواهي کوم چې محمد د الله پیغمبر ده (دوه ځله).

٤- لمانځه ته راشئ (دوه ځله).

٥- کامیابۍ ته راشئ (دوه ځل).

٦- الله ډېر لوي دي (دوه ځل).

٧- بل خدای نشته مګر الله دی.



# زکات

هر څوک یقین لري چې دوه ګوني دحده دډېرې شتمنۍ او د شدید فقر حل باید راوزي، څکه د شتمنو او بې وزلو تر منځ واټن ټولنه د چټلتیا جرمونو او تخریب پلوته کش کوي، اقتصادي سیستمونه فکري فلسفي او قانوني تشریعات ددې ستونزې په درملنه کې ډېر توپیر لري.. اسلام د پورته ستونزې دحل سره څرنګه چلند کړی دی؟

هر کال الله په مالدارو مسلمانانو باندې د شخصي سامان نه اضافه مال کې ۲.۵٪سلنه زکات فرض کړې دي؛ تر څو بیوزلو او اړو کسانو ... ته ورکړې شي، او دا د اسلام دریم رکن نه ده.

په زکات کې د شتمن په بې وزله کومه لورېینه نشته څکه زکات د شتمن په مال کې د فقیر حق دې او حاجتمند ته د غوښتنې او ذلت پرته د خپل حق رسیدل دي.

د لږه اندازه لګښت خو په شتمن مالدار باندې واجب ده خو ددینه اخوا نور انفاق او لګښت بیا د سیالۍ یو پرانیستی ډګر دی، چې ددغه مصرف اغیز په خپل ژوند کې د روغتیا نور مال او خوښۍ په توګه وینې او په اخرت کې اجرونه او څو برابره نعمتونه دي.

لکه چې په قرآن کریم کې راغلي دي: د الله د خوښې لپاره د مال مصرفکوونکو مثال دغنم دهغه دانې دی چې دکرلو نه روسته اوه وږي زرغون کړي او هر وږي کې سل دانې وي چې هر یو اوه سوه ځله زیاتیږي، الله تعالی د خرڅ کونکي په نیت او اخلاص باندې د هغه اجر زیاتوي، الله ډېر سخاوتمند او د شیانو په حقایقو ښه عالم دي ﴿مَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنْبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنْبُلَةٍ مِائَةُ حَبَّةٍ وَاللهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَشَاءُ وَاللهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ﴾ (البقرة: ۲۶۱) «د هغو کسانو مثال چې د الله په لار کې خپل مالونه لګوي د هغه دانې په شان ده چې اوه وږي زرغون کړي، په هر وږي کې سل دانې دي، او الله (اجر) زیاتوي چا لپاره چې وغواړي، او الله ډېر فراخۍ والا، ښه پوه دي».

قرآن کریم مونږ ته راښيي چې حاجتمند او آړو خلکو ته مال ورکول د نفس لپاره صفايي او تزکیه ده الله خپل پیغمبر ته وواېی:﴿خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا﴾ (التوبة: ۱۰۳) «(ای نبي!) ته د دوی له مالونو نه صدقه واخله، چې ته دوی پاک کړې او په دې سره یې تزکیه وکړې».



او مونږ ته دا هم راښايي چې څوک په خپل مال کې بخل کوي او خرڅ نه کوي د بې وزلو او اړو کومک نه کوي نو اول نمبر تاواني دې؛ څکه خپل ځان یې د دنیا او اخرت په نیکبختۍ نه لوربږي.

قرآن کریم کې راغلي دي الله فرمائي: ﴿هَا أَنْتُمْ هَؤُلَاءِ تُدْعَوْنَ لِتُنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللهِ فَمِنْكُمْ مَنْ يَبْخَلُ وَمَنْ يَبْخَلْ فَإِنَّمَا يَبْخَلُ عَنْ نَفْسِهِ وَاللهُ الْغَنِيُّ وَأَنْتُمُ الْفُقَرَاءُ وَإِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوا أَمْثَالَكُمْ﴾ (محمد: ۳۸)

«خبردار شئ! تاسو ای دغو کسانو! تاسو رابللی شئ، د دې لپاره چې تاسو د الله په لاره کې مال ولګوئ، نو په تاسو کې ځینې بخل کوي او څوك چې بخل وکړي، نو یقینًا هم دا خبره ده چې هغه له خپل ځان نه (د خیر په منع کولو سره) بخل کوي او هم دا الله غني (ښه بې پروا) دی او هم تاسو فقیران یئ- او که تاسو وګرځېدئ (نو) هغه به له تاسو نه غیر بل قوم په بدل کې راولي، بیا به هغوی ستاسو په شان نه وي».

د اسلام د ارکانو څخه د دې لوی رکن په عملي کیدو ټولنیز امنیت منځته راځي، او د ټولنې د ټولګیو تر منځ نسبي انډول پیدا کېږي، اړو خلکو ته زکات په ورکولو باندې مالي شتمنې د محدودو خلکو په لاسونو کې نه انحصارېږي، څکه خو د لومړي مسلمانانو په تاریخ کې څو څو ځلې زکات او مرستې په اړو خلکو پسې په ښارونو کې ګرځول شوي خو څوک به پیدا کیدل.

همدا رنګه د زکات په ورکړه باندې د مینې او خپل منځي اړیکو اصل پیدا کېږي؛څکه انسان هغه چا سره مینه کوي چې ښه ورسره وکړي، له دې کبله په اسلامي ټولنه کې ټول غړي د یو کلکي آبادي په شانته دیوه بل سره په مینه او پیوستون ژوند کوي، یو بل تقویه کوي، او د غلا چور اختلاس پیښې کمېږي.

> قرآن کریم تشبیه ورکړې د هغه سړي چې خپل مال د الله د رضا لپاره مصرفوي، مثال د جوارو هغه دانې ده چې کله یې وکرې نو جوړ یې کړې دی څخه اووه وګي. او په هر وګي کې څل دانې وي او زیاتيږي اووسوه ځله.



# روژه

مونږ ټول هغه کس خوښوو چې خپل ځان کنټرول ساتي، د ټولو خوړو يا د يو ډول ځخه پرهيز کوي تر څو خپله روغتيا ته پاملرنه وکړي، وزن کم کړي، يا د ډاکټر لارښوونې مني... او دغه کار د يو ستر هدف لاسته راوړو کې خپلو غوښتنو کنټرول يوه بريا او لاسته راوړنه ګڼو.

خو مسلمان په روژه نيولو باندې بيا ډېر غټ کار کوي، د خپل نفس روزنه کوي، دځان او نفس غوښتنې کنټرولوي او د ښه فيصله کوونکې ذات حکم سرته رسوي.

> د اسلام ستر پيغمبر تنبيه ورکوي چې د روژې د مياشت تيريدو څخه وروسته که څوک خپل زان بدل نه کړي خپل اخلاق درست نه کړي هغه له روژې څخه ګټه پورته نه کړه.

روژه د اسلام په ارکانو کې څلورم رکن دی، اسلام کې په هر قادر باندې د سهار د راختلو څخه د لمر د ډوبيدو پورې هر ورځ د رمضان مياشتی (د اسلام د قمري تقويم نهمه مياشت ده) روژه نيول فرض ده او د روژه ماتوونکو شيانو څخه بايد ډډه وکړي لکه خواړه څښل او د مېرمنې سره يوځای کيدل.

قرآن کريم مونږه خبروی چې روژه په تير ملتونو هم فرض وه که څه هم پخوا يې لږ ښه بدله وه خو هدف يو دی او بدلون نه مومی چې: دخدای په رښتنې توګه عبادت او دهغه نه ويره کول دي.

الله تعالی په قرآن کريم فرمايلي دي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾ (البقرة: ۱۸۳) «اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړې دې! پر تاسو باندې روژه فرض کړی شوې ده لکه چې فرض کړی شوې وه پر هغو کسانو چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې تاسو متقيان شئ».

کله چې يو مسلمان په ځانګړو ورځو کې هره ورځ دځو ساعتونو لپاره په خپلو رواه غوښتنو بر لاسی کيږي، نو په دې سره دخپل نفس بادار جوړيږی او په هغه کې واک کولای شي، او په نور ژوند کې نفس دناروا غوښتنو خواهشاتو څخه بند وي، ځکه خو پيغمبرﷺ د ديته پاملرنه کړيده: څوک د روژې څخه روسته خپل عملي کردار ته بدلون ور نه کړي او اخلاق يې ښائسته نه شي نو هغه د رژوې نيولو څخه کومه فايده نده کړې.



پيغمبرﷺ ويلي دي: «من لم يدع قول الزور والعمل به، فليس لله حاجة في أن يدع طعامه وشرابه» «چا چې درواغ او په هغې عمل بس نه کړ نو الله تعالی د هغه دخوړو او څښلو پريخودلو ته کومه اړتيا نه لري» بخاری ۱۸۰۴)

د روژه دار لوږه او تنده د هغه بېوزله او وږو خلکو لپاره چې د خوراک او څښاک څه نلري د مرستې او کومک ستره انګيزه ده ځکه ده د هغوي د کړاونو څخه پخپله خوښه لږه تجربه وکړه.

# حج

اکثره ادیان د دینی سفرونو څخه چې خلک په کې خپل پیدا کوونکی ته زاری کوی او دهغه عبادت کوی خالی نه دي.. خو په اسلام کې د حج سفر د شمیر له پلوه په ټولو ستر او ډیر مشهور دي، څه دپاسه درې میلیونه مسلمانان هر کال یوه کوچنې ساحه دمقدس سفر تر سره کولو لپاره را ټولیږي.

په اسلام کې حج څه شی دي؟

حج د اسلام د ارکانو څخه پنځم رکن دی او هغه څوک چې مالی او بدني توان ولری یو ځل پرې فرض دي.

دا یو لوی سفر دی چې طبقات توکمونه هویتونه، فیشن، او شتمنی په کې له منځه ځي، د ټولو یوه جامه په تن، یو رنګ، او ټول یوه نعره په خوله چې د انسان او د پالونکی ذات تر منځ د اړیکو حقیقت روښانه کوي او وایي: «لبیك اللهم لبیك، لبیك لا شریك لك لبیك، إن الحمد والنعمة لك والملك لا شریك لك» (زه حاضر یم یا زمونږ خدایه، زه حاضر یم، زه حاضر یم تاسره هیڅ شریک نشته دي زه حاضر یم، ټول حمدونه او نعمتونه ستا دي او پاچاهې ستا ده، ته شریک نه لري)



هغه څوک چې د حج اراده لري هغه به خپل عادي لباس لرې کړي او دوه سادری به خپل زان څخه تاوی کړي تر دي چې عاجزي وکړي الله ته او ټولو هغو خلکو سره زان برابر کړي چې د حج لپاره راغلي دي.



یعني ستا په څواب کې اي ربه مونږ دلته راغلي یو په ژبه اقرار کو، او په زړه کې منو چې ته ځانته د عبادت لایق یي او نور څوک نه دي، او ته د پوره ثناء حمدونو حقدار یي، تاسو پیدا کونکی نعمت ورکوونکی پاچا یاست، او تاسره هیڅوک شریک نشته دي.

حج یو ایماني سفر دی چې مسلمانان په کې په مختلفو حالاتو کې ډېر ویناوې او کارونه کوي، خو د ټولو کارونو موخه یي د الله ذکر تقوی او هغه ته خپله بیوزلۍ او اړتیا ښکاره کول او دهغه څخه مغفرت او اجر غوښتل وي، محمد ﷺ وایي: «إنما جعل الطواف بالبیت والسعي في الحج لإقامة ذكر الله» «په حج کې د الله د کور نه تاویدل (طواف) او په صفا مرواه کې منډې وهل (سعی) د الله ذکر لپاره کیږي» (ابن ابی شیبه ۱۵۳۳۴).



# کورنۍ په اسلام کې

په اوسني وخت کې په زیات شمېر کورنیو دا تعریف رښتیا کېږي چې کورنۍ د یوې ډلې افرادو څخه عبارت ده چې د یو کور څو کلي ګانې لري!

له بده مرغه ډېر خلک د ښځې او ماشومانو په وړاندې د حقیقي مسوولیت نه د تېښتې لار غوره کوي، هغه څه دي چې انسان د دغه مسوولیت پرته دمزو او خوند اخستو ته نه پرېږدي؟

که څه هم دا رجحان په دې پېر کې ښکاره شو خو د تاریخ په اوږدو کې یو شمیر خلکو دا سوچ درلود؛ چې په حقیقت کې د انفرادي مصلحت او منفورې خود خواهي ساده تمایل ده چې په فرد او ټولنې یې پایلو پاملرنه نده شوې.

له همدې امله اسلام راغلې او ټول پام یې کورنۍ ته وکړه، کورنې نظام حقوق او د افرادو تر منځ په وجایب یې وټاکل، ځکه کور او کورنۍ په اسلام کې د ښوونې روزنې او نهضت مرکز دې، او د ټولنې نیکمرغي دکورنۍ په سالم جوړښت روغتیا او ښه فعالیت کې ده.

**بې‌حسابه احکامو کې دغه تمرکز او فوکس ښکاره کیږي، ځینې دادي:**



**1**

اسلام د واده په اصل او د کورنۍ په جوړښت ټینګار کړې دی.

- اسلام کې واده او د کورنۍ جوړول د سترو کارونه او دپیغمبرانو سنت دی، کله چې د پیغمبر ﷺ ځینو ملګرو غوښتل ځانونه عبادت ته اوزګار کړي او لمونځ او روژه جاري وساتي، ودونه ونه کړی خو پیغمبر ورته لانښوونه وکړه وویل: «لكني أصوم وأفطر، وأصلي وأرقد، وأتزوج النساء، فمن رغب عن سنتي فليس مني» «زه روژه کېږم او کله یې ماتوم، لمونځ هم کوم او ویده کېږم، او د ښځو سره واده کوم، څوک چې زما سنت نه خوښوي هغه زما نه مني» (بخاري: ٤٧٧٦).
- کله چې قرآن کریم په بني ادم باندې د احساناتو او د قدرت نښانونو په هکله غږیږي، مخکې د سرې او ښځې تر منځ چې الله تعالی کوم سکون، ترحم ارامي محبت او مینه پیدا کړي دهغه یادونه کوي، لکه په قرآن کې راځي: ﴿وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً﴾ (الروم: ٢١)



«او د هغه له نښو ځنې دا دي چې تاسو لپاره یې ستاسو له نفسونو څخه جوړې پیدا کړي، د دې لپاره چې تاسو هغو ته (په مایله کېدو سره) سکون حاصل کړئ او هغه ستاسو په مینځ کې مینه او مهرباني پیدا کړه»..

- د واده په آسانه کولو یې حکم کړی، او څوک چې د واده اراده لري دهغه سره د مرستې ژمنه کړې ده، پیغمبرﷺ فرمایلي دي: «ثلاثة حق على الله عونهم» «په الله باندې د درې کسانو حق دې چې مرسته یې وکړي» بیا دهغوی څخه «والناكح الذي يريد العفاف» «هغه واده کوونکی چې عفت غواړی» یاد کړ (ترمذی١٦٥٥).
- ځوانانو ته په ښه ځوانۍ او قوت کې د واده حکم کړی دي، ځکه په واده کې د ځوانانو لپاره سکون او اطمینان دي او دهغوی د شهوانی قوت او رغبت د پوره کیدو لپاره یوه قانوي او شرعی لاره ده.



> کله چې قرآن کریم د آدم علیه السلام په اولاد د احسانات او نعمتونو ذکر کوي نو هغه څخه مخکې د هغه د هستوګنې او د ترحم او مینې او الفت ذکر کوي چې الله تعالی د سړي او د ښځې تر منځ پیدا کړی.

## 2

### اسلام د کورنۍ د هر غړي که نارینه وي یا ښځینه پوره درناوی کوي:

اسلام د بچیانو په روزنه کې په پلار او مور غټ مسوولیت اچولی ده، پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: «كلكم راع، وكلكم مسؤول عن رعيته، الإمام راع ومسؤول عن رعيته، والرجل راع في أهله وهو مسؤول عن رعيته، والمرأة راعية في بيت زوجها ومسؤولة عن رعيتها، والخادم راع في مال سيده ومسؤول عن رعيته» «هر يو تاسو کې راعي (شپون) دی او هر یو د تاسې د خپل رعیت (لاس لاندي کسانو) په برخه کې مسئول دي (د رعیت په اړه به له ده څخه پوښتنه کیږي). د ټولنې رهبر د خپل رعیت شپون او د خپل رعیت مسئول دی، سړی د خپل کور د اهل مسئول دی،ښځه د میړه په کور کې د خپل اولاد شپنه او مسئوله ده، خادم د مالک په مال کې شپون دی او په دغه باره کې مسئول دی» (بخاري: ۵۸۳).

## 3

### اسلام مور او پلار ته د احترام او درناوي، دهغوی د مرګه پورې د ساتنې او اطاعت کولو داصل په کرلو ټینګار کړی دی.

ځوی او لور چې هر څومره لوی شي، هغوي باندې د خپل مور او پلار درناوی او هغوی سره ښېګڼه واجب ده، او الله پاک د خپل عبادت سره یو ځای دا حکم کړی دي، دهغوی دواړه سره هره قسمه تجاوز په خبره او عمل کې منع کړې دی، آن که یوه کلمه یا داسې غږ وی چې دهغوی څخه په ناخوښۍ دلالت کوين الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي: ﴿وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا﴾ (الإسراء: ۲۳) «او ستا رب حکم کړی دی چې تاسو عبادت مه کوئ (د بل هیچا) مګر یواځې د هغه او له مور او پلار سره ښه احسان کوئ او که چېرې په دوی کې یو یا دواړه له تا سره لازمًا زوړوالي (بوډاوالي) ته ورسېږي، نو ته دې دواړو ته اُف (هم) مه وایه او مه دوی رټه او ته دوی ته ډېره تعظیمي خبره وایه».



اسلام د مور او پلار په هکله هر هغه الفاظو او افعالو څخه منع کوي چې هغه والدینو ته ضرر رسوي، او یا داسې الفاظ چې هغه د والدینو د خفګان سبب ګرزي.

## 4

### د هلکانو او نجونو د حقوقو د ساتنې او دهغوی په نفقه کې د عدالت امر کړی دی:

د الله پیغمبر ﷺ ویلی دی: «كفى بالمرء إثماً أن يضيع من يقوت» «د سړي د ا ګناه کافي ده چې هغه خوک ضایع کړي چې ډوډۍ په ده وي» (ابو داود ۱۶۹۲). د نجونو د ساتنې او خرڅې په هکله پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: «من يلي من هذه البنات شيئاً، فأحسن إليهن، كنَّ له ستراً من النار» «چاته چې د نجونو کوم کار وسپارل شو، او دهغوی سره ښه چلند وکړ، هغوی به یې اور ته پرده شی» (بخاري: ۵۶۴۹).

## 5

### اسلام په مسلمان باندې د خپلوي پالل (صله رحمی) فرض کړی دی:

دا په دې مانا: چې انسان د خپل مور او پلار خپلوانو سره خپلوي پالي او دهغوی سره نیکي کوي، او دغه کار الله تعالی ستر عبادت او طاعت شمیرلی دی، او د خپلوانو سره د پریکون نه خبرداری ورکړی دی، او هغه یې یوه ستر ګناه ګڼل ده، پیغمبر ﷺ فرمایي: «لا يدخل الجنة قاطع رحم» «جنت د خپلوي پریکوونکی نه شی تللی» (مسلم: ۲۵۵۶).



# په اسلام کې د ښځې مقام

د تلويزيون اعلاناتو د سړک په سر انځوزېو لوحو ته او د مجلو پوښونو ته يو لنډه کتنه مونږ ته په ښځه د مادي تمدن هر ستر جنايت ښايي چې ښځه په کې يواځې يو وړه نانځکه، دتجارتی تفريحي سامان په شکل دنورو جنسی او شهواني ليوالتيا د پوره کيدو لپاره استعالميږی.

دغه

دغه کار یوازې په لږ تحریف د ابتدایي ټولنو دښځو سپکاوې، د هغې نه د سامان جوړولو چې پېر او پلورل کیږي یو بل مخ دي.

هغه ښځه چې ډېره موده یې د بې عدالتي او ظلم لاندې ژوند تیر کړې دی، دخپلې اوږدې مبارزې له لارې هیڅکله نه غواړي چې د هغې وحشتناکې دراوزې نه وزی او بیرته همدې ځاې ته د بلې ناوړه دراوزې له لارې را وگرځې.

۱۴۰۰ کاله وړاندې چې اسلام راغی نو د ښځو په وړاندې دغیر عادلانه رویه او چلند په وړاندې چې په ښځو ظلم و رښتینی انقلاب را پورته کړ، د هغې لپاره قوانین او تفصیل احکام کیښودل تر څو یی د حقوقو او مقام ساتنه وکړي او په عزت کې په ښایسته طریقه دخپل ژوند پیغام او رسالت ادا کړي.

ښځو ته د درناوې له وجهې په قرآن کریم کې یو اوږد سورت چې د ښځو تفصیلې احکام په کې دي دسورت (النساء) یعنی د ښځو سورت په نوم دي، بر سېره پردې قران کریم مونږ ته د څو نیکو ښځو کیسې کړی، بلکی یو بل سورت یې د عیسی دمور مریم عليها السلام په نوم کړی دي.

اسلام ښځې ته د نظر هغه زاویه ته بدلون ورکړ، او د ښځې نه د تجارتی سامان په ځای انسان جوړ کړ، د یو شپې په ځای د ټول عمر ملگرې کړه، او ژوند یې ورته د شهوت پوره کیدو په ځای د سکون ترحم او مینې نه ډک کړ.

> په داسې حال کې چې ځینې قلمونه او لیکوالان اسلام په ښځه د ظلم، دهغې د حقونو په نه مراعت کولو په تور تورنوی، او د دوی په خبره چې اسلام د وخت او تمدن د غوښتنو سر سمون نه خوري، خو مونږ بیا گورو چې ۷۵٪سلنه نوی مسلمانان د بریطانیا په شان یو پر مختللی هیواد کې ښځې دي په ځانگړې توگه کله چې دوی د کورنۍ او فامیل په اړه د اسلام احکام او قوانین مطالعه کړی!
>
> (INDEPENDET) 6-11-2011 .





## د ښځو ته د درناوي احکامو ځینې مثالونه په لاندې ډول دي

- اسلام ښځو ته د میړه د انتخاب آزادي ور کړې ده، او د ماشومانو دروزنې مسوولیت ډېره برخه د ښځې په غاړه ده، پیغمبر ﷺ فرمایلی دی: «والمرأة راعية في بيت زوجها ومسؤولة عن رعيتها» «ښځه د میړه په کور کې د خپل اولاد شپنه او مسئوله ده او دهغې څخه به پوښتنه کېږی» (بخاری٥٨٣)
- اسلام د هغې نوم او خپل پلار ته د نسبت عزت ساتلی دی، د واده وروسته یې نسبت بدلون نه مومی او د خپل پلار او خپلې کورنۍ سره تړاو پاتې کېږي.
- اسلام په مختلفو چارو کې د نارینه او ښځو تر منځ تعادل او برابرې کړې، چې ټول مالي معاملات یې یوه برخه ده، پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: «النساء شقائق الرجال» «ښځې د نارینه وو خویندې دي» (ابو داود ٢٣٦).
- اسلام په سړی د هغو ښځو چې په ده نفقه فرض ده لکه ښځه، مور او لور د احسان پرته لګښت واجب کړی دي.
- اسلام ښځو ته په میراث کې د عادلانه تقسیم د لارې خپل حق ورکړي، په ځینو ځایونو کې ښځه د نارینه مساوي برخه اخلي، خو په نور ځایونو کې بیا د سړي سره په ډیرښت یا کمښت کې د خپلوي او مالي لګښتونو ته په کتو یو څه توپیر لري. دا یو سرسري او لنډ نظر دی که یو ځوک په میراث کې د ښځو برخه په ځېنو ځایونو د نارینه څخه کمه ویني خو بر عکس په سړی د الله دلورې هغه فرض شوی مالي لګښتونو ته لکه په ښځه خرچه نه ګوري؛ ځکه اسلام یو جامع متوازن نظام دی چې یو اړخ په کې په بل تیري نه کوي.
- اسلام د هغو کمزورو ښځو چې ځوک نه لری که څه هم د خپلوانو څخه نه وي د خدمت فضلیت او غوره والي بیان کړي دي او د هغوی په خدمت کې لا زیات کوشش کولو ته هڅول کړی دی، او دا کار د الله په نزد یو غوره کړنه ده، پیغمبر ﷺ فرمایلي: «الساعي على الأرملة والمسكين كالمجاهد في سبيل الله، وكالقائم لا يفتر وكالصائم لا يفطر» «د کونډو او بې وزله سره د همکار مثال د الله په لاره کې د مجاهد دې یا دهغه چاپه شان دي چې ولاړ وي او همېشه لمونځ کوی، او یا روژه دار چې نه یې ماتوي» (بخاری: ٥٦٦١).

> اسلام ښځی ته په میراث کې خپله برخه په ښه ډول ورکړی ده، په ځینو وخت د سړي او ښځی برخه یو ډول وي او په ځینې وخت جلا او ځینی وخت زیاته وي او ځیني وخت کمه وي.



## هغه ښځې چې اسلام ورته ځانګرې پاملرنه کړې ده



**مور:** یو سړی پیغمبر ﷺ ته راغی، او پوښتنه وکړه چې په خلکو کې ځوک ډېر مستحق دی چې زه ورسره نېکي وکړم؟ هغه وویل: «أمك» «ستاسو مور» ده وویل: نو بیا ځوک؟ هغه وویل: «ثم أمك» «ستاسو مور» ده وویل: نو بیا ځوک؟ هغه وویل: «ثم أمك» «ستاسو مور» ده وویل: نو بیا ځوک؟ هغه وویل: «ثم أبوك» «ستاسو پلار» (بخاری ٥٦٢٦).



**لور:** پیغمبر ﷺ فرمایلی دی: «من كان له ثلاث بنات فصبر عليهن، وأطعمهن، وسقاهن، وكساهن من جِدَتِه، كُنَّ له حجابًا من النار يوم القيامة» «د چا چې درې لونې وې او په هغوې صبر وکړ، خواړه او اوبه یې وکړې، د خپل توان برابر جامې ورته واغوستې نو د قیامت په ورځ به د اور څخه ډال او پرده وې» (ابن ماجه٣٦٦٩)



**میرمن:** د الله پیغمبر ﷺ فرمایلی دي: «خيركم خيركم لأهله، وأنا خيركم لأهلي» «غوره په تاسو کې هغه ځوک دې چې د خپلې میرمن سره ښه وې او زه د خپل کور والا سره ښه یم» (ترمذی ٣٨٩٥).

## په اسلام کې د ښځې او سړي تر منځ د جګړې هیڅ ځای نشته

په اسلام کې د دوه جنسونو (ښځینه او نارینه) تر منځ د جګړې او کړکیچ هیڅ ځای نشته دې، او دنیا لپاره سیالي بې مانا ده، په ښځې یا سړی باندې حمله او کمپاین کول او د هغوي کمزورتیاوې او نیمګړتیاوې تعقیبول څه خوند نه لري.

ځکه ځنګه انسان کولای شي چې خپلې نیمې برخې سره جنګ وکړي، او څنګه یو ورور د بل سره مبارزه وکړي، ښځه لکه چې خوږ پیغمبر فرمایي د سړی خور او نیمه برخه ده، د دواړو تر منځ اړیکې یو بل پوره کوي، په اسلامی ټولنه کې هر یو د بل کمښت بشپړوي.

قرآن کریم دا یووالې ډېر ښه انځور کړی الله فرمایي: ﴿هُنَّ لِبَاسٌ لَكُمْ وَأَنْتُمْ لِبَاسٌ لَهُنَّ﴾ (البقرة: ١٨٧) «هغوي تاسو لپاره لباس (جامې) دي او تاسو د هغوی لپاره لباس (جامې) یئ».

سړی چې په ښځه کې کومه کمزوري په لومړي نظر ګوري دا ده ځواک هغه بل مخ دي چې سړی نه شی کولای او کورنۍ ورته اړتیا لري... او ښځه چې په سړی کې کوم نقصان او کمښت ګوری ښایي د هغو امکاناتو یو مظهر وې چې ښځې سره نه ښایېږی، خو ژوند او ټولنه د هغې پرته نه سمېږي.

دا به چټیات وي چې الله د انسان د جنس لپاره دوه نوعه (نارینه او ښځې) پیدا کړی، او بیا دې دا خبره کېږي: چې دواړه نوعه دي په هر څه کې سره ورته وي.

کله چې ځینو نارینه و ښځو ته د ورکړلی شوی حقوقو ارزو وکړه، او ځینو ښځو سړو ته د ورکړلي شوی حقوقوهیله وکړه، د قرآن کریم دا آیاتونه نازل شول الله وایي: ﴿وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللَّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَى بَعْضٍ لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِمَّا اكْتَسَبُوا وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِمَّا اكْتَسَبْنَ وَاسْأَلُوا اللَّهَ مِنْ فَضْلِهِ﴾ (النساء: ۳۲) «او د هغه شي ارزو مه کوئ چې په هغه سره الله ستاسو ځینې په ځینو نورو غوره ګرځولي دي، د سړیو لپاره د خپل عمل حصه ده او د ښځو لپاره د خپل عمل برخه ده او له الله نه د هغه د فضل سوال کوئ، بېشکه الله په هر شي ښه پوه دی»، هر یو خپلې ځانګړنې دندې او عزت لري، او ټول په خپل وار کوشش کوي چې د الله مهرباني او خوښي په نصیب شي، شریعت ځانله د نارینه لپاره نه دی، او نه ځانله د ښځو لپاره دی، بلکې شریعت د انسان، کورنۍ او اسلامي ټولنې لپاره راغلی دی.

## د نارینه او ښځې تر منځ اړیکې

د نارینه و او ښځو تر منځ اړیکو تنظیم او سمون لپاره چې کوم قوانین دودونه پولې او تنظیمي رویه ده، دهغې لپاره د تاریخ په اوږدو کې انسان ګڼ تفسیرونه او انتخابونه درلودل چې را جمع کول او تعقیبول یې ستونزمن دي، خو د تاریخ او انسان پوهنې کتابونه د داسې قومونو په باره کې خبرې کړې چې بشپړ بربنډوالي او جنسي ګډوډۍ ورته ګناه نه ښکاره کېدله خو داسې خلک هم تیر شوی چې ښځه به یې په هغې د ډار له وجهې په زولنو تړله، نورو سړو به پرده کوله او ښځو به نه کوله، داسې هم و چې د بدن ځینې برخې به یې پټولې، چې شمار یې ستونزمن دی.

په هغو ملتونو کې ډېرو- په ځانګړي توګه هغو چې یوه اندازه تمدن یې ځکلی و- د نارینه او ښځې تر منځ اړیکو د تنظیم لپاره یې د یو سیستم او قانون اړتیا لیدله تر څو ژوند یې په ځنګل او غوجل بدل نه شي چې د انسانانو او حیواناتو تر منځ توپیر په کې نه وي.

> په هغو ملتونو کې ډېرو- په ځانګړي توګه هغو چې یوه اندازه تمدن یې ځکلی و- د نارینه او ښځې تر منځ اړیکو د تنظیم لپاره یې د یو سیستم او قانون اړتیا لیدله تر څو ژوند یې په ځنګل او غوجل بدل نه شي چه د انسانانو او حیواناتو تر منځ توپیر په کې نه وي.






## په اسلام کې د سړیو او د ښځو و د اړیکو ماهیت

په اسلام کې د نارینه او ښځې اړیکې کوم انسان اجتهاد نه دی چې د تاریخ او جغرافیه عوامل یې محدود کړي بلکې یو جامع نظام دی چې د هر وخت او ځای لپاره مناسب دي، الله تعالی په قرآن کریم کې نازل کړی دي او خوږ پیغمبر محمد ﷺ خلکو ته ور زده کړي دي.

د دې اړیکو ماهیت او پولې د سړی سره د ښځې له موقفه توپیر لري لکه چې اسلام یې بیان کړی دي.

**په اسلام کې نارینه د ښځو په هکله په څو برخو ویشل شوی دي:**

## ١ چې سړی د ښځې خاوند وي

د ښځې او خاوند د اړیکو تر ټولو ښه بیان او وصف قرآن کریم کړی دی، الله تعالی خاوند د ښځې لباره د لباس او جامو په نوم نومولی دی، او ښځه یې د سړی جامې یادی کړی دی، چې د دوی تر منځ د رواني عاطفه یې او فزیکي تماس یو عجیبه انځور دی، الله فرمایلي دي: ﴿هُنَّ لِبَاسٌ لَكُمْ وَأَنْتُمْ لِبَاسٌ لَهُنَّ﴾ (البقرة: ١٨٧) «هغوی تاسو لپاره لباس (جامې) دي او تاسو د هغوی لپاره لباس (جامې) یئ».

## ٢ چې سړی د ښځې محرم وي

محارم د ښځې هغه نزدې خپلوان دي چې د هغوی سره یې نکاح همېشه لپاره حرامه ده، هغوی ټول ١٣ ډوله نارینه خپلوان دي؛ لکه پلار، نیکه، زوی، ورور، تره، ماما، وراره، خوری، دزوي زوی (لمسی) د لور زوی (لمسی) .. او داسی نور

ښځه کولای شی چې دمحارمو خپلوانو مخ کې د حجاب پرته په طبیعي حالت کې ښکاره شی.

## ٣ چې سړی د ښځې نه پردی وي

د پردی نارینه نه مراد: هغه سړی دی چې د ښځې د محارمو څخه نه وي.

اسلام د سړی او پردۍ ښځې د تعلق د کنټرول لپاره داسی ضوابط او قوانین وضع کړی چه د ناموس او عرض ساتنه کوی او په انسان کې د شیطان د ننوتلو دروازې بندوی، چا چې انسان پیدا کړی په هغه څه ښه پوهېږی چې د ده لپاره مناسب وي لکه څنګه چې په قرآن کې راغلی دي: ﴿أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ﴾ (الملك: ١٤) « ایا هغه ذات به نه پوهېږي چې یې (هر څه) پیدا کړي دي (ولې نه!) او هم دی ډېر باریك بین، ښه خبردار دی».

## د سړي او پردۍ ښځې د اړیکو ضوابط او اصول

### ١ د سترګو ښکته کول

خدای دواړه جنسونو (نارینه او ښځه) ته د نظر د کنټرول امر کړی دی په دی مانا: هر هغه څه چې غریزه را پاروی هغه ته ونه کتل شی، ځکه دا ده پاک لمنی او ناموس ساتنې لاره ده، او د نظر ازاده بې پولو پریښودل دګناهونو او ناوړه کارونو لار ده لکه څنګه چې په قرآن کریم کې دی: ﴿قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ • وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ﴾ (النور: ٣٠-٣١) «ته مومنانو ته ووایه چې خپلې سترګې دې (له نامحرمو نه) ټیټې ساتي او د خپلو فرجونو (شرم ځایونو) ساتنه دې کوي، دا د دوی لپاره ډېر پاکیزه دي، بېشکه الله ښه خبردار دی په هغو کارونو چې دوی یې کوي - او ته مومنو ښځو ته ووایه چې خپلې سترګې دې ټیټې ساتي او د خپلو شرم ځایونو حفاظت دې کوي».



### ٢ یو بل سره په اخلاقو او ادب چلند کول

نارینه او ښځه باید د یو بل سره د کار او تحصیل په چارو کې په پوره ادب او درنښت چلند وکړی او څه چې د شهوانی غریزې د خوزښت سبب کیږی ځان تری وساتي.

### ٣ حجاب او پرده

خدای تعالی په ښځو د نارینه پرته حجاب او پرده ایښودي ده؛ ځکه په ښځه کې د ښکلا ښکارندوینه او د بی لارې اسباب دی چې هغه سړي زر په فتنه کې اچوی، د دینه چې یوه ښځه دسړي په فتنه کې پریباسی، له دي امله زیاتره له لرغوني تاریخ نه تر نن ورځې پورې مونږه ګورو چې د ښځې نه د نارینه و د شهوت لپاره ګټه اخستل شوی ده او بر عکس نه، او دا کار نن ورځ مونږ په مختلفو رسنیو کې په ښکاره سترګو ګورو.

د پردې او حجاب اندازه په اسلام کې داده چې ښځه خپل ټول بدن د مخ او لاسونو نه پرته د پردو سړو نه پټ کړې لکه قرآن کریم چې امر کړی دي ﴿وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا﴾ (النور: ٣١) «او خپل زینت دې نه ښکاره کوي مګر هغه چې لَه دې (زینت) نه (عادتًا) ظاهرېږي».

**ولې اسلام د پردو نارینه و وړاندې حجاب امر کړی دي؟**

- تر څو ښځه وکولای شي چې په ژوندون او ټولنه کې خپل ماموریت او رسالت په علمی او عملی برخو کې د خپل عزت او عفت په ساتلو سرته ورسوي.
- د ګمراهۍ او هیجان چانس کموالی تر څو ټولنه پاکه شي او د ښځو کرامت وساتل شي.
- هغه نارینه و سره چې ښځو ته په احترام او مودب نظر ګوري مرسته کول، هغوی د ښځو سره د انسان چلند کوی او د ښځو لپاره کلتوری او علمی ارزښتونه منې، نه دا چې ښځه د غریزې د را پارولو او د خوند او تفریح لپاره یوه وسیله ده او بس.



# په خوړو او څښلو کې د اسلام قانون

معمولا

معمولا هغه څوک چې د اسلام پلټنه کوي لومړی پوښتنه دا وي چې: اسلام ولې شراب او خوګ (خنزير) حرام او منع کړی دي؟

په ځواب کې باید یوه مهمه توضیح اوشي:

قرآن کریم د مسلمانانو لپاره د ځمکې په سر هر څه د ګټې او فایدې اخستلو لپاره جایز کړی دی، او د قرآن کریم ښکاره نص شته دی چې د ځمکه کې هر څه ده زمونږ د ګټې اخستنی لپاره پیدا کړی دي ﴿هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا﴾ (البقرة: ۲۹) چې خواړه او مشروبات د هغې له جملې څخه دي، او ټول جایز دي خو هغه نه دي کوم چې قرآن کریم د چټلتیا یا روغتیا د زیان او یا عقل د خرابیدو له کبله ترې بېل کړي دي، ښایي تاسو د خوګ (خنزیر) او شرابو د ممانعت په هکله غواړئ چې پوهه شئ.

## خوګ (خنزیر)

په قرآن کریم په ښکاره توګه د خنزیر(خوګ) دخوړو څخه ممانعت او حراموالی راغلی ده، سره د دېنه چې عربانو کې هغه زمانه کې خوګ مشهور نه وو، ځینو خلکو ته دغه ممانعت ناشنا ښکاره شو او نیوکه پرې کوي خو دا ځانته مسلمانان ندي بلکې معلومه خبره ده چې یهودانو هم خوګ حرام ګڼي او ده تورات (عهد قدیم) نصوص واضحه دي، خو حیرانتیا خبره داده چې د ادیانو ډېرو پوهانو د انجیل(نوی عهد) په نصوصو د نصرانیانو په نزد هم خوګ حرام ثابت کړي، خو روسته هغه کې بیا لاسوهنه او بدلون راوستل شوی دی. وګوره: (د مرقس انجیل۱۱/۵-۱۳ متی ۶۷، د پیټرس پیغمبر دوهمه رساله۲۲/۲، لوقا ۱۱/۱۵)

په دې کې کومه ستونزه ده چې الله مونږ د ځینو خوړو نه زمونږه مخنیوی وکړی سره د دېنه چې د نورو ډېرو خوراک یې راته روا کړی دي تر څو زمونږ ایمان او اطاعت وازمایي، لکه آدم ﷺ چې په جنت د ټولو پاک خوراکونو د اجازې سره سره یې د یوې ځانګړې ونې خواړه پرې حرام کړی و؟





## الکحول او شراب

هغه ناروغي او مرضونه چې د انسان ژوند له منځه وړي، په وراندې مبارزه او د خلکو د روغتیا او ژوند ساتنی لپاره سخت قوانین او مقررات وضع کول د دولتونو او حکومتونو تر ټولو مهم کار دي، او هر کوتاهي په کې په افرادو او ټولنې ناوړه اغیزې کوي.

ښایي مونږ ټولو ته دا معلومات ټکان ور کونکي وی، د کره څېړنو او رپوټونو له مخې چې د روغتیا د نړیوال سازمان او اکسفورډ پوهنتون په (طبیعت Nature) ژورنال کې په (۱۵ مارچ۲۰۱۲) په ۲۷۵۴۸۳ ګڼه کې خپور شوي، او د روغتیا د نړیوال سازمان د ۲۰۱۱/۲/۱۱ تاریخ راپور کې راغلی دي چې د شرابو او الکولو قربانیان په کال کې د ایډز، ملاریا او نري رنځ په ګډه قربانیانو څخه زیات دي، او نړېدي دري ځلې د ټولو جګړو، نسل وژنې عملیات او د تروریزم قربانیانو په دغه کال کې برابر دي، د روغتیا د نړیوال سازمان د راپور له مخې ځینې ارقام او شمېرنې ستاسو وړاندې دي.






هر کال د الکولو د اعتیاد له کبله د دوه نیم میلیونو څخه زیات انسان مري، چه د هغوی له منځه ۳۲۰۰۰۰ ځوانان دي چې عمرونه د ۱۵-۲۹ کلنو تر منځ دي، چې په ټوله نړۍ د دغه ګروپ د مړینې ۹٪ سلنه برخه تشکیلوي.

د امریکا یوه څېړنې ښودله په کال کې د ۷۰۰۰۰۰ پوهنتون محصلین د هغو محصلینو چې زیات شراب څښلي وی د برید لاندې راځي.

په ۲۰۰۱ کال یو لیکل شوی راپور ښايي چې په استونیا کې د ځوانانو ۸۰٪ د تاوتریخوالي جرمونه د شرابو څښلو څخه تړاو لري.

شراب په نړیواله کچه د قتل په جرمونو کې څلورمه برخه لاس لري.

د روغتیا د نړیوال سازمان راپورونو او معلومات په ټول دولتونو باندې د قوانینو او اقداماتو سختولو غږ کوي چې تر څو د الکولو ورځنې غمیزې راکمه کړي او یا مخنیوی اوشي



## قرآن له الکحول او شرابو سره څه ډول چلند وکړ؟

اسلام د روغتیا د نړیوال سازمان راپور ته انتظار نه دی کړی تر څو په افرادو او ټولنه د الکولو اغیز کشف کړی... څکه چا چې انسان پیدا کړی هغه په دې ښه پوهېږي چې ژوند او ټولنه څه ښه دي.

اسلام عربانو ته داسې وخت کې راغی چې هغوی د نشو او شراب سروکار و، او هر ډول شراب یې د ژوند مزې وې ...پخپلو کې به یې په شراب څښلو فخر کو، او خپل ټول مالونه به یې پرې خرچ کول.

قرآن کریم د الکولو په اړه ډېره منطقي او په انصاف ولاړه لاره خپله کړې ده کله چې د الکولو ځینې ګټې او فایدې منلې دي؛ څکه معتاد د لږ وخت لپاره راحت او خوند اخلی چه غمونه او اندیښنې تری لرې کېږي، خو اغیز او عواقب یې دردونکې دي، او په وګړو، ټولنه یې د رواني، سلوکي او روغتیا پایلو درملنه ناشونې ده، قرآن کریم راغلي دي: ﴿يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ قُلْ فِيهِمَا إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِنْ نَفْعِهِمَا﴾ (البقرة: ۲۱۹) « ... دوی له تا نه د شرابو او جوارې په باره کې تپوس کوي، ووایه: په دې دواړو کې ببخې لویه ګناه ده، او د خلقو لپاره په کې فایدې دي، او د دې دواړو ګناه ډېره لویه ده، د دې دواړو له فایدو نه».

بیا د منع تاکید راغی او شراب څښل یې د شیطان کار وشمیره چې ددښمنۍ او نفرت سبب کېږي، او د ښو کارونو او مسوولیتونو مخه نیسي، په قرآن کریم کې دخلکو نه پوښتنه شوی؟ آیا تاسې منع شوئ؟ خلکو وویل: مونږ بس کړي دي، مونږه بس کړې دي، او شراب د مدینې په کوڅو کې په قرآن کې د الله د امر د منلو لپاره توی شول.

## یوازې په بریتانیا یو کال کې:



- نږدې یو میلیون د تاوتریخوالي جرمونه د الکولو سره تړاو لري، په عمومي ډول قربانیانو د نظر مطابق دتاوتریخوالي دجرمونو نیمایي په شرابو پورې تړاو لري.
- په روغتونونو کې دبیړنیو خدمتونو او پېښو نږدې ۷ میلیونه دوسیې د الکولو سره تړاو لري، چې په کال د بریتانیا په مالیه ورکوونکو ۶۵۰ میلیونه پونډه بوج راولي.
- په لنډه توګه، په کال کې د الکولو پورې ټول تړل شوی د جرم او بلوا لګښت د ۸ نه تر ۱۳ ملیاردو پونډه د مالیه ورکوونکو په اوږو پروت دي.



# گناه او توبه

په ډیرو دینونو او عقایدو کې د خطا او رسا فلسفه له سترو فکري ستونزو څخه بلل کیږي، او دغه عقاید په خپلو کې د خطا او گناه، د توبې او پښیمانتیا په تړاو سره ډیر مختلف دي.

اسلام ډېر په باریکه سترګه بشري طبیعت ته ګوري په کومه کې چې الله د خیر او شر غوښتني پیدا کړي، نو اسلام د بشریت سره د فرښتو په څېر چلند نه کوي چې ګویا ګناه به نه کوي، بلکې دا خبره کوي چې هر انسان خطا کیدونکی دی، او له دي تر څنګ یې انسان ته خپلو پریکړو او کړنو بار وړپه غاړه کړي، او له دي ځایه د ګناه او توبې مفکوره په اسلام کې راځي چې لنډیز یې په دي ډول دی:

- لومړی خبره چې مونږ ورسره مخامخ کیږو په قرآن کې دا ده چې ګناه یو شخصي عمل دي او توبه هم یو شخصي عمل دي په ډیر څرګند او واضح تصور سره، له پیدایښت نه مخکې په انسان کومه ګناه نه ده تپل شوي، بلکې هر انسان له ګناه نه پاک پیدا کیږي، او هیڅ انسان نورو ته د بښنې او د ګناه معاف کولو حق نه لري، لکه څرنګه چې د آدم عليه السلام ګناه شخصي وه؛ نو خلاصون ورنه په سمدستي توبې سره وو په اسانه توګه. او همدا ډول د هغه د اولادو ګناهونه د هغوی شخصي ګناهونه دي، او د توبې دروازه خلاصه ده چې هر انسان ته د زیار او کوښښ لاربښوونه کوي او له ناهیلی او مایوسی څخه ژغوري، او هر انسان پخپله ګناه ګرم بولي او د بل چا په ګناه ګرم نه ګڼل کیږي، او پدې تګلاره ټول پیغمران راليږلي شوي







وو لکه قرآن چې وایي: ﴿ أَمْ لَمْ يُنَبَّأْ بِمَا فِي صُحُفِ مُوسَى • وَإِبْرَاهِيمَ الَّذِي وَفَّى • أَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى • وَأَنْ لَيْسَ لِلْإِنْسَانِ إِلَّا مَا سَعَى • وَأَنَّ سَعْيَهُ سَوْفَ يُرَى • ثُمَّ يُجْزَاهُ الْجَزَاءَ الْأَوْفَى﴾ (النجم: ٣٦-٤١) «آیا دوي ته په هغه څه خبر ندي ورکړل شوي چې د موسی په صحیفو کې دي* او د ابراهیم (په صحیفو کې) چې وفا یې کړې* چې هېڅ پورته کوونکی د بل بار نه پورته کوی* او نشته د انسان لپاره مګر هغه څه چې ده (یې) کوښښ کړی وي* او ده ته به نږدې وښودل شي* بیا به ورته بدله ورکړای شی، ډېره پوره بدله».



- توبه د الله په وړاندي يو لوي عبادت او هغه ته د نزديکت داسي لار ده چي ځانګړې کس پوري اړه نه لري، او نه کوم ځانګړي ځاي او نه د چا په مخکښي اعتراف يا د اجازې ته اړتيا لري، بلکې دا د الله او د بنده ترمينځ عبادت دي، او د الله له هغه نومونو او صفتونو څخه چې په قرآن کې راغلي «التواب الرحيم» چې ډير توبه قبلونکی او رحم کونکی دي او «غافر الذنب قابل التوب» چې د ګناه ښښونکی او توبه منونکی ذات دي، او قرآن مونږ ته د هغه مومنانو صفتونه راښايې چې جنت ته به ننوځي او د دېخلی کوي هغوي په ځينو ګناهونه کې اخته شوي وو خو له هري ګناه نه وروسته يې په چټکتيا سره توبي ويستلي او ښښنه يې غوښتلي ﴿الَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللَّهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ وَمَنْ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا اللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَى مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ﴾ (آل عمران: ١٣٥) «او مومنان هغه خلک دي چې کله د بي حيايی کار وکړي يا پر ځان تيری وکړي نو الله رایاد کړي او د خپلو ګناهونو ښښنه وغواړي، او له الله پرته بل هيڅوک ګناه نشي ښښلی، او دوي په خپلو ګناهونو ټينګار نه کوي په داسي حال کې دوي پوهيږي».

> په اسلام کې: داسی کومه ګناه نشته چې هغه د انسان د پېدائښ نه مخکی دی باندی وي بلکې هر انسان په داسی حال کې پېدا شي چېی ګناه څخه پاک وي.

- په اسلام کې توبي لپاره يواځي دا اړين دي چې ګناه پريښودل شي، او په پخوانی کړنو پيښمانه شي، او کلک هوډ وکړي چې بيا به دغه کړنه نه کوم، او که د بندګانو حقوق يې يرغمل کړي هغه به حقدارو ته وسپاري.. که چيري بيا يې ګناه وکړه نو مخکنی يې توبه يې نه ضايعه کيږي او نه وربانديې مخکني ګناهونه بار کيږي، بلکې تازه ګناه يې وکړه او بايد تازه توبه وباسي.

نو انسان په اسلام کې په همدي انډول کې ژوند کوي چې د بشپړتيا، پرمختګ او له ګناهونه څه د لريوالي په لټه کې به وي او که بشري طبيعت يې کمزوری شو او له سمي لار نه کوږ شو نو د سمون کوښښ به کوي؛ که د فعاليت او تقوی په حالت کې وي او که د ګناه او بي لاري حالت کې وي او هيڅکله به د خپل رب لور لاسه نه ورکوي بلکې الله ته به مخه کوي، توبه به ورته وباسي او ښښنه به ترينه غواړي..

او په همدي ځاي د نيکانو او د نورو توپير په ډاګه کيږي لکه څنګه چې قرآن مونږ ته خبر راکوي چې حقيقي توپير دا دي چې نيکان کله ګناه وکړي نو الله رایاد کړي او توبه ورته وباسي او نور خلک په خپلو ګناهونه ټينګار کوي او نه راويخيږي او نه پند اخلی ﴿إِنَّ الَّذِينَ اتَّقَوْا إِذَا مَسَّهُمْ طَائِفٌ مِنَ الشَّيْطَانِ تَذَكَّرُوا فَإِذَا هُمْ مُبْصِرُونَ • وَإِخْوَانُهُمْ يَمُدُّونَهُمْ فِي الْغَيِّ ثُمَّ لَا يُقْصِرُونَ﴾ (الأعراف: ٢٠١-٢٠٢).



# د دين او عقل دويالي

ځيني دا گومان کوي چې دين له عقل او له علمي تگلاري سره ټکر لري؛ ځکه د دوي په ليد د دين سرچينه اوهام، افساني او خرافات دي، په داسي وخت کې پوهه او فلسفه د يوي سيستماتيکې پوهي يواځنۍ لارې دي چې له باور ډک علم وړاندي کوي کوم چې د څېړني او سوچ او تجربي په شرائطو پوښل شوي وي.. او دا خبره له ژور سوچ نه وروسته په ځينی خطا او په ځينی رسا ولاړه ده.

دغه خبره پدې سمه ده چې ډیر داسې دینونه شته چې عقل له پامه غورځوي او کله ورسره تګراو لري، او د دغو دینونو سرچینې او کتابونه په افسانو او خرافي عقایدو ډک دي کوم د کائناتو او پوهې (سائنس) سره په ټکر کې دي.



او پدې ناسمه ده چې په ټولو دینونو داسې پریکړه او حکم کول چې د دینونو ترمینځ کلیدي توپیرونه ته پکې هیڅ اعتبار ندې ورکړل شوی؛ کوم چې سرچینو، مضامینو، تګلارو او دلایلو سره تړاو لری.

او په قرآن —چې د اسلام لومړی سرچینه ده- باخبره انسان په دې خبره په یقین سره پوهیږي چې اسلام عقل ته څومره لوړه مرتبه ورکړې چې بل هیڅ دین یې سیالي نشي کولاي، او پر قرآن پوهه انسان ته اړتیا نشته چې دا خبره په ډاګه کړي چې هغه عقل ته په فکر او سوچ کولو څومره تیزي ورکوي، تر دې چې قرآن دا استنکاري پوښتنه (تاسو ولې عقل نه کاروئ؟) دیارلس کرته تکرار کړي.



## د عقل کارونې ته د قرآن لارښوونې په لاندې کارونو کې ښکاري:

1

قران هغه انسان ته وینا ورکوي چې روښانه عقل ولري چې له هر ډول زوروالي، لویې او ویرې او ناپوهۍ څخه پاک وي، او په الله باندې د ایمان راوړلو واجب ګڼل په عقلي او منطقي دلایلو په ډاګه کوي، له هغې یو دا دی ﴿أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ • أَمْ خَلَقُوا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بَل لَا يُوقِنُونَ﴾ (الطور: ٣٥-٣٦) «آیا دوی پرته له کوم څیز نه پیدا شوي او که همدوی پیداکونکی دي* او کنه دوی اسمانونه او ځمکې پیداکړې، بلکې دوی ایمان نه».

2

د مخالفینو دلایل څیړي، او بې دلیله خبرې یې ردوي، قرآن وایي ﴿قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ﴾ (البقرة: ١١١) «ورته ووایه: دلیل مو راکړئ که تاسو ریښتیني یاست».

3

د هغه چا بدې وایي څوک چې خپل عقل نه کاروي، او له هغه چا سره یې مثال ورکوي چې د بیخي حواس ونه لري، ځکه دوی له هغه څه چې ګوري یې او اوري یې ګټه نه پورته کوي په خپلو پریکړو او غوراوي کې، قرآن وایي: ﴿أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَتَكُونَ لَهُمْ قُلُوبٌ يَعْقِلُونَ بِهَا أَوْ آذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلَكِن تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ﴾ (الحج: ٤٦) «آیا دوی په ځمکه کې ندي ګرځیدلي پداسې حال کې چې د دوی زړونه پوهیدلي او غوږونو کې اوریدلي، په حقیقت کې سترګې نه ړندیږي؛ خو هغه زړه ړندیږي چې په سینو کې دي».

4

قرآن له هغه موانعو څخه د ځان ژغورنې خبرداري ورکړي چې د انسان فکر ورسره مخ کیږي، او یواځې پدې یې بسنه نه ده کړې چې مونږ ته یې د حواسو او عقل کارونې لارښوونه کړې، بلکې مونږ ته یې د عقل د ښویدلو خبرداري راکړې، ځکه انساني طبیعت د خیر او شر په غوښتنو ولاړ دی، نو ځکه لارسته راوړنې له خطا او له حق نه کوږوالې سره مخ کوي کله له خوښې او کله له ویرې څخه.




## د قرآن کریم له مخې د سالم فکر خنډونه

- **دوه:** په میراث کې پاتې عقیده، منفي رویه او کرنه د انسان په عقلي او فکري طرز باندې ډېر اغیز کوي چې بیا ورته د حق منل ډېر ګران وي، او ښايي بیخي د حق فکرکول ورته ناشونې وي له دې له امله چې: زه خو په دې خبرو نه یم عادت او نه وربان‌دې زیږدلی یم، قرآن کریم مونږ ته د داسې خلکو پیښې رانښايي چې د حق پیروي په مقابل کې به يې همدای پلمې کولې: او هر کله چې دوی ته وویل شي چې د هغه حق پیروي وکړئ کوم چې د الله له لوري نازل شوي دي؛ نو دوی وایي: مونږ د هغه څه پیروي کوو چې مونږ وربان‌دې روږدي یو او له نیکونو راته راپاتې دي! قرآن کریم ورته په تبصره کې وايي چې آیا تاسو د نیکونو پیروي په هغه څه کې هم کوئ چې له عقل او پوهې سره په ټکر کې؟! پدې پلمه چې هغوی مو نیکونه دي!! ﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنْزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ﴾!! (البقرة: ١٧٠) «او چې کله دوی ته وویل شي چې د هغه څه پیروي وکړئ کوم چې االله رالیږلی وي؛ دوی وايي: مونږ د هغه څه پیروي کوو چې نیکونه مو وربان‌دې لیدلي وو، اګر که د دوی نیکونه په هیڅ شي نه پوهیدل او نه په نیغه لار وو».

- **سرتمبتوب او غرور:** هغه داسې چې کله عقل ته حق ښکاره شي خو له منلو يې سرغړونه وکړي د خپل ګټو، ځاي، یا حسد له امله. او یا کله هغه لوړ له کومي چې دي کس ته ترینه حق راغلی تیټ وګڼي، لکه څرنګه چې الله په قرآن کې د یوې ډلې په هکله ویلي: چې دغې ډلې په ښکاره له حق منلو انکار کړی سره له دې چې په زړه کې ښه پوهیدله چې دا حق دي، او له نه منلو لامل یې غرور او تیری وو ﴿وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا﴾ (النمل: ١٤) «او دوی له حق انکار وکړ په ظلم او لوی سره په داسې حال کې چې د دوی ځانونه وربان‌دې یقیني وو».

- **په خوندونو کې ډېبدل:** ډېر ځل عقل حق ومومي خو دا زړورتیا نه لري چې غوره يې کړي؛ ځکه هغه په خپلو خوندونو کې ښکیل وي. قرآن مونږ ته د داسې سړي بیلګه رانښايي چې ډېره پوهه ورسره وه، او هغه سره دا ښايي دله چې عمل يې وربان‌دې کړای وای، خو هغه له خپلي پوهي ځان بې ګټې کړ، او له د خپلي خوښي پیروي يې وکړه او لنډ مهالي ګټه يې رامخکې کړه، او د دې عمده لامل دا و چې ځان يې په خوندونو کې داسې ښکیل کړی وو چې د رغنده پریکون جوګه نه وو. ﴿وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ الَّذِي آتَيْنَاهُ آيَاتِنَا فَانْسَلَخَ مِنْهَا فَأَتْبَعَهُ الشَّيْطَانُ فَكَانَ مِنَ الْغَاوِينَ • وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَاهُ بِهَا وَلَكِنَّهُ أَخْلَدَ إِلَى الْأَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوَاهُ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ إِنْ تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَثْ ذَلِكَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا فَاقْصُصِ الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ﴾ (الأعراف: ١٧٥-١٧٦).

نو قرآن ټل انسان ته بلنه ورکوي چې له عقل کولو، پوښتنه کولو، لیدلو او عبرت اخیستلو څخه په خپل ځان کې او په کایناتو کې ګټه واخلي پرته له کومو شرطونو او قیدونو.

له پوښتنې او فکر خو هغه څوک ویریږي چې داسې څه پټ ساتي چې له عقل سره تضاد وي؛ او کوم چې ریښتوني دین دي نو هغه د الله لوري دي، کوم چې انسان پیدا کړی او د فکر ملکه يې ورکړې، او دا ناشونې ده چې د الله مخلوق دي د هغه له دین سره په تضاد کې وي، نو ولې له پوښتنې او د عقل له کارونې ویره شته؟ ﴿أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ﴾ (الأعراف: ٥٤) «خبردار یواځې هغه لره پیدایښت او پریکړه ده، برکتي دي هغه الله چې د ټول کاینات پالونکی دي».



# اسلام د سولې دين دی

یو شمیر خلک به حیران شي – د هغه څه په هکله چې په رسنیو کې تکراریږي – که دوي پوهه شي چې سولې په اسلام کې ځانګړې ځاي لري، مسلمان د سولې «سلام» توری او معنی په خپل ورځني ژوند کې څو ځله تکراروي.

«السلام» د الله له نومونو يو نوم دي، او په آخرت کې د يو جنت نوم «دار السلام» دي، د مسلمانانو روغبړ په سلام په کلمه پیل کیږي، او لمونځ يې په سلام کلمه پای ته رسيږي. او دا ټول په دې معنی دي د دین نوم مو «الإسلام» دی، چې د سولې او هوسایني معنی ورکوي.

او هر کله چې اسلام سولې ته بلنه ورکوي، او د يو بې وسه ساکښ (حیوان) حقونو ته دومره پاملرنه کوي، لکه رسول الله ﷺ چې مونږ ته خبر راکوي چې «أن امرأة دخلت النار في هرة، سجنتها حتى ماتت، لا هي أطعمتها وسقتها، ولا هي تركتها تأكل من خشاش الأرض» «یوه ښځه د يوې پیشکې له امله اور ته ولاړه، ځکه هغه يې ترلې وه، نه يې خوراک او څښاک ورکولو او نه چې پرېښودله چې د ځمکې میږي وخوري» (مسلم: ۲۲۴۲) «او یوه فاحشه ښځه چې يو سپي ته يې اوبه ورکړې وې جنت ته ولاړه» (بخاري: ۳۲۸۰). نو د انسان په حقونو کې دا يو داسې ناآشنا بیلګې دي چې په نورو دینونو کې مثال نشته – اګر که مونږ له هغوی سره په دین او فکر کې جلا یو-. ځکه خو پیغمبر ج له هغه کس سره دا ژمنه کړې چې په يو کافر ظلم کوي او داسې کار ورباندې کوي چې په وس کې يې نه وي چې دا کس به رسول الله ﷺ سره جګړمار وي (ابوداود: ۳۰۵۲).

خو کله چې اسلام سولې ته بلنه ورکوي نو هغه په پوره ټینګار سره داسې عادلې سولې ته بلنه ورکوي چې حق لرونکی ته خپل حق وسپارل شي، او تیری کونکی له تیری او غاصب له غصبه لاس په سر شي، نه داسې سوله چې غل ته غلا کړې مال ورکوي او د کور خاوند په ارزانه بیې په زوره رضا کوي.

پاتې شوه د د مصطلحاتو ژبه او د رسنیو کمپاینونه چې ډیر خلک يې د خپل نظر لپاره د بازار موندنې په توګه کاروي، او د هرې کیسې لپاره ډیر نقل کوونکي وي، خو ډیر لږ خلک د حقیقت د پلټنې بوج پر خپله غاړه باروي، او د رسنیو له کمپاینونو څخه سرغړونه کوي؛ تر څو کره معلومات له مورنۍ سرچینو ترلاسه کړي او د يو دریځ په هلکه په موضوعیت او انصاف پریکړه وکړي.

او د غور لپاره ستاسو مخ ته دا ځینې حقیقتونه ..





محمد صلى الله عليه وسلم عهد کړی چې که هر چا يو غیر مسلم سره ظلم وکړ او یا يې تکلیف وروړسوو او یا يې د هغه له توان څخه زیات کار تر وأخیستلو هغه څخه به په ورځ د قیامت زه دفاع کوم.

## نن اسلام تر ټولو زر خپریدونکي دین ګڼل کیږي:

اسلام سره له ډول ډول خنډونو په نړۍ کې په ډیره ناآشنا چټکتیا سره خپریږي، که څه هم امکانات لږي، مسلمانان له کمزورۍ سره مخامخ دي، د نړۍ ستري رسنۍ کوښښ کوي چې اسلام بدرنګ کړي په ناسمو معلوماتو سره، او د اسلام داسې نمونې وړاندې کوي چې اسلام سره هیڅ تړاو نه لري، نو آیا اسلام له دي امله خپور شوي چې خلک يې منلو ته اړ شوي؟ او که د هغوی په قناعت او خپلې خوښې سره؟

هغه حقیقت چې هر پوهه ورباندې قانع دي چې د مسلمانانو له لوري د نورو خلکو د حقوقو خوندي کول او د هغوی د خوښې او کلتوري درناوي کول د دي لامل شو چې پر نورو خلکو يې اغیز وکړ او اسلام لور ته مخ شو، او دا کړنه د مسلمانانو له لوري پر بل چا کومه پیزو نه وه بلکې د قرآن د دي قاعدې پلي کیدل وو ﴿أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ﴾ (الملك: ١٤) «د دین په منلو کې زور نشته، یقینا ښکاره ده سمه لار له ګمراهي څخه».

## آيا خلك اړ شوي چې اسلام راوړي؟

ډير ځل انسان خپل ځواک د خپلې ګټې ترلاسه كولو او د خپلې رايه د تحميل لپاره كارولې، او تاريخ د بيلابيلو اديانو او مفكرو لرونكو په هكله د داسي بيلګو ډک دی.

د مثال په توګه، كله چې لومړي ځل لپاره پيژندګلويانو او مهاجرينو نوي نړی (شمالي امريكا) استكشاف كړه او هلته ولاړل؛ نو د ځای اصلي اوسيدونكو په خلاف يې داسي چانيز او زړه بوږنونكي عمليات ترسره كړل چې په ليدلو يې يو آسپانوي قس «بارتولومي» داسي وايي: «دغه خلكو ځای اوسيدونكو ته بيخي د انسان په نظر نه كتل؛ بلكې هغوی يې له حيواناتو هم ښكته شميرل».

د سره پوستكو له مينځه وړلو لنډه شميرنه، ليكوال: بارتولومي دي لاس كاساس (۱ جنوري ۲۰۰۹م).

### د دې په مقابل كې مسلمانانو څه وكړل كله چې يې نوي هيوادونه فتح كړل؟



مسلمانانو پر هندوستان نږدې (۱۰۰۰) كاله حكومت كړی او ۸۰٪ وګړي يې مسلمانان نه وو:

مسلمانانو د هندوستان په ټاپووزمه نږدې زر كاله حكومت كړي او د ټولو اديانو اتباعو حقوق يې خوندي ساتلي، هر دول ظلم يې ترينه لرې كړي، ټول تاريخپوهان په دې ټينګار كوي چې اسلام په زور ندی خپور شوی او نه څوک اړ شوي چې اسلام په زور ومني.



د مسلمانانو ستر هيواد ته اسلام پرته له جنګونو او فوځونه راغلی:

اندونيسيا چې د مسلمانانو ستر پنډغالی ګڼل كيږي، او د اوسيدونكو نفوس يې له (۲۵۰) مليونو اوړي او ۸۷٪ سلنه يې مسلمانان دي، په هجري شپږمه پيړۍ كې چې كله مسلمانان تاجران هلته ولاړل او دوی يې نيک اخلاق وليدل نو دوی ترينه اغيزمن شول او اسلام يې راوړ، دوی تر هغې پورې د وينې تويدل نه وو ليدلي تر څو چې د برتګال، بيا هالنډ او بيا برتانيا ښكيلاكګر ځواكونه هلته نه وو رسيدلي.





مسلمانانو پر اندولس (اوسنی آسپانيا او پرتګال) ۸ پيړې حكومت كړي:

مسلمانانو پر اندولس (اوسنی آسپانيا او پرتګال) ۷۸۱ كاله (۷۱۱م نه تر ۱۴۹۲م پورې) حكومت كړي، او په خپل وخت كې د نړيوال تمدن غيږه وه، او دا يواځې نه چې كوم نصراني اسلام منلو ته ندي اړ شوي؛ بلكې ټول حقوق يې خوندي و، خپل تجارتونه يې درلودل، په دولت كې ورته لوړې چوكي وركړل شوي وي.

او كله چې ايزابيلا او فرنانديز پر مسلمانانو لاسبرى وموند؛ د اسلامي دين هره نښه يې وركه كړه، او د پلټني محاكم يې جوړ كړل چې هغه مسلمانانو ته سزاګاني وكړي كوم چې پر اسلام پټ پاتي دي.

مسلمانانو له خپلو كورونو او شتمنيو وشړل شول، او د پام وړ كار دا وو چې مسلمانانو سره يهود هم وشړل شول، هغوی هم له مسلمانانو سره د اسلامي هيوادونو په لور ولاړل او هلته يې له هوساينې او آبرو ډک ژوند پيل كړ.



مسلمانانو پر مصر له (۱۴۰۰) كالو ډير حكومت كړی خو د اقباطو خيال يې ساتلی:

د اسلام په پيل كې چې كله مسلمانانو مصر د عمرو بن العاص صحابي تر مشرۍ لاندې فتح كړ نه يواځې يې د اقباطو د دين او مقدساتو ساتنه وكړه؛ بلكې د روميانو له تيري او تبعيضي چلند يې وژغورل، اګر كه دوی په دين كې له روميانو سره يو وو خو مذهب يې ترينه جلا وو..

له همدغې اقباطو بيا خپله پشپړه ديني آزادي ترلاسه كړه، چې نن يې نفوس له ۵ مليونو ډير دی.



# د اسلام او د ځينو مسلمانانو د واقع تر مينځ

دا څومره ناوړه تناقض دي؟ دا پوښتنه ډېر خلک کوي، کله چې دوي د اسلام شرائعو حقيقت وپيژني کوم چې نيکو اخلاقو د ځمکې آبادي او بشريت د ګټې رسولو دعوت کوي، او د خلکو تر منځ سولې ته وده ورکوي، خو کله چې خپلو شاوخوا ګورې داسې نمونې چې اسلام ته يي نسبت کېږي د اسلام سره په ټکر کې ووينې ..آيا دا امکان لري چې دغه خلک دې د حق دين پيروان وي؟

## په حقیقت کې دا موضوع د حیرانتیا وړ ده، او په څو آرخونو کې ارام فکر او سوچ ته اړتیا لري:

- ټول هغه څوک چې د اسلام ته منسوب وي، یا په اسلام کې زیږیدلی دي د دین ټولو شعائرو ته ژمن نه دي، زمونږ شاوخوا په هر ځای کې د اسلام د لارښوونو او حقیقت څخه انحراف او نیمګړتیا شته دي، او داسې مسلمانان شته چې د اسلام یوازې او یوازې نوم پیژني.
- د خلکو تېروتنې د هغوی ادیانو او مذهبونو ته هیڅکله نه شي منسوب کیدای، دا کله هم امکان نه لرې چې داسې وویل شي: د هټلر استبداد او سرکشي د هغه ددین له وجه وه، یا نصرانیت تاوتریخوالي غواړي ځکه هټلر یو نصراني و، یا الحاد او بې دیني د خلکو وژلو سبب کیږي؛ ځکه جوزیف ستالین لسګونه میلیونه خلک ووژل او هغه ملحد بې دینه و... داسې ټول تورونه د موضوعیت دقت او حق نه لري دي.

> دا امکان نه لري چې د خلکو غلطیو په وجه د هغو دین او مذهب ته ګوته ونیول شي.



- خو داسې نمونې شته چې ټول یې په عظمت او ښکلا ګواهي کوي چې د اسلام حقیقت پلې شوی و، سوله وه، په ساینس او پرمختګ د نړۍ تاریخ ډک دي، په ختیځ کې د هندوستان نه نیولي تر لودیځ هسپانیا پورې، اثار تر اوسه مونږ ته ښکاري، مونږ چې کوم تمدن کې ژوند کو د هغه لپاره دلارې مشعل و، همدارنګې په هغو هیوادونو کې چې د پرمختګ د کاروان سره د یو ځای کېدو کوشش کوي داسې ژمني نمونې شته، هلته د نړۍ بېلابېلو هیوادونو کې د ساینس په ټولو برخو کې ځانګړې مثالونه شته.
- هیڅوک هم هغه حقایق نه ردوی چې ماډرن طب ثابت کړی، او د ځان درملنه نه پریږدی ځکه هغه خپلې خواته یو څو بد ډاکتران پیژني، او نه داسې څوک شته چې د تعلیم او پوهنې سره مبارزه شروع کوی او خپل ماشومان منع کوی ځکه داسې مکتبونه او ښوونکې پیژنې چې دې عزتمند مسلک ته یې سپکاوی کړی دي.. مهمه د کار حقیقت دی او ناوړه نمونو ته څه اعتبار نشته دي.

خو عجیبه داده چې د اسلام په خلاف د خپلو او دښمنانو د سخت چپاوونه سره بیا هم ډېر خلک کولای شی چې د اسلام اصلی صحې سوتره نسخه باندې پاتې شي، او تر اوسه د نړۍ په ټولو هیوادونو کې خلک اسلام ته ننوځي.

> هېڅ څوک هم د تعلیم پر ضد نه دي او نه خپل اولاد له دی څخه منع کوي، یوازې دا خبره کول چې مونږ استاذان او مدارس پېژنو(چې څومره اوبو کې دي) او دغې دندی ته په بده سترګه کتل شوي دي.



## یوه نوې زاویه

څو ځله تاسو د یوې پریکړې په کولو کې زړه نازړه شوی یاست، او فرصت مو بایللی دي، خو تر ننه بیا ځان په هغه تردد ملامتوي.

د انسان ستر عزت د هغه آزادۍ او د خپلې ګټې لپاره د ویرې پرته د پریکړې کولو توانمتیا ده.

کله چې د ننګونو خنډونو په وړاندې ثابت پاتې کېدل زړه ورتیا ده او د خاوند قدرداني یې کېږي، نو د پرېکړې د کولو جرئت چې کله په کې خپله ګټه ووینې، او په غلطۍ د اقرار جرئت کله چې حق ورته ښکاره شي، دا دهغې نه غټ کار دي، ځکه دا د نفس په وړاندې زړورتیا ده، د کبر او (انا) په وړاندې بریا ده، چې خاوند به وروسته په خپل نفس او شخصیت اغېزې وموندی.

کله چې د اسلام د خپلو سرچینو شخه وپیژنده نو څه چې مو ولوست په هغه کې سوچ او فکر وکړئ

که د دي دین ښکلا او رونق درته ښکاره شوی وي، او اوس هم د اسلام د حقیقت په اړه د لا زیاتو څېړنو او پوښتنو ته اړتیا لري، نو په وړاندې د لوستلو معلوماتو کولو او ډیالوګ او پوښتنو یو پراخه مجال شته خو باید پیل په بله سترګه او په بله زاویه وکړئ..







زمونږ لپاره شرف ده چې کتاب مو مکمل ولوستلو او امید لرو چې بأید سختی (جدي) پوښتنې وي یا تاسو سره چې کوم افکاروي هغه ته مو وهڅوی یا په موافقت سره او یا په مخالفت، ستاسو اعتراض او سوال او یا مشوره مونږ خوشحالوي، او مونږ وعده درکوو چې ښه پاملرنی سره به یی استقبال کړی.

LAUNCHING
CURiOSiTY
JUST SCAN IT.!!

THISISLAM.net

خپله تجربه دې
موږ سره شریکه کړه









- آیا تاته دا مهمه نه ښکاري چې د یو داسې دین چې انځور یې په رسنیو کې ډېر ستونزمن ښکاري په ډېره ډاګیزه بڼه وګورئ؟..
- آیا دا لائقه نده چې یو شېبه ولاړ شئ په ژوره بڼه هغه دین چه د نړیوالو شمېرنو موافق په ډېره چټکې په خپرېدو دي، او ډېر زر یې خلک منې وپېژنئ؟..
- آیا د نورو قومونو د کلتورونو او فلسفو څخه په ځان خبرولو خوند نه اخلئ چې هغوی یې د دین ژوندانه او نورو موجوداتو باره کې لري؟....
- آیا ځان ته د دې فرصت ورکوې چه د دین اسلام په باره کې کره معلومات له خپلو سرچینو نه لاس ته راوړې، او بیا پرې د خپل عقل او منطق فیصله وکړئ؟

**که چیرته ته اوګورې او یا یو مهم شی له دی څخه، او یا زړه پوری شی، نو دا کتاب به تا سره کمک اوکړي.**

9 786030 313976

LAUNCHING CURiOSiTY JUST SCAN IT.!!

MODERN GUIDE

THIS IS ISLAM

THISISLAM.net